# روښانه ستوري

(تحقیق او تنقید)



درمان علي خیل

"روښانه ستوري" د علمي څېړنکار، نقاد او شاعر درمان علي خېل يوه په زړه پورې هڅه ده. دهٔ د خپلې خوښې يو څو غوره شاعران چون کړي دي او د هغوي په حقله ئې ډېر کتور او څه نوي زړهٔ خيالونه او بلها معلومات په ډېر زړهٔ چناؤدون او کرلو راټول کړي دي. ددوئي د تخليقي جوهر او فني سفر ئې زور تنقيدي جاج اخستئ دے. د شاعرانو د انتخاب نه ددهٔ د فکري بلوغت او ددغه هستيو سره د عقيدت سرګندونه کيږي.
.......ښاغلي درمان شهزاده چې د خپل دور د کومو تاريخ ساز شاعرانو انتخاب کړے دے په دوئي کښې اکثر د خپل رنګ او انداز له برکته په پښتنه دنيا کښې ښکاره نامه جامه لري. دغه رنګ معلوماتي، تنقيدي او تحقيقي کتابونه پکار دي چې د ادب طالبعلمانو او مينانو له په ډېرو ډېرو تر لاسه کېدے خکه چې د يو اديب د قلمه وتي معلومات د خپلو ملګرو يا مشرانو د پاره ډېر مستند او غوره وي. هيله ده چې ښاغلے به خپل دغه انداز په رانلونکي وخت کښې نور هم پوخ کړي او د پښتو ليسلي په مينه به د پښتو د آسمان ستوري راوړي. روښانه ستوري به ددهٔ د ادبي ژوند يو يادګار کتاب وي او دے به په ړي تل وياړي.

مننه

په درناوي
اباسين يوسفزے

DMCA.com
PROTECTED & MONITORED

Uploading to other domains or freeware drives is prohibited

Pukhto.Net
پښتو

# روښانه ستوري

(تحقیق او تنقید)

درمان علي خیل

نظر ثاني : **شېر زمان سیماب**

## حقوق محفوظ دي


❋ نوم ـــــــ روښانه ستوري

❋ ليکوال ـــــــ درمان علي خېل

رابطه نمبر ۰۳۴۶۹۱۸۳۳۸۳

❋ نظرثاني ـــــــ شېرزمان سيماب

❋ د چاپ کال ـــــــ ۲۰۱۳ء

❋ شمېر ـــــــ ۵۰۰

❋ بيعه ـــــــ درې سوه (۳۰۰) روپۍ

❋ ټائټل ـــــــ نقيب احمد جان

❋ کمپوزر ـــــــ ارشاد خان (پښتو اکېډيمي)

❋ چاپ ځائے ـــــــ

❋ خورونکي ـــــــ رڼا پښتوادبي ټولنه اله ډهنډ ډهېرۍ

د ملاويدو درك

⌫ يونيورسټي بک ايجنسي خېبربازار پېښور ښار

⌫ د پښتو اکېډيمۍ د کتابونو دُکان پېښور يونيورسټي

⌫ رڼا پښتو ادبي ټولنه اله ډهنډ ډهېرۍ

# ترون

د خپل والد بزرګوار

ملک محمد رسول خان

په نوم

درمان علي خېل

# سينګار



| شمېره | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ★ | د ليکوالو تاثرات | |
| 1. | پروفېسر محمد نواز طائر | ۵ |
| 2. | پروفېسر اباسين يوسفزے | ۱۴ |
| 3. | شېر زمان سيماب | ۱۷ |
| 4. | محمد جميل کاچوخېل | ۲۰ |
| 5. | وضاحت او مننه درمان علي خېل | ۳۳ |
| ★ | **مقالې** | |
| 6. | اجمل ختټک | ۳۷ |
| 7. | قمر راهي | ۵۹ |
| 8. | پروفېسر محمد نواز طائر | ۸۳ |
| 9. | ډاکټر محمد اعظم اعظم | ۱۲۰ |
| 10. | اندېش شمس القمر | ۱۳۸ |
| 11. | محمد اقبال اقبال | ۱۵۲ |
| 12. | اکرام الله ګران | ۱۷۵ |
| 13. | پروفېسر محمد اسلام ارماني | ۱۹۷ |
| 14. | رحمت شاه سائل | ۲۲۴ |
| 15. | اباسين يوسفزے | ۲۴۷ |
| 16. | کتابيات | ۲۷۵ |

بسم الله الرحمن الرحيم

د پښتو ادب د ګلستان زلمے ماليار درمان علي خېل د ګلبوټو قدردان چې تېره هفته خپل تحقيقي کاوش او د خپلې بې کچه مينې د سوغات يوه ګلدسته ماله راوړه او دا عنديه ئې هم ورسره ښکاره کړه چې يو نظر دې ورباندې تېر کړم او خپله رائې دې هم ورباندې څرګنده کړم ـ نو زۀ په شش و پنج کښې هغه وخت پرېوتم کله چې مې خپل ځان هم په دغه هنداره کښې په نظر شو ـ ما وېل عجيبه ده زۀ خو چې فکر کوم نو زما ديدوان خو ماته نور نور څۀ وائي او درمان رانه د نور څۀ تقاضا کوي ـ چې دا هغه تيروځي کۀ زما نظر څۀ نور دے چې هسې خو د سترګو وړاندې زما ډېره دنيا تېرېږي ـ څۀ په تورتم کښې ګرځي ، څۀ په رڼا تېرېږي ـ ځينې بشرې وينمه کاږۀ مخونه د چا ، څۀ کږې خولې وينمه څۀ نظرونه د چا ، زۀ چغر سترګے يمه کۀ هنداره کږه ده ؟ هر څۀ کاږۀ واږۀ دي ـ لکه د اوښ لينګي دي ـ په دې هېڅ نۀ پوهېږم چې دا شيشه ماته کړم که لاس په سترګو کېږدم دومره مې وس نه لرم چې کږې خولې سمې کړم ـ

نو په داسې حال کښې زۀ د درمان تقاضا څۀ رنګ سرته رسولے شم ـ ولې ماته د هغۀ مخ د خلوص مرقع ښکاري ځکه نو د خواهش احترام ئې هم په ما لازم دے ـ په دې چې د هغۀ دې کاوش مې ډېرې تېرې هېرې راته بيا راپه ياده کړې دي دا ځکه چې د ملک د ازادېدو د ګوتو د شمار څو کلونه لانۀ وو تېر شوي چې زۀ چې کله د خپلو نورو طالبعلمانو ملګرو سره د ګاونډي ملک هندوستان په تعليمي دوره لاړ ووم نو د دواړو ګاونډي ملکونو تر مېنځه د زړۀ بداوي او تاؤ تريخوالي په موجوده فضا کښې لا د برداشت او خېر سګالۍ يو تت شان عنصر لکه چې بيا هم موجود وو ـ د تېرو وختونو خواږۀ يادونه لا څۀ نه څۀ داسې وو چې د سود پېرزوئنې احساس به ئې بيدارو و ـ ځکه نو کله چې مونږ په مسلم يونيورسټي عليګړه پېښه اوکړه نو داسې مو محسوسه کړه لکه چې خپل کلي کور ته راغلي يُو ـ

دا هاغه موقع وه چې ددغې يونيورسټۍ د يو طالب علم له خوا راته يو کتاب د پښتني ارمان په نوم د کتو دپاره تر لاسه شو ـ په دغه کتاب کښې د هاغه ورځو د نومړو پښتنو شاعرانو د کلام ډېرې نمونې او معرکه آراء نظمونه چاپ شوي وو ـ ښاغلي درمان ددغه ټولو نومونه په څۀ نا څۀ رنګ کښې په خپل دې کتاب کښې ذکر کړي دي ـ ما په دغه کتاب کښې يو داسې شعر هم اولوستو چې په زړۀ دپاسه مې نقش شو ـ د

شاعر نوم ئې نۀ دے راته ياد ولې هغه شعر لانن هم راته داسې ياد دے چې :-

مونږ د ژوند د پيشمني ورستۍ ډيوې يُو
پس له مونږ به په وطن رڼا رڼا وي

برخوردار درمان علي خېل راته يو ځل بيا هاغه منظر رامخ ته کړو ـ زما د طالبعلمۍ د ورځو هاغه درونډ خوږ او په هر لحاظ د احترام او درناوي لايق ملګرے زما د عمرونو اشنا پروفېسر جهانزېب نياز د فخر افغان باچا خان خورئي هم زمونږ په دغه ډله کښې شامل وو ـ هغه زمونږ طالب علم سرخېل وو ـ د يونيورستۍ درې تنه پروفېسران هم راسره وو ـ نن هم مونږ دواړه لاشکر دے د استاذ غالب په قول د هاغې شمعې په مثال يُو کومه چې :-

"ہر رنگ میں جلتی ہے سحر ہونے تک"

مونږ دواړو ډېر کلونه د نفرتونو په خارستان کښې د ګلونو کرلو هڅې کړې دي ـ ډېرې اوچې څانګې زمونږ په لاس تاندې شوي او ګل شوي دي ـ مونږ دواړو په خپل خپل انداز خپله وظيفه سرته د رسولو حتمي کوشش‌ونه کړي دي او اوس چې د ژوندانۀ په دې ورستو پاتکو مو پښې ايښې دي نو په قول د قمر راهي داسې راته محسوسېږي چې :-

زمونږ ملګري خو څهٔ مرهٔ دي څهٔ په مړو حساب دي
دلته خپل ځان ته اوس حېران يُو چې مونږ ولې ناست يُو

نهٔ شم وئيلې چې د ژوند د پيشمنې په هاغه ډيوۀ کښې به لانن هم کومه ډيوه چرته بليږي او کهٔ نه ! البته دا مې ياد دي چې دغه ټولې بليدونکې ډيوې او روښانه شمعې د اولسي ادبي جرګې د محفلونو وې ـ د پېښور دغه ادبي ټولنه زمانې اوشوې چې د تاريخ حصه شوې ده او هاغه څوک چې ورسره مل تړل وو په هغوي کښې اکثر د بخښنې شوي دي.

مونږ چې کله د اسلاميه کالج پېښور د درشل نه پښه واړوله او په لوئے لاهور اولګيدو نو دغه جرګه هم لکه چې رنګه شوه. اوس د ملک سياسي اداره د سازشي عناصرو د اور بتي ته پريوتې ده. پېښور اوس هاغه پېښور نه وو چې ورپورې به ويلې شول چې :-

تـــهٔ بختـــور ئـــې پېښـــوره
د مـــور و پـــلاره مـــرور تالـــه راځينـــه

د پېښور ځائے اوس لوئے لاهور نيولے وو ـ د ملک د لويديزې برخې نه يو يونټ ساز کړے شوے وو. په يوه چاړه دوه ذبيحې شوې وې ـ هم ئې نمر ختيزه برخه راپرزولې وه او هم ئې د لويديزې سمې مشاده ورانه کړې وه. هم دغه د پښتني ارمان هاغه ورځې وې چې د نوؤ عزائمو خاوندانو پکښې د روښانه مستقبل لارې څارلې.

د درمان په دې کتاب کښې ځينې داسې نومورې شخصيات زما مخې ته راغلل چې د خپل ارماني ژوند ډېر کلونه او د ښې بدې د ناستې پاستې ملګرے پروفېسر ډاکټر محمد اعظم اعظم او د قندر د ادبي توشه خانې دروند خوږ مدير او ادب پال قمر راهي داسې نومونه دي چې هيڅ کله هم د نظر انداز کېدو نۀ دي۔

ډاکټر اعظم مرحوم پوره دوه کاله په پښتو شعبه کښې د طالب علمۍ په ورځو کښې زمونږ ټلګرے ملګرے وو ۔ما په دغه ورځو کښې مو وقتي تدرسي وظيفه په اسلاميه کالج کښې ترسره کوله ۔هم زما په خواهش د کالج د هاغې وخت پرنسپل څوک چې په يو وخت کښې زما يو محترم استاد هم وو۔ اعظم ئې په عارضي جوړ له زما امدادي ملګرے کړو۔ بيا چې کله زۀ بېرته پښتو اکېډيمي ته ستون شوم او هغۀ د ايم اے سند تر لاسه کړو نو هم هلته په مستقل جوړ له پاتې کړے شو۔ او تر هاغې وخته ئې په دغه اداره کښې خپل خدمات تر سره کول تر څو چې ئې پېښور يونيورستۍ ته د خدماتو حاجت نۀ وو پېښ شوے۔

ښاغلے قمر راهي کۀ څۀ هم په مردان شوګر ملز کښې وو او د خپلو نورو ذمه وارو سره ئې د ,,قند ،، رسالې د مدير په حېثيت خپل منفرد مقام هم پېدا کړے وو او په دغې حواله ورسره زمونږ د نوي کهول تړون او تعلق داسې وو چې مونږ به

ورباندې فخر کوؤ ـ د راهي نوم د هاغې وخت د بدليدونکو ادبي تقاضو يو نمائنده مثال وو ـ هغه دا ادب برائے زندگی د لارې لاروے وو ځکه خو ئې راهي تخلص د ځان دپاره خوښ کړے وو ـ هغه د پښتو ادب د جديدو تقاضو يو داسې راه نورد وو چې د ژوندانۀ د پېشمني بله ډيوه ئې تل په لاس کښې وه او د سباؤن د رڼا منتظر وو ـ

بيا اجمل خټک ځوک چې د خپل ادبي مقام او شاعرانه عظمت نه په پرته د سياسي غورزو پرزو يو نۀ ستړے کېدونکے لوبغاړے وو او د خپل پښتني ارمان ترسره کولو د لارې راه نورد مسافر وو ـ د هغه سره زمونږ تعلق څۀ داسې نۀ وو چې کله د هېرولو د ے ـ هغه چې کله په فارسي ادب کښې د ايم اے کولو تکل اوکړو نو زما سره ئې براه راست تړون پېدا شو ـ کوم کتابونه چې به ئې ددې مقصد دپاره پکاريدل هغه به ورله ما راپيدا کول ـ محترمې مېرمن ياسمين هدايت الله ځوک چې د خپل ملازمت په ورستو کلونو کښې د پېښور يونيورستۍ د ښځو د کالج پرنسپله وه ـ هغې محترمې چې کوم نوټس او ادبي ياداشتونه د خپل ځان دپاره تيار کړي وو او وروستو ئې بيا ما له راکړي وو هغه مې هم ټول د خټک صېب د سهولت دپاره هغۀ له ورکړي وو ـ او هغۀ ورنه استفاده کړې وه ـ ما په دغه ورځو کښې په خپله د فارسي ادبياتو د ايم اے سند تر لاسه کړے وو ـ دا د کال ۱۹۲۱ء خبره ده ـ بيا کله چې

هغه د سیاست په پوړو په پورته ختو او یو داسې مقام ته اورسېدو چې د قومي اسمبلۍ غړے شو او هم د خپلې سیاسي ډلې سربراه کړے شو نو هم په هاغه ورځو کښې د هغهٔ په مشرۍ کښې په کال ۱۹۹۱ء کښې د پاکستان د ادیبانو د وفد د چین د دورې په موقع ورسره زهٔ هم ملګرے ووم. په دغه موقع زمونږه ټول نشست و برخاست شریک وو. او دا چې وائي چې د سړي د شخصیت او مقام اندازه چاته په دوؤ موقعو په صحیح جوړ له لګېدے شي. یو چې په کاروبار کښې سره شریک شي او بل چې د سفر ملګرتیا ئې یوه شي.

زمونږ په دغه اوږد سفر کښې د محترم اجمل خټک رهبري او مشري زمونږ د ټولو په نظر کښې مثالي وه. هغه لکه د یو دروند خوږ مشر او راهنما خپله دغه ذمه واري داسې په بې وټه او سپېځلي انداز کښې سرته رسولې وه چې ددغې وفد یو ملګري ته ئې هم چرې د ګیلې یا شکایت موقع نهٔ وه ورکړې. حالانکه مونږ ټول د ملک د بیلو بیلو برخو نه راټول کړے شوي وو. او د ټولو منفرد مزاج په خپل ځائے مسلم وو. بیا په تېره تېره د محترم مشر منیر نیازي طبیعت خو لکه د مغلیه شهزادګانو وو.

د بل درانهٔ وړل داسې اسان خو نهٔ دي. ولې د خټک صېب په مزاج کښې دا خوبي وه چې هره خبره ئې برداشت کولې شوه. هغه یو په ټول پوره پښتون مشر وو او د باچا خان د

فلسفې علمبردار وو ـ په ګفتار او کردار دواړو په هر چا بر وو ـ هم لوئے شاعر وو هم لوئے ادیب ، سیاستمدار او نر بهادر پښتون دوست وو ـ د هغوي د وفات په ورځ زۀ ډېر لرې د امریکې په فلوریډا ریاست کښې مېشتۀ ووم ـ هم هلته مې د هغۀ د وفات حسرت آیات خبر په انټرنیټ اولوستو او هاغه تېر هېر شعر مې بیا راپه یاد شو چې :

موږ د ژوند د پیشمنې ورستۍ ډیوې یو
پس له موږ به په وطن رڼا رڼا وي

بیا مې د نوموړي مسافر شاعر نادار درپخېل دا غمیزه راپه زړۀ شوه چې :-

نۀ مې په سترګو ستا کفن لیدلے
نه مې ستا مرګ او زنکدن لیدلے
نۀ مې د ستا د قبر لار اولیده
نۀ مې په خاورو کښې دفن لیدلے
اوس چې بیا کله خپل وطن ته درشم
دا ستا مزار به زۀ چې وپېژنم؟

د مشرانو په دې ډله کښې اباسین یوسفزے خو نۀ راځي ولې بیاهم زما دپاره په دې ډېر ګران او محترم دے چې مرحوم والد بزرګوار ئې زما د سکول ملګرے وو ـ دا هاغه زمانه وه چې د دیر په ریاست کښې په جدید تعلیم قدغنونه وو ـ ولې د هاغه ځائے ځینو دور اندیشه مشرانو خپل بچي د ریاست نه

بهر په دې غرض استول او په دوئي کښې به زيات زمونږ د کلي په سکول کښې زير تعليم وو .په دغه نوي کهول کښې زمونږ يو ملګرے د خانپور ټيکنړي يو خانزاده برادر خان هم وو .مسلم شاه عرف اباسين د هغهٔ فرزند ارجمند پروفېسر، شاعر او د هر دلعزيز شخصيت مالک دے .هغه په خوئي په رنګ ښائسته يو مثالي پښتون دے .کاش پښتانهٔ زلمي د هغهٔ په پل روان شي.

زهٔ درمان علي خېل ته د هغهٔ په دې کاوش تبريک وړاندې کوم.د هغهٔ دا تکل د ستائنې وړ دے.دا لوئے غنيمت دے چې د خپل کوم داسې عمل يا کردار د مخه څوک د خپل دور د يو سپېځلي نمائنده په حېث د چا په يادو کښې راشي.

Pukhto.Net پښتو

وما علينا الاالبلاغ

محمد نواز طائر
ټيکاؤ منزل تاڼه
۳۰/ ۵/ ۲۰۱۳ء

# د درمــان ســتوري

,, روښانه ستوري ،، ، د ځلمي ځېړنكار ، نقاد او شاعر درمان علي خېل يوه په زړه پورې هڅه ده . دۀ د خپلې خوښې يو څو غوره شاعران چوڼ كړي دي او د هغوي په حقله ئې ډېر ګټور او څۀ نوي زاړۀ خيالونه او بلها معلومات په ډېر زړۀ چاؤدون او كړاؤ راټول كړي دي . د دوئي د تخليقي جوهر او فني سفر ئې ژور تنقيدي جاج اخستے دے . د شاعرانو د انتخاب نه ددۀ د فكري بلوغت او ددغه هستيو سره ددۀ عقيدت څرګندونه كيږي .

په تخليقي هنرونو كښې ادب او بيا په تېره تېره شاعرۍ ته مونږ د تخليقي هنرونو سرخېله وئيلے شو . په ادب كښې عموماً ابلاغ د ژبې په وسيله نېغ په نېغه كيږي او په خصوصي توګه د شاعرۍ زور په هر ډول منلے شوے دے . ځكه چې د شاعرۍ په لار خيالونه په تُندۍ تيزۍ او شوخۍ

خپـل مقصـد او مـافي الضـمير بيـانوي ـ د تـرنم ، غنائيـت او موسيقيت په زور لوستونکي او اورېدونکي څۀ چې ويـونکي هم مست ساتي ـ مني ئې پرې ، متـاثره کـوي ئـې پـرې او د ځـان سره ئې کلـک ملګري کـوي هـم ، د ژونـد د کړکيچونـو سـره د مقابلې تـوان وربخښـي او د خېـر ښـېګړې او خواخوږۍ عظـيم کـار تـه ئې چمتـو کـوي ـ دغـه خلق پـه ژونـد کښـې د کـوټلي ، سپېځلي او په زړۀ پورې بدلون راوستلو جوګه کيږي ـ د کرکـې نه کرکه او د سوکالۍ وده د دوئي د ژوند برخه جوړيږي ـ

څۀ رنګه چې دا ويړ کائنات په يو توازن ، ترتيب او تولـه کښـې روان دے خپـل روزګـار کـوي ـ دغـه کمـال پـه شـاعرۍ کښې هم دے او د شاعرۍ دغه عظمت او رنګ په مذهبي او اسماني کتابونو کښې هم ښکاره ځليږي ـ

ښاغلي درمان شهزاده چې د خپـل دور د کومـو تـاريخ سازه شاعرانو انتخاب کړے دے ـ په دوئي کښې اکثر د خپـل رنګ او انداز له برکته په پښتنه دنيا کښـې ښـکاره نامـه جامـه لري ـ دغه رنګ معلوماتي ، تنقيدي او تحقيقي کتابونه پکـار ده چې د ادب طالبعلمانو او مئينـانو تـه پـه ډېرو ډېرو تـر لاسـه کېـدے ځکـه چـې د يـو اديـب د قلمـه وتـي معلومـات د خپلـو ملګرو يـا مشـرانو دپـاره ډېـر مسـتند او غـورزي وي ـ هيلـه ده چې ښاغلے به خپل دغه انداز په راتلونکي وخت کښـې نـور هـم پوخ کړي او د پښتو ليلى په مينه بـه د پښـتو د اسمـان سـتوري

راوړي۔ روښانه ستوري به ددهٔ د ادبي ژوند يو يادګار کتاب وي او دے به پرې تل وياړي۔

مننه

په درناوي

اباسين يوسفزے
چئرمين پښتو څانګه
اسلاميه کالج پوهنتون
پېښور
۱۱ستمبر ۲۰۱۳ء

Pukhto.Net
پښتو

# روښانه ستوري

## ادبي زيار

ښاغلے درمان علي خېل زمونږ د نوي کهول هغه نوخېزه غوټئ ده چې خپلې فکري خوشبوګانې ئې د خپل منظوم تخليقاتو د لارې خپل اولس ته وړاندې کړې دي ـ او په مختلفو موقعو او حوالو ئې د خپل شعر خواږۀ په مونږ پېرزو کړي دي ـ

د ښاغلي په ادبي خدمت کښې د رڼا ادبي ټولنې هلې ځلې ، مشاعرې او سيمينارونه هم شامل دي او د ملګرو د شعري مجموعو ترتيب او تدوين هم او دې سره ئې د خپلو ملګرو د تذکرې ,, رڼا پلوشې ،، د اشاعت کارهم سرته رسولے دے چې پښتو ادب له ئې په ځان د ناز کولو موقع ورکړې ده ـ

درمان علي خېل دا وخت په پېښور يونيورسټئ کښې د پښتو څانګې د پي ايچ ډي ريسرچ سکالر دے او د شعر د ګلشنونو نه د تحقيق هغه دشتو ته اوړېدلے دے چې تګ پکښې ډېر کړاؤ او زيار غواړي ـ ولې وئيلې شي چې د نر

ماشوم ژړا په ځانګو کې پېژندې شي او دادې ښاغلي د خپلو لويو شاعرانو اديبانو او دانشورانو په ژوند او فن دومره زړه پورې تحقيقي مقالې ليکلي دي چې د پي ايچ ډي کولو نه وړاندې ئې د خپل تحقيق بخري ونوستل.

ګران درمان يو خواري کښ زلمے دے او دا مقالې ښاغلي د يو ريډيو چينل دپاره ليکلې وې حالانکې د ميډيا دپاره سکرپټ ليکلے شي چې د هوا په چپو خور شي او عام اولس د ابتدائي معلوماتو نه اګاه شي. ولې دهٔ داسې نهٔ دي کړي دا مقالې به ما هغه وخت لوستلې چې دهٔ به تيارولې او ريډيو ته به ئې وړې. د يوې يوې مقالې دپاره به تانه اولسي کتابتون ته راتلو په ګېنټو ګېنټو به ناست وو او لکه چې د ريسرچ يو طالبعلم خپله تحقيقي مقاله ليکي داسې محنت او خواري به ئې کوله. ما هغه وخت دهٔ ته وئيلي وو چې دا مضامين خراب يا ضائع نهٔ شي او کهٔ وخت راغے دا به چاپ کوے دا ستا ادبي خدمت دے او خدائے هغسې وکړهٔ. دا موقع ئې راوسته چې ښاغلي دا مقالې ستاسو لاسو ته در ورسولې. ددې مقالو د اهميت اندازه خو به ددې نه لګي چې د خپلو محترمو ادبي هستو په حقله ګڼ مصدقه معلومات لري. مصدقه په دې وايم چې دا د دوي په ژوند راغونډې شوې او نشر شوې دي. کهٔ څهٔ کمے کوزے پکښې وے شايد چې هغوي ئې بيا هم اصلاح کړے وے. او بله دا چې دا ددې زلمي

د خپلې ژبې سره مینه ده چې د بې روزګارۍ باوجود د خپل جیب خرچ په پیسو ئې د پښتو کتاب چاپ کړو نو باید چې وقدرولے شي۔

ښاغلے درمان لکه څنګ چې ووئیلے شو چې خواري کښ زلمے دے ۔نو مونږ ترې په را روان وخت کښې د نورو تحقیقي کارونو هم طمع لرو ۔چې د خپلې ژبې او ادب زړۀ پورې خدمت وکړے شي۔

په درناوي

شیر زمان سیماب
پښتو اکېډیمي
پېښور پوهنتون
۲۲ مئی ۲۰۱۳ء

Pukhto.Net پښتو

# د درمان انتخاب

مالـه چـې کلـه درمـان علـي خېـل د خپـل تحقيقـي او تنقيـدي کتـاب دا مسـوده راکـړه او بيـا ئـې پـرې ماتـه د ليـک دپاره حکم هم اوکړو .نو مـا ورتـه ډېـر اخـوا دېخـوا اوکـړل .پـه زړګونو بهانې مې ورته اوکړې.داسې نه چې ګڼې زمـا پـه زړهٔ کښې د درمان علي خېل د حکم نافرماني وه.ځکه چې درمـان علي خېل زما کشر ورور دے.په ما ډېر ګران او نيازبين دے. په خپله ډېر خوږ ، عـزت منـد ، قـدردان او خـوږمن زلمے دے . زمـا د بهـانو سبب ضرف او صرف دا وو چې زهٔ خپـل ځـان ددې جوګه نهٔ ګڼم.خو ولې چې قلار نهٔ شو نو مـا دا مسـوده ډېـره پـه غور د زړهٔ په سترګو اولوسته.اول خو زهٔ ډېر حېران شـوم ځکـه چې ددې نه مخکښې مـا درمـان د يـو ډېـر ښـهٔ ځلمـي شـاعر پـه حېث پېژندو.د درمان شاعري واقعي د ستائنې حقداره ده خو ولې ما نن د درمان يو بل اړخ اوليدو او هغـه د درمـان تنقيـدي شعور ، د تحقيـق زيـار او ذوق سـليم دے .دا کتـاب ,,روښـانه ستوري ،، د لسو شاعرانو اديبانو تذکره ده او ددې کتاب کوم اړخ چـې زهٔ ډېـر متـاثره کـړے يـم هغـه د درمـان انتخـاب دے .

ځکه چې انتخاب کول هېڅ کله هم اسان کار نۀ دے۔ د پښتو د ادب په زرخیزه ګلستان کښې چرته چې بې شمېره زړۀ راښونکي ګلونه دي۔ بیا ګلونه هم داسې چې هر ګل د خوشبو په ژبه او د رنګونو په جامه وائي که یم نو زۀ یم ۔ددې ګلستان هر یو ګل په زړۀ پورې د نیولو دے ۔د هر یو ګل رنګ ، نزاکت، ښکلا او خوشبو انسان په دې مجبوره کوي ۔چې هم ددې خوا ته دې انسان ایسار شي ۔نو په داسې کښې د څو ګلونو انتخاب یقیناً چې ډېر ګران کار دے ۔که چرې دا کار درمان صېب په ارادي او شعوري توګه کړے وي نو دا د هغه د پوهې او تنقیدي شعور دلیل دے او که چرې دا کار هغه په غېر شعوري د خپلې خوښې او د زړۀ په اواز کړے وي نو دا د درمان د ذوق سلیم ښکاره نخښه ده۔ځکه چې ددې کتاب هر یو ستورے صاحب طرز او د ځانګړي اسلوب څښتن دے ۔په هر دور کښې بې شمېره شاعران او ادیبان موجود وي خو ولې دا ضروري نۀ ده چې هر شاعر دې صاحب طرز او هر ادیب دې صاحب اسلوب وي۔د درمان دا روښانه ستوري هغه ستوري دي کومو چې په څۀ نه څۀ حېث د پښتو ادب او د خپل چارپېرچل شاعران او ادیبان متاثره کړي دي او د پښتو جولۍ ته ئې ډېر څۀ وربخښلي دي۔اسلوب یا طرز څۀ شے دے ؟ په دې حقله مغربي او مشرقي پوهانو ، ادیبانو ، شاعرانو او ناقدانو په زرګونو لکونو صفحې تورې کړې خو بیا هم څۀ په

خاص نتیجه او په حتمي فېصله لکه د ادب په نورو ډېرو مباحثو نهٔ دي رسیدلي ـ ځکه چې یو دانشور وائي ,,چې د اسلوب په باره کښې ځومره مباحث دي هغه ټول ماته اُلټه پُلټه ښکاري ـ داسې معلومېږي چې لکه یو دیوال چې (معمار) په ځائے د بنیاد اېښودو ګلکاري او نور د زینت اسباب ته توجه اوکړي ،،ـ

د لوکس د قول مطابق : ,,د اسلوب طریقه داده د کومې په وسیله چې انسان د یو بل په سوچونو ، خیالاتو او جذباتو کښې شریک شي ـ که چرې تاسو غواړئ چې ستاسو لیک دې د عام قبولیت رُتبه حاصله کړي نو ستاسو د شخصیت خوبیانې دې ښه وي او د کردار اوچتوالے دې منلے شوے وي خیر که تر ځهٔ حده وي ـ کوم خلق چې د خپلو کتابونو اشاعت کوي هغوي د خلقو په نظر کښې عزت مند او په زړونو راج کوي ـ لیکوال خو خپل کتابونه خرڅ کړي خو د خپل شخصیت رازونه بې بسي بې نقابه کوي ،، ـ

د لونجائنس د قول مطابق : د اسلوب اوچتوالے د لوئے شخصیت چغه ده ـ

ګبن وائي :

,,اسلوب د کردا یا د شخصیت عکس دے ،،

که زما د شخصیت حدونه ګورې
زما فن زما د فکر ترجمان دے

اباسين

سید عابد علي عابد وائي چې ,, اسلوب دراصل فکرو معانی اور ہئیت و صورت یامافیہ و پیکر کے امتزاج سے پیدا ہوتا ہے اسلوب مصنف کی مکمل شخصیت کا دوسرانام ہے۔ ،، خو ولې هنري بېل د اسلوب یا طرز په یو بل اړخ زور ورکړے دے۔هغه لیکي : چې ,,د یو فنکار د فکر د سلسلو د اظهار په وخت هغه ټول کوائف شامل کړي کوم چې د فکر د سلسو د کامل ابلاغ دپاره ضروري وي۔پس د اسلوب نه مراد د چا لیکوال د لیک هغه ځانګړے طرز دے۔د کومې په بنا چې د نورو لیکوالو نه هغه ځان له پېژندے شي ،، ۔او زما په خیال دا رښتیا هم ده ۔لکه د اردو یو شاعر سیف الدین سیف وائي چې :-

سیف انداز بیاں رنگ بدل دیتا ہے
ورنہ دنیا کی کوئی بات نئی بات نہیں

پس ددې بحث په رڼا کښې مونږ دا خبره په ډاډ کولے شو چې درمان علي خېل د انتخاب دا ټول ستوري په رښتیا چې د ځانګړي اسلوب او طرز خاوندان دي۔که دا خبره د شخصیت په حواله وي او که د کردار ، که پښتون او پښتو خدمت وي او که د دوئي د ځیګر د وینې۔یعني دوئي لیک ۔دا ټول ستوري په خپل خپل ځائے نۀ صرف پرقیبرې بلکې لارور ته لاره هم سموي ۔او ورکې پریشانه قافلې ته خپل منزل ته د رسولو

اشارې هم کوي. دا ټول هغه ستوري دي چې د دوي لیک که
بې نومونه چاپ شي او که څوک ئې کلام بغېر د نومونو یا
تخلص نه واوري . نو د ذوق سلیم خاوندان او د پښتو د
شاعرۍ او ادب مئینان په سلو کښې نوي فیصده صحیح
اندازه لګولے شي چې دا نثر یا دا کلام د چا دے. راځۓ چې
ددې ځلنده ستورو وار په وار په څو کرښو کښې د ذکر
ګستاخي اوکړو.

(۱) اجمل **خټک** مرحوم :- یو نابغه روزګار
شخصیت وو. هغوي نه صرف شاعر بلکې یو مجتهد وو. د
صدو صدو پورې به خلق د هغوي په طرز د لیک کوششونه
کوي. هغوي پښتو ژبې ته یو نوے اهنګ ،نوے اواز نوے ،
سوز او نوے ساز وربخښلے دے. هغه ملنګ خان چې خپل
ټول ژوند ئې پښتو او پښتون ته وقف کړے وو. په اجمل بابا او
نور انقلابي شاعرانو کښې فرق داد ے چې اکثر انقلابي
شاعران د کوټې په ګوټ او توده برستن کښې د انقلاب چغې
وهي. خو ولي بابا که سختې بیان کړي دي نو لیدلي ئې هم
دي. که د انقلاب چغه وهي نو زیار هم کوي . کوم کار چې
علامه اقبال په اردو او فارسۍ کښې د ملت اسلامیه دپاره
کړے دے هم دغه رنګ اجمل بابا په پښتو ژبه د پښتون دپاره
کړے دے. د اجمل بابا په طرز د لیک کوشش اوس هم ډېر

شاعران کوي خو ولي اجمل بابا د خپل طرز اولنے او اخرينے سرے وو.

(۲) قمر راهي **صيب** :- قمر راهي صيب د پښتو د ادب هغه لعل دے. چې په کوم اړخ ورته ګورې بېله بېله رڼا کوي. او په دومره اړخونو کښې خپل ځانګړے طرز اسلوب برقرار ساتل واقعي د حېرانتيا خبره ده. ډېر کم خلق داسې وي چې نظم او نثر په يو شان په کمال ليکلے شي. په هغوي کښې يو قمر راهي صيب هم دے. صحافت دے که دانش تنقيد دے که تحقيق قمر راهي صيب ته خدائے يو خاص ملکه وربخښلې ده په تېره تېره د قمر راهي صيب مضمون نګاري بې مثاله ده غزل ئې د وخت د تقاضو اواز دے. قام پرستي د ژوندانه حقيقتونه ئې د نظم خاص والے دے. ژباړې ئې د کمال دي.

(۳) **ډاکټر** محمد اعظم اعظم :- ډاکټر صيب يو همه جهت شخصيت وو. په دې کښې هيڅ شک نشته چې مونږ د ډاکټر صيب ډرامه د دنيا د هرې ژبې ډرامې ته وړاندې کولے شو. او هغوي د بين الاقوامي معيار ډرامه نګار وو. پښتو ژبه په ځآئے په ډاکټر فخر او وياړ کولے شي. د تحقيق، تنقيد او مزاح نګاري په کومې کښې چې هم ډاکټر صيب خپل سلوب لري. خو د ډاکټر صيب شاعري چې د غمِ دوران سره

سره د رومانیت، سلاست ، فصاحت ، بلاغت ، موسیقیت او د تغزل خزانه ده۔ حسرت موهاني دا شعر بالکل ډاکټر صېب دپاره وئیلے دے۔

شعر دراصل وہی ہیں حسرت
سنتے جو دل میں اُتر جائیں

(۴) محمد نواز طائر **صېب** :- ژوندے لیجنډ په خپل ذات کښې اکادمي ، دروند پښتون دے۔ طائر صېب په رښتیا د ادب علم او فضل طائر دے۔ هغه هم ناراست نه بلکې ډېر ناقراره طائر دے۔ د طائر صېب د پرواز دنیا ډېره فراخه او دومره لویه ده چې کم از کم د څلورو کتابونو حقدار دے۔ چې د دوئي د کار په باره اولیکلے شي۔ طائر صېب بې مثله افسانه نګار ، تاریخ دان ، ناقد ، فلسفي ، سوانح نګار ، سفرنامه نګار ، محقق ، ماهر تعلیم ، عالم فاضل دے۔ ددې سره سره فصیح السان او قادر الکلام شاعر دے۔ طائر صېب د جدیدیت او روایت په مېنځ کښې یو پُل دے۔ نظم ، غزل ، رباعي ، سندره ، قطعات تر دې چې هائیکو ئې هم لیکلي دي نظم ئې کمال ته رسولے دے۔ شاعري ئې د دُرِ بې بها نه ډکه ده چې د علم ، فلسفې ، تصوف ، نصیحت ، روایت ، رومانیت خزانه ده او خپل رنګ اهنګ او ترنګ لري۔

(۵) شمش القمر اندېش :- د اندېش صېب د شاعرۍ پېغام، مقصديت يعني ادب دپاره د ژوند په روانو حالاو ژور نظر ، جديديت ، علامت نګاري ، تلميحاتو ، اشارو کنايو او نوي نوي او نادرو تشبيهاتو د هغهٔ شعر له ځانګړے طرز ورکړے دے۔

(۶) محمد اقبال اقبال :- قام پرستي ، طبقاتي جنګ ، عزميت د اقبال صېب شاعرۍ ته ځانله بېل رنګ وربخښلے دے۔ اقبال صېب د امېدونو او اوچتو حوصلو شاعر دے۔ مايوسي ناامېدي ګناه ګڼي او بيا په تېره تېره د اقبال صېب افسانه کښې چې کومه حقيقت نګاري ده۔ هغه صرف او صرف د اقبال صېب کمال دے ۔ او دې ځانګړي کمال ته اسلوب وائي۔

(۷) ګران صېب :- په هر ملګري په پښتون ګران اکرام ګران صېب ته په دې وجه زهٔ صاحب طرز شاعر وايم۔ چې ګران صېب د شاعرۍ اهنګ او کړنګ ډېر طلسماتي دے۔ ځوک چې ګران صېب د ډېر نزدې نه پيژني هغوي به د ګران صېب د کړان نه هم خبر وي۔ ګران صېب په ژوند کښې ډېرې سختې ليدلي دي ځکه خو د دوئي په شاعرۍ کښې درد ، غم او د حسرت رنګ ډېر واضحه په نظر راځي۔ او دا درد او غم د انسان او انسانيت سره د هغه رشته مضبوطه کړې ده او په دې کښې ډېر لاس د

هغه د رومانيت دے۔هم دې رومانيت هغه باغي کېدو ته نۀ دے سپارلے ۔ګران صېب په شاعرۍ کښې د فلسفې ډېر نمکين اثر هم شته۔

(۸) محمد اسلام ارماني **صېب** :- لکه څنګه چې مخکښې بحث شوے دے۔چې اسلوب د شخصيت ائينه دار دے۔نو دا خبره په ارماني صېب رښتيا کيږي ۔دا خبره زۀ ځکه کوم چې ارماني زۀ پيژنم۔ځکه چې ارماني صېب زما د کلي دے۔او زۀ په دې فخر کوم چې زۀ د ارماني صېب د کلي يم۔خبره د اسلوب وه۔نو ارماني صېب ټول عمر د ترقي پسندو په ټولګي کښې تېر کړے دے ۔خو ولې د ارماني صېب روماني رنګ چرته هم پيکه نۀ شو ۔په دې خبره د پښتو ټول ناقدين په اتفاق دي ۔چې ارماني صېب په بنيادي توګه روماني شاعر دے ۔البته په نظم کښې هغوي واقعي ترقي پسند او انقلابي دے ۔د ارماني صېب غزل د ڇنڇنو په بڼ کښې د دومره شور باوجود جدا اواز او پېژندګلو لري ۔نظم او بيا خاص کر ازاد نظم ډېر د اوچت معيار ليکي ۔خو ولې د ارماني صېب نه زما يوه ذاتي ګيله ده۔چې مونږه به په مختلفو مجلو کښې د ارماني صېب کومې خوندناکې په زړۀ پورې په فن او ساخت پوره افسانې کتلې۔ارماني صېب د هغې نه مونږ

محرومه کړي یُو ـ دا ګیله ځکه کوم چې ارماني صېب یو صاحب اسلوب افسانه نګار هم د ے۔

زما یو ذاتي مشاهده ده شاید چې تاسو راسره اتفاق اونهٔ کړئ۔ چې څومره شاعران یا ادیبان (که هغه طائر صېب ، ارماني صېب او که اباسین ورور د ے) چې د درس و تدریس سره تعلق لري ـ نو د هغوي په فنپارو کښې لاړ ښودنه ، پند نصیحت او د علم پوهه ضرور وي۔ او نوي نسل ته به همېشه څهٔ نه څهٔ پېغام ورکوي۔ هم دغه وجه ده چې ارماني صېب هم په خپل جدا رنګ کښې دا فریضه ادا کړې ده۔

(۹) رحمت شاه سائل :- نن که په ټوله پښتونخوا د سائل طوطي چغېږي۔ د هغې وجه صرف او صرف داده چې د سائل صېب د پښتون قام د زخمونو د څړيکو اواز د ے۔ د هغه شاعري د پښتون د جذباتو ترجمانه شاعري ده ـ زهٔ په معافۍ سره دا خبره لیکم چې د اکثر ترقي پسندو په کلام کښې پېغام وي خو ژوند نه۔ په هره ژبه کښې ډېر کم داسې ترقي پسنده شاعران او ادیبان دي ـ چې د هغوي شاعري یا نثر د فن په حواله پوره وي او هغوي شهرت عام حاصل کړے وي او د بقاء دوام په چهت ولاړ وي ـ سائل صېب هغه شخصیت د ے چې شهرت عام ورسره هم شته او انشاء الله بقاء دوام هم ـ سائل د اول نه تر آخره صرف شاعر د ے ـ د هغهٔ تغزل بې مثاله د ے الفاظ د سائل نوکران دي چې هر وخت ورته لاس په نامه ولاړ

دي۔ چې کله غواړي کار ترې اخلي او دې د سائل شاعرۍ ته يو بېل رنګ او اهنګ ورکړے د ے۔

(۱۰) اباسين يوسفز□ صيب :- په هر دور کښې شاعري دوه قسمه وي ۔چې يو ته اولسي شاعري او بلې ته شاعري يا ادبي شاعري وائي ۔اولسي شاعر په عوامو کښې همېشه مقبول وي ۔بلکې اکثر ئې دغه شاعري ئې د رزق روزۍ ذريعه هم وي ۔خو اولسي شاعرانو ته عموماً ډېر کم دوام حاصلېږي ۔بل طرفته ادبي شاعري وي ۔چې هغه د خواصو دپاره وي ۔د خواصو نه مراد مالدار نۀ دے بلکې تعليم يافته صاحب ذوقه او پوهه طبقه ده ۔داسې شاعران عموماً ټول عمر ژوندي وي۔داسې ډېر کم شاعران وي چې د خواصو او عوامو نه يو شان داد او خراج تحسين حاصل کړي ۔ مانه که څوک تپوس اوکړي په موجوده دور کښې داسې څوک دے ؟ نو زما جواب به صرف دا ي۔،،اباسين يوسفزے ،، چې زۀ ورته اباسين ورور وايم ۔بلکې داسې کسان هم شته چې شاعري ئې ځکه خوښه ده چې اباسين ئې خوښ دے ۔او دا ځکه چې اباسين ورور په ډېر اعلی انداز د فن په هر اړخ پوره د تشبيهاتو او کنايو خزانه، خو په عوامي ساده ژبه کښې شاعري کوي۔رومان ، کليوال رنګ د فطرت د ښکلا نه رنګ راواخلي او هغې نه د ژوند د ناکردو د حالاتو د ستم ، د جانان

د بې وفائيو او لړ د نصيحت په برش او د خپل زړۀ په وينو ئې يو ښکلې فنپاره تياره کړي.دا فنپاره په لکونو فنپارو کښې ځان له په نظر راځي.

زما ددې دومره سردردۍ مقصد صرف دا وو چې دمان علي خېل چې کوم ستوري راغونډ کړي.هغه واقعي د پښتو د ادب روښانه ستوري دي.او دا انتخاب ئې د ستائينې وړ دے او په تېره تېره د مذکور شاعرانو د کلام انتخاب ډېر د کمال دے.او دا د درمان د تنقيدي شعور لاشعوري نتيجه ده.د هر شاعر کلام د هغې شاعر نمائنده کلام دے.کوم چې د هغه د طرز يعني د اسلوب پوره پوره نمائندګي کوي.

درمان علي خېل چې په دې روښانه ستورو کوم تنقيدي نوټس ليکلي دي.هغه سمندر په کوزه کښې د بندولو کار دے.ددې دپاره چې درمان د کوم تيکنيک نه کار اخستے دے.هغه د غور جوګه دے.د لفظونو او د اصطلاحاتو استعمال د درمان کار اسان کړے دے.او د ډېر تحقيق نه پس درمان چې ددې ستورو په باره کښې کوم اقتباسات راغونډ کړي دي دا هم ځانله زيار دے چې د کتاب فائده او معنويت ئې زيات کړے دے.درمان په تيکنيک د هغه د علمي نثر هم ډېر کار کړے دے.درمان په دې پوهـ دے چې د ادب هر صنف ته د بېل بېل شان نثر ضرورت وي.

زما په خيال دا کتاب د پښتو د يو عام قاري د پاره نهٔ دے بلکې د لسم نه تر څوارلسم جماعت پورې د پښتو طلباء ترې ډېره فائده اخستے شي۔

زهٔ په آخر د خپل خوږ او ګران ملګري درمان علي خېل ډېر احسان مند يم چې زهٔ ئې ددې جوګه اوګڼلم او ماته ئې په خپل کتاب د ليک موقع راکړه ۔ الله پاک دې درمان له ډېر ژوند ورکړي چې داسې رنګه کتابونه د پښتو جولۍ ته ډالۍ کوي۔

محمد جميل کاچوخېل

آله ډنډ

۱۵ ستمبر ۲۰۱۳ء

Pukhto.Net پښتو

# وضاحت او منـنـه

دا د دوه زره اتم (۲۰۰۸ء) خبره ده چې ما د چارسدې د ایف ایم رېډیو نه د پښتونخوا د نوموړي ادیبانو او شاعرانو په حواله د ,, روښانه ستوري ،، په نوم د یو ادبي پروګرام اغاز اوکړو. په دغه ورځو کښې زۀ د څوارلسم جماعت طالبعلم ووم. که هر څو دا پروګرام زما د علمي سطحې نه ډېر اوچت وو خو زما ادبي ذوق تاند وو او ډاډه په دې ووم چې زما سره زما د استاذانو پروفېسراباسین صېب او پروفېسر شېرزمان سیماب صېب ډاډګیرنه موجود وه.

په دغه کال (۲۰۰۸ء) د ملاکنډ حالات د معمول نه زیات خراب شول. او په کال ۲۰۰۹ء کښې د سوات اوسېدونکي ددغې کړکیچنو حالاتو په وجه د مردان او خواؤ شا سیمو ته اوکوچېدل. زمونږ د ملاکنډ ایجنسۍ زیاتره اوسېدونکي ددغې اړي ګړي په وجه در بدر خو نۀ شو البته په هفتو هفتو به لارې بندې وې نو ددغې بندېزونو په وجه دغه پروګرام ,, روښانه ستوري ،، ما جاري اونۀ ساتلے شو خو د کومو شخصیاتو په حواله چې ما کوم معلومات د خپلو

اورېدونکو سره شریک کړي وو هغه زما سره د سکرپټ په شکل کښې موجود وو. د محترم شېر زمان سیماب صېب په خواهش او بار بار اسرار د غه لیکلي سکرپټونوله ما یو نوے ترتیب ورکړو چې ستاسو د وړاندې دے. د معیار تعین ئې هم ستاسو په اختیار کښې دے.

دلته دا یوه خبره د یادونې وړ ده چې په دې کتاب کښې کوم شخصیات ستاسو تر وړاندې دي. په دې کښې نن اجمل صېب ، اعظم صېب او اقبال صېب ددې فاني دنیا نه رحلت کړے دے. (زۀ د هغوي د مغفرت دپاره د پاک رب نه دعا ګو یم.) د دوي په حواله لیکلې مقالې چې څنګه وې هغه شان په دې کتاب کښې شاملې کړې شوې ولې چې په کوم وخت دا مقالې ما لیکلې په هغه وخت کښې دا ښاغلي حیات وو.

بله دا چې دا کتاب به ناقدینو ته نیمګړے ښکاري په دې چې زمونږ د جدید پښتو ادب ځینې ځلنده بلنده ستوري په دې کتاب کښې نۀ دي شامل. څۀ رنګ چې ما په وړاندې کړښو کښې اشاره اوکړه دا یو اغاز او د اولني اقدام نمونه ده او دغه اغاز د پورته ذکر شوي وجوهاتو په ترخ کښې مسلسل پاتې نۀ شو چې نیمګړتیا ئې اوس هم زما په زړۀ کښې غزونې کوي.

ډېرې خبرې مې په زړۀ پاتې دي
ګورو به رابه شي موسم چرته

(عبدالرحمان محزون)

زۀ د خپل استاذ پروفېسر شېر زمان سيماب صېب ډېر زيات مشکوريم چې د خپلو بلها مصروفياتو باوجود ئې ددې کتاب هره مقاله څو څو واره د خپل نظره ايستې ، ماله ئې نېکې مشورې راکړې او د ادب د رېګزار په ګرانو لارو د تګ چل ئې راته را زده کړے دے ـ ددې نه علاوه هم ښاغلي سيماب صېب د ژوند په هر ډګر زما مرسته او لار ښودنه کړې او کوي او د هر نوي کار دپاره زما حوصله چمتو کوي ـ

د پروفېسر ډاکټر علي خېل درياب صېب هم مننه په ځائے راؤړم چې وخت په وخت ئې ماله معلومات راکړي او زما راهنمائي ئې کړې ده ـ

دغه رنګ د ښاغليو فضل عليم عليم ، رحمت جان رحمت ، مسلم انتظار ، عتيق عالم ، پروفېسر محمد اقبال شاکر ، نقيب احمد جان صېب ، پروفېسر نواز يوسفزي ، پروفېسر سمندر يوسفزي او ګل منېر دلسوز مننه هم راوړم ـ

د پروفېسر محمد نواز طائر صېب او ښاغلي محمد جميل جميل صېب يو جهان مننه چې زما دا کتاب ئې د چاپ د مرحلو نه وړاندې اولوستو او خپل درانۀ الفاظ ئې پرې رقم کړل ـ

ددې کتاب د کمپوزر ارشاد لالا هم شکريه په خپل ځان لازمي ګڼم ځکه چې ډېر په روڼ تندي او احسن طريقه ئې ددې کتاب د کمپوزنګ ذمه واري سرته اورسوله.

په تېره تېره د ګران مشر او خوږ استاذ پروفېسر اباسين يوسفزي صېب د مينې او اخلاص د زړۀ د تله مشکور يم چې په هر ډګر مې مرسته او راهنمائي کوي.

په ډېر درناوي

درمان علي خېل

۱۸ستمبر۲۰۱۳ء

Pukhto.Net پښتو

# اجمل خټک[1]

د خوشحال د خاورې پورته شوم نغمه شوم
بل مشال په اباسين او تاتره شوم
سرې پوهـ شوې د غېرت چغه سور اور شوم
چې تا څومره رانغړلم سره لمبه شوم[2]

د خوشحال د خاورې پورته شوې د پښتو ژبې خوږه نغمه چې د اباسين او تاترې پورې خوره وره لاړه نو د پښتون د رون مستقبل اواز شو. د اباسين په غاړه د لوئے خوشحال او د هغه د کورنۍ خوارۀ او پاخۀ شاعران د خپل فکر او شعور په حواله د پښتو ژبې او ادب د تاريخ نۀ ورانېدونکي نومونه دي.

ولې په شلمه صدۍ کښې چې دغه سيمې کوم لوئے اتل وزېږۀ. د پښتو ژبې او پښتون سياست د جبين داسې رون او شوخ خال شو چې د فکر و نظر رڼاګانې ئې په ټوله پښتنه سيمه

1 په ۸ فروري ۲۰۱۰ء د پښتو ژبې او پښتون سياست دا لوئے مېړۀ ددې فاني دنيا نه وکوچيدۀ. (الله پاک دې ورله په هغه جهان کښې اعلی مقام ورکړي) امين

2 اجمل خټک ، د غېرت چغه ، يونيورسټي بک ايجنسي ، ۲۰۰۷ ، مخ س

اوشيندلې. هر څو که جبر جبر وختونو ئې ژبه غوځوله خو دغه چغه د خپل غېرت د ولولو سره هومره خوږېده. او .... اجمل خټک چې د پښتنې سيمې د ادب او سياست د مېدان لوئے پياوړے شخصيت دے. بزرګ سياستدان او ستر شاعر اجمل خټک صېب دا وخت تقريباً د اتياؤ کالو په عمر کښې د فکر و نظر د دنيا د لوئے مشر په توګه پېژندے شي.

,, د ستر قامي مبارز خوشحال خان خټک په درنه کورنۍ کښې په کال **۱۹۲۵**ء کښې اوزېږيدۀ. د اکوړي تاريخي کلے د هغۀ زېږون ځائے او حکمت خان ئې د قدرمند پلار نوم دے [1] ،،

په فارسۍ او اردو ادب کښې ئې د شپاړسم سندونه تر لاسه کړي دي. د درس و تدريس د پېشې سره منسلک پاتې شوے دے او په ريډيو پاکستان کښې ئې هم ملازمت کړے دے. ولې د خپل مزاج او فطرت مطابق هغه په دغه چوکو پاتې نۀ شو او د لوئے پښتون لاربښود فخر افغان باچا خان د لارې مګرے شو. هر څو که دغه لار د تکليفونو او سختو ډکه وه. ولې د خوشحال د خاورې پورته شوې نغمه په دې پوهېده چې د پښتنو حجرو او ګودرونو ته رسېدل دي ، پښتون بېدارول

1 هما ، محمد همايون ډاکټر ، اجمل نامه ، مياتشنۍ مجله ليکوال ، مارچ ۲۰۱۱ء مخ ۴۰

دي لارو تــه سمول دي او پـه شـلمه صـدۍ کښې د قامـــونو پـه صف کښې اودرول دي ـ ځکه خو ئې وئيل چې :-

خپـــــل ربـــــا ب بـــــه تهٔنګوؤمــــــه
خپـــــل کچکـــــول بـــــه ګرځوؤمــــــه[1]

اجمـل صـيب د سياسـت پـه ميـدان کښـې د جېلونـو او قيـدنو سختې تيرې کړې او دا د خوشحال او باچا خان نه ورته ښودلې شوي وو چې د انقلاب په لار کښې دغه سختې زغمـل دي ـ کـه خوشحال د مغل د زندان په تيارو کښې وخت تېر کړے او باچا خان د پيرنګي د جېلونو په کوټو کښې مېچنې کړې وې ـ نو اجمل خټک هم د وخت د بادار د ستمه د وطن په جېلونو کښې د روڼ سبا په طمع شپې سبا کولې ـ ولې د انقلاب لار ئې نهٔ پرېښوده او ځکه خو حالات داسې جوړ شو چې خپلې کوډلې پرېښودو تـه جوړ شو او پـه افغانسـتان کښـې ئې د جلاوطنـۍ ژوند له غاړه ورکړه ـ د شپاړس کاله جلاوطنۍ نه پس اخر خپل وطـن تـه راغـے او بيـا د ملـي سياسـت پـه قافلـه کښـې د لـوئې پښـتون مـدبر او سياسـت دان خـان عبـد الولي خـان سـره ئـې

[1] اجمل خټک ، د ژوند چغه ، جدون پرنټنګ پريس پېښور ، ۲۰۰۲ء مخ ۴۲

ملګرتيا اوکړه. د خپلو ملي او قامي خدماتو له کبله د ملي ګوند عوامي نيشنل پارټۍ مرکزي صدر منتخب شو او دا د دوئي د شخصيت تدبر او د خپل قام سره د يو والي او خلوص لوئے دليل وو چې د خان عبدالولي خان په موجودګۍ کښې د عوامي نيشنل پارټۍ صدر شو.

دوئي د خپل سياسي بصيرت له مخه دغه سياسي هلې ځلې ښه په کاميابۍ سرته اورسولې. او دغه قامي تحريک ئې د کاميابۍ سره مخ کړو. په سياسي ژوند کښې د قامي اسمبلۍ ممبر او د ايوان بالا (سينټ) ممبر پاتې شوے دے او د سينټ د نګران چئيرمېن چوکۍ ئې هم سنبهال کړې ده. د سابق وزيراعظم نواز شريف سره په ډېرو قامي مسئلو کښې د پارټۍ له خوا او اتحاد په وجه صلاح کار او مددګار وو ولې د پخواني صدر پرويز مشرف سره د ملاقات له کبله د سياسي اختلاف په وجه د عوامي نيشنل پارټۍ نه اوويستلے شو او د نيشنل عوامي پارټۍ په نوم ئې د خپل سياسي ګوند تابيا اوکړه. ولې د لږې مودې نه پس بيا د عوامي نيشنل پارټۍ په ملګرتيا کښې شامل شو. او دا وخت هم د پارټۍ د لارښود او صلاح کار په حېث خدمت کوي.

ښاغلي اجمل خټک په خپل سياسي ژوند کښې د ډېرو ملکونو دورې کړې دي. په بېن الاقوامي کانفرنسونو کښې ئې ددې سيمې او قام نمائندګي کړې ده. او د خپل

تحریر او تقریر په حواله ئې خپل اوریدونکي او لوستونکي د خپلو قامي مسئلو نه خبر کړي دي۔

دا ملي شخصیت د پښتو ژبې استاد شاعر دے ۔ د دوئي شاعري د خپلو قامي او ملي مسئلو د را اوچتولو او پېش کولو لویه هنداره ده۔ چې پکښې د پښتنې سیمې تهولې کشالې او د هغې د حل تصویرونه موجود دي۔

په پښتنه معاشره کښې د طبقاتي کشمکش په ضد هم دوئي د خپل تیز قلم نه کار اخستے دے۔ د انجمن ترقي پسند مصنفین په سترو غړو کښې ددغې مکتب له خوا د هلو ځلو روح روان پاتې شوے دے ۔ او د ملک د لویو ترقي پسند شاعرانو په قطار کښې د اهمیت وړ مقام لري۔

د طبقاتي مبارزې په لړ کښې ئې دا نظم د سنګ میل حېثیت لري۔

## ګوجر

مېښې منمه د نواب صاحب دي
دې کښې خبره کول تاوان د چا دے
ولې اے اے د انسانانو ربه!
دغه ګوجر غریب انسان د چا دے

دې خـــوا تـــه مېښـــې څريـــدلې پرتـــې
دې خــــوا ګـــوجر دے ســـــيلېدلے ولاړ
دې خـــوا مــړې ګيــډې شــخوندونه وهــي
دې خـــوا نهــر دے ، زيـــړ زبـــېخلے ولاړ

دوئـــي پـــه يـــخ ســـېوري غزېـــدلې پرتـــې
دے پـه غرمـو دے کښېناستے ترې نـۀ شي
هغـــوي کـــه ســـتړي شـــي دمـــه ورکـــوي
دے کـه مري مري ستړے کېږي ترې نۀ شي

ددۀ د خـــــوار بدنـــــه تولـــــه وينـــــه
دې مېښـــو وچـــه کـــړه ســـحر و ماښـــام
د هغــــو ډکــــه غــــولانځ ، ډک تيونـــــه
ددۀ پـــه شـــونډو تـــرې يـــو څـــاڅکے حـــرام

دے لـوڅ لغـړ پـه پښـو پښـې ابـل ګرځـي
کوتـــک پـــه ولـــي د څـــاروو دپـــاره
کـه مـري نـو هـم د دوئـي دپـاره بـه مـري
او کـــه ژونـــدے وي هـــم د دو[1] دپـــاره

---

[1] دوئې

خپـــل ماشـــومان ئـــې پـــه ژړا پرېښـــي
د دوئـي کتـې پـه څـټ کښـې سـور ګرځـوي
بچـــي ئـــې لـــوږې نـــه کوکلـــه پراتـــهٔ دي
کتـــو تـــه غېـــږه کښـــې اخـــور ګرځـــوي

هغـوي کـه مېښـې دي نـو مېښـې خـو دي
د ے کـــه انســـان د ے هـــم انســـان نـــهٔ شـــو
ګـــوره هغـــوي دپـــاره دې هـــم شـــته د ے
ددهٔ نـــور څـــهٔ چـــې اخپـــل ځـــان نـــهٔ شـــو

د نـــــواب مېښـــــه دې نوابـــــه ګرځـــــي
د خـدائے انسـان دې خـدمتګار وي ورتـه
هغـــــه پړســـــېږي دي ددهٔ پـــــه وازدو
د ے دې خـدمت کښـې خوار و زار وي ورتـه

انســـان ، انســـان د ے ســـتا د شـــان اینـــه ده
د ددو دام نـــــه قربـــــانېږي دلتـــــه
کـــه ســـتا خـــدائے ورتـــه کتـــې شـــي ربـــه
انســـانیت خـــو نـــهٔ صـــبرېږي دلتـــه

ستا د خدايئ نه په سل واره قربان
انسانيت خو صبريدې نۀ شي نور
دا چې زما شرېه ئې وشلوله
د دوئي شالونه تېنګېدے نۀ شي نور

ستا د خدايئ د تقاضو په خاطر
انسانيت باندې سوګند کومه
که دا ,,خدائي ،، دې اپوته شي راته
زۀ د انسان پښانتې ژوند کومه[1]

ددې لوئے او نوموړي شاعر ,,فرياد ،، نظم هم په دغه سلسله کښې د ستائنې وړ دے.

فرياد

د لويو لويو قدرتونو ربه
يو تمنا ده اورېدے شې کنه
ستا د سکني سکني ماښام نه لوګے
د چا د زړۀ لوګے ليدے شې کنه

1 اجمل خټک ، د غېرت چغه ، يونيورستي بک ايجنسي ، ۲۰۰۷ء
مخونه ۵۱ تا ۵۴

Pukhto.Net پښتو

ستا د سېلو او طوفانونو په مخ
يو اسوېلې دے درلېږل ئې غوارم
ستا د چپو چپو سيندونو په نوم
لېمۀ راډک شو څڅول ئې غوارم

هسې نه چڼ د خولې وېستل کفر شي
هسې نه تاتم[1] ژړېدل کفر شي
ستا د جنت د نعمتونو نه زار
زۀ درته اوږے په جهان ژارم

ستا د دوزخ له لړمانو تويه
زۀ درته دا لړمانان ژارم
دلته د کېدې دوزخ تش کړئ وؤ
هلته شو ستا د دوزخونو خشاک

دلته د دغه قصابانو خوراک
هلته د هغه ښامارانو خوراک
نه مو ځان تور کړو او نۀ سپين پاتې شو
نۀ د دنيا شو نۀ د دين پاتې شو

[1] تاته هم

ستا د سنګينو فېصلو نه قربان
ولې حېران يم ، کوم قانون ومنم
تهٔ خو دې خپل قارون په مزکه منډې
زهٔ دې په سر باندې قارون ومنم

ستا په رضا زما رضا ده ربه
کاڼے هم نس پورې تړلے شمه
چې بل ښامار په خزانو ويننم
اخر انسان يم خنګه غلے شمه

راډک شو زړهٔ ابسارولے نهٔ شم
خولهٔ ماته ښهٔ ده خو ګنډلے نهٔ شم
ستا د جنت په طمع طمع چې مري
د هغه ورو په سلګو مې قسم

په دې دوزخ کښې ئې نور نهٔ شم ليدے
ستا د رضوان په منارو مې قسم
يا خو د زمکې په دې ارته سينه
ما ته خپل ژوند زما جنت راکړه

Pukhto.Net

یــا د نهــر دوزخــي مــرګ نــه مخکښــې
د یـــوې چغـــې اجـــازت راکـــړه
چې دا ستا اوربي ستا پـه خـوان مـاړۀ کـړم
یا پـه خپـل ځان باندې کارغـان مـاړۀ کـړم[1]

شاعران ، ادیبان د قام سترګې وي او پکار ده چې لیکوال د خپل لیک په وخت خپل قامي تشخص او ملي اقدار په نظر کښې اوساتي ۔ خپل اولس د روانو حالاتو نه خبر ساتي ۔ او د راروانو پېښو ادراک کولے شي ۔ تش لفظونه په یو بل پورې نۀ تړي ۔ بلکې د قام فکري روزنه او پالنه اوکړي ۔ ځکه خو اجمل صېب په خپل یو نظم ,, زلمي شاعر ته ،، کښې وائي :-

زلـمـي شـا عـر تـه

د زلمـتـي تـوب د ګرمــې وینــې پــه نــوم
د یـــو لېوالـــه زړۀ پېغـــام واخلـــه
د شـــاعرۍ د ولولـــو پـــه نـــوم دي
د تلوســـو نـــه ډک پېغـــام واخلـــه

1 اجمل خټک ، د غېرت چغه ، یونیورستي بک ایجنسي ، ۲۰۰۷ء مخونه ۳۱ تا ۳۳

که زمانه شي يو پولې د ازغو
چې ته بخرے ئې پروا نشته
که اورکے شي پلوشې پيدا کړې
دغې تيارو کښې هډو ساه نشته

په سمندر کښې چپې ډېرې راشي
خو د ساحل په اسره ځان تباه کړي
او چې ځان اوپېژني ځان وښائي
د نوح ۴ طوفان شي يو جهان تباه کړي

که ته ګوهر ئې بس د زرو په نرخ
زما تار تار دانه جولۍ واخله
که د غريب د زړګي نر ځاځکے ئې
د انسان زړۀ درته ډولۍ واخله

څوک په سرونو باندې پښے کېږدي
څوک د فتوؤ په ډزو ځان لوړوي
زما او ستا په شانې ورک لېوني
ځان ورکوي خو ټول انسان لوړوي

Pukhto.Net

نیکــان نیکــان ، غتمــان غتمــان پېــدا دي
دوي خـــو د ځایـــه جنتیـــان پېـــدا دي
ځـــئ هغـــه خـــوارو تـــه جنـــت اوګتمـــو
کـــوم چـــې د مـــوره دوزخیـــان پېـــدا دي

اے د ژونـــــد یـــــو ولولـــــو زلمیـــــه
راځـــه چـــې زړونـــه او لاســـونه یـــو کـــړو
دغـــــه د غیـــــرو د یـــــوال ونـــــړوؤ
د خپلـــو لیـــو دیوالونـــه یـــو کـــړو

ځـان تـه د مینـې یـو ښـۀ کـور جـوړ کـړو
د تـس نـس شـوؤ نـه یـو ورور جـوړ کـړو[1]

ښـاغلي اجمـل ښـېب د پښـتون قـام بې اتفـاقي پـه شـدت سـره محسوس کړې وه چې دا بې اتفاقي د پښتون وطن او قام دپاره د لوئے زیان سبب کېـد ے شي ـ نو دې لـوړ انسـان د پښـتنو دا حال نۀ شو زغملے ځکه خو ئې د خورو ورو پښتنو په یو مرکز د راغونډولو دپاره ټول عمر د ادب او سیاست کچکول اوګرځو ـ

1 اجمل ختېک ، د غېرت چغه ، یونیورستي بک ایجنسي ، ۲۰۰۷ء مخونه ۲۷ تا ۲۹

په دغه لړ کښې ئې دا شهرۀ آفاق نظم هم ستاسو په خدمت کښې ړالیږ کوم.

## په پښتنو

یــه پښـــتنو ! یـــه لېونـــو پښـــتنو
یــه تــس نــس شــوؤ پرګنــو پښــتنو
راځــي پــه کــور کښــې مرکــه شــو ســره
د سیالۍ وخت دے چې جرګه شو سره
دنیــا بــدلېږي ورتــه ځــان بــدل کــړو
دغـــه د ظلـــم زوړ جهـــان بـــدل کـــړو
یــه ســرتور ســر بربنــډ لغــړ پښــتونه
اوږیـــه ، تږیـــه ، خـــړ پـــړ پښـــتونه
ســـتا د خیـــرن ســـره تاجونـــه زار شـــه
ســـتا د خولـــو ځنـــې عطرونـــه زار شـــه
تــۀ پــه دنیــا کښــې یــو طاقــت پیــدا ئــې
تــوره ئــې ،دیــن ئــې او غیــرت پیــدا ئــې
د ســـکندر نـــه تـــر فېرنګـــه پـــورې
تـــر چنګیزیـــانو تـــر اورنګـــه پـــورې
چــا چــې پــه دې خــاوره قــدم ایښــے دے
تــا ئــې پــه خونــه بانــدې غــم ایښــے دے

د اوچت سر دې ټيټېدل نهٔ دي زده
دې تالـه مرګه تښتېدل نهٔ دي زده
ولې اے ، اے زما غريبه وروره!
په ډېر نصيب کښې بدنصيبه وروره!
سره د کلکو متو شل ښکارې نن
په خپل کالهٔ کښې لکه غل ښکارې نن
کهٔ په دنيا کښې خوار و زار دي مونږ يُو
که د هر چا ځنې بېکار دي مونږ يُو
د پلار نيکهٔ حق مو پردي خوري رانه
ګېدړې حق د امزري خوري رانه
دا ډک د ګلو ګلستان وطن مو
دا په دنيا جنت نشان وطن مو
نن يو ټوټه د جهنم دے راته
خوشحالي نهٔ لري تش غم دے راته
د مېوؤ ډک دے او مونږ اوږي ګرځو
لويو سيندونو کښې ئې تږي ګرځو
په خزانو ئې ښاماران پراتهٔ دي
چرته خانان ، چرته پيران پراتهٔ دي
د غلو ډک دے مونږ نهر ګرځو
خپل کور مو شته او در په در ګرځو

مــــونږ خدمتونـــــه بېګارونــــه کــــوؤ
ورځ او شـــپه ځـــان وژنـــو کارونــه کــوؤ
پــه ګتــه وټــه مــو نائکــان مــاړۀ کــړۀ
ګېډې مو تشې دوئي کندوان ماړۀ کړۀ
غټــان زمـــونږ پـــه وينـــو اوپړســـېدل
زمـــونږ پـــه ســـر تـــر اســـمان ورسـېدل
مـــونږ غريبـــان پياســـه او نغـــن نـــۀ لـــرو
د لـــوږې مـــرو ، ورســـتو کفـــن نـــۀ لـــرو
ورونـــو ! دا ځکـــه چـــې اودۀ پراتـــۀ يُـــو
اودۀ لا ښــۀ وي، مـــونږه مـــړۀ پراتـــۀ يُـــو
راځئ چې ويښ شو ، اول ځان بدل کړو
بيـــا دا د ظلـــم زور جهـــان بـــدل کـــړو
نظـــام د مينـــې محبـــت جـــوړ کـــړو
کـــوږ د انســـان د شـــرافت جـــوړ کـــړو[1]

اجمل صېب يو فنکار دے ـ د هغوي فنکارانه صلاحيتونه تاند دي ـ که يو خوا د دوئي په کلام کښې د جلال رنګونه

[1] اجمل خټک ، د غېرت چغه ، يونيورستي بک ايجنسي ، ۲۰۰۷ء مخونه ۱۰۵ تا ۱۰۷

ښکاري نو بل اړخ ته د دوئي په کلام کښې د جمال عکسونه
هم ښۀ په زړۀ پورې په نظر راځي.

## پېغله

هلته د نمر وړمبنی ځیره راخته ښکاریده
دله له باغه پلوشه چې راوته ښکاریده
هغه د شین اسمان د نمر یوه بې باکه شغله
دا د پښتو د پېغلتوب یو حیاناکه شغله
هغې چې ټول جهان ته وکتل خندا ئې وکړه
دې چې یو زۀ په نظر راغلم هم حیا ئې وکړه
خدائیګو زما په ځائے که حور وے زېربدلے به وے
که احساس ګل وے دغه ګل نه شرمېدلے به وے
پټه پړونې کښې وجود د پېغلتوب وه جینی
لکه په خوب کښې د جنت د وړمو خوب وه جینی
رانغښتې ځانګه د مستی نه زنګېده راتله
لکه نشه د سرې پیالی نه ښکارېده راتله
د زرکې تګ ئې د پېنزیبو انګازې هیرې کړې
لنډ قدمونو ئې د زیر او بم پردې هیرې کړې

د زړهٔ درزا مې دلته جلته ساه راکښلې شوله
چې دا مې خوا کښې تیریده نو ساه نیولې شوله[1]

د اجمل صېب په شاعرۍ کښې درې موضوعات برخیره دي ـ ترقي پسند یا مزاحمتي شاعري ـ قامي یا ملي (قام پرستي) شاعري او روماني شاعري دا درې موضوعات د دوئي په شاعرۍ زیات غالب دي ـ او اجمل صېب په خپله شاعرۍ کښې ددې درې واړو موضوعاتو ښهٔ پوره پوره حق ادا کړے دے ـ د هرې موضوع په لحاظ د دوئي شاعري چرته هم د خپله معیاره نهٔ ده پرېوتې ـ خو ددې باوجود د اجمل صېب مزاحمتي او ترقي پسنده شاعرۍ ته ډېر شهرت حاصل شوے دے ـ ولې چې دوئي په دې حواله کومه شاعري کړې ده په هغې کښې په داسې خوندناکه ډول د لویدلې طبقې نمائندګي شوې ده چې د لوستو په وخت کښې د قاري جذبات او احساسات رالړزوي او هر یو لوستونکي ته پکښې خپل ځان او خپل چاپېرچل په نظر راځي ـ د دوئي ددغه شاعرۍ ژبه روانه اسانه او عام فهم ده ـ او د ساده اظهار سره پکښې یو داسې درد بدلے شدت موجود دے چې د لوستونکي د خولې نه ورسره بې ارادې واه خیژي ـ

---

1 اجمل خټک ، د غېرت چغه ، یونیورستي بک ایجنسي ، ۲۰۰۷ء مخ ۱۱۱

خو کله چې دغه مزاحمتي او ترقي پسنده شاعري ,, د غېرت چغه ،، شوه او د اباسين او تاترې د مېدانونو او غرونو نه تر افغانستانه انګۍ شوه نو ټول پښتون اولس يو شان د خپل اظهار نمائنده چغه اوګڼله.

دې لوئے پښتون او قام پرست شخصيت د خپل قام او اولس په مينه کښې خپل ټول ژوند کله د اقتدار په چوکو کله جېل په کوډګو دننه او کله په جلاوطنۍ کښې تېر کړے دے. نن که پښتون، پښتون دے نو هم د شمار د يو څو کسانو په وجه چې د وطن په ايوانونو کښې ئې هم د خپل پښتون اولس خپلې خاورې د حق خبره ښۀ په ډاګه کړې ده او په دغه مشرانو کښې د اجمل صېب نوم لکه د نمر په څېر روښانه ښکاري. او د پښتونولۍ او قام پرستۍ دا رنګ د ستر اجمل صېب په شاعرۍ کښې جوت په نظر رائي.

د ښاغلي اجمل صېب د اظهار د ټولو نه زوردار صنف نظم دے. هسې خو دوئي په غزل او څلوريزه کښې هم د خپلو خيالاتو اظهار کړے دے او د خپل فکر و نظر څرګندونه ئې پکښې کړې ده. خو کوم زور او جذبه چې د دوئي په نظمونو کښې موجود ده د هغې مثال په پښتو ادب کښې ډېر کم لېدے شي.

د يو ستر شاعر نه علاوه د دوئي نثر نګاري هم د ستائينې وړ ده. د نثر په ذريعه ئې د خپل ژوند او جدوجهد

بيان قلم بند کړے دے. ددې نه علاوه ئې په يو شمېر کتابونو ديباچې ليکلي دي چې د دوئي د تنقيد غمازي کوي.

د کچکول په نوم کالم ئې هم د پښتو نثر نګارۍ په مېدان کښې د مقصدي ادب يوه غوره برخه ده. چې د ادبي او سياسي خوند سره پکښې نظرياتي تاثر هم ، دوئي د يو پوخ او زيرک نثرنګار په توګه څرګندوي. په دغه کالمونو کښې د پښتو ټپې برمحل استعمال د دوئي د خپل اولسي ادب سره د مينې او ادراک ښکاره دليل دے.

,, دا زۀ پاګل ووم ،، کښې خپله درد درد قيصه داسې په خوند خوند بيانوي چې لوستونکي له د درد درد کېفيت سره په شوندو يوه نرۍ مسکا هم خوروي او ددغه روان او اسان نثر لوستونکے داسې محسوسوي چې دا راته اجمل صېب په خپله ، خپله قيصه اوروي او ما ورته غوږ ايښے دے مطلب دا چې د لوستو د کېفيت نه د اورېدو کېفيت ته رسول د دوئي د بهترينې نثر نګارۍ وجه ده. حالانکې دغه درد درد قيصه بيانول زړونه غوڅوي او بيا چې په چا په خپله تېره وي خو اجمل صېب د خپل سياسي بصيرت او د ادب د مقصديت په اړه دغه کتاب د خپل تکليف د اظهار دپاره نه بلکې د اولس د خبرولو په غرض ليکلے دے.

د پښتو غزل لوئې شاعر شمس القمر اندېش صېب نوموړي اجمل خټک صېب ته په خپل فنکارانه انداز کښې څۀ په دې ډول سلام وړاندې کوي۔

سبا ورشه په ګټ کښې د زندان به چرته ناست وي
په فکر د انسان کښې ، يو انسان به چرته ناست وي
په مخ به ئې تغمې وي ، د خپېړو د وختونو
بيا هم لکه د ګل غوندې ، خندان به چرته ناست وي
راپنډ به تري چاپېره وي ، غمونه د روزګار
د ژوند په لټون وتے ، سرګردان به چرته ناست وي
بلبل د تصور به ئې، سېلونه د ګلشن که
په تن باندې زندان کښې بنديوان به چرته ناست وي
کاغذ به ئې يو لاس کښې وي په بل کښې به قلم وي
د ژبې پښتنې روغ دبستان به چرته ناست وي
ډيوې د امېدونو به ئې وي ، ژوند ته بلې کړې
د زلفو د تيرو نه ، په امان به چرته ناست وي
تا چغه د غېرت د هغۀ نۀ ده اورېدلې
هم دغه د غېرت نه ډک انسان به چرته ناست وي
مجنون د خپلې مينې ، د ليلې نۀ خطا کيږي
په سر باندې سرتور ، خيرې ګرېوان به چرته ناست وي

دا ئې نخښه ده چې اور د خپل احساس کښې به لوګيږي
زپلـــے د غمونـــو د دوران بـــه چرتـــه ناســـت وي
يـــاران د طريقـــت بـــه تـــرې چـــاپېر وي لكـــه ســـتوري
پـــه مينـــځ كښـــې د تـولي ، مـــاه تابـــان بـــه چرتـــه ناســـت وي
ســـبا ورتـــه ســـلام د انـــديښ ووايـــه د مينـــې
په نوم باندې، اجمل، يوخوشحال خان به چرته ناست وي[1]

Pukhto.Net پښتو

[1] دوه مياشتنی پاڅون مردان ، مردان معلوماتي او مشاورتي مركز ، مئی ، جون ۲۰۰۷ ، مخ ۳۹

# قمر راهي

نظريه د تخليق بنيادي عنصر دے ـ خوا که هغه د هر نوعيت وي ـ خو بې له نظريې نه ادب نهٔ تخليق کيږي ـ مونږ چې د نړۍ په انساني تخليقاتو نظر اوغورڅوؤ او هر تخليق اوسنجوؤ نو د هغې په شا ضرور يو شعوري زيار موجود وي ـ دغه تخليقات که د تصوير په شکل مخې ته راغلي وي او که د تحرير ـ که يو اړخ ته مونږ د ګوتم بدهـ (سيد ارت) د ژوند مختلف اړخونه په مخصوص انداز کښې د تصويرونو په شکل کښې وينو نو بل اړخ ته د هندو ارين رامائڼ ، مهابهارت ، اوستا ، ژند وپاژند يا د سامي ژبو کتابونه چې د مخصوصو نظرياتو او عقائدو عکاسي کوي او د خپل وخت سياسي مذهبي ، تاريخي او سماجي هنداره ورانديې کوي ـ هم دغه شان د يوناني ، عربۍ او فارسۍ ادبياتو فنپارې هم د يو خاص سوچ او فکر لاندې ليکلې شوې او دا حال د انګريزي ادبياتو هم دے ـ

ځنګه چې د نړۍ د نورو ژبو ادبيات د يو خاص فکر او سوچ لاندې مخې ته راغلي هم دغه شان چې د پښتو ادبياتو پلټنه اوکړے شي نو د هرې فنپارې په شا د يوې ځانګړې

نظريې عکسونه په نظر راځي ـ لکه د روښاني مکتب او د هغې په خوا کښې د اخون درويزه د مکتب تحريرونه چې د تصوف د فلسفې سره سره د خپل وخت د سياسي سرگرمو نمونې دي چې اساس ئې مذهب او مخصوص عقائد دي ـ مطلب دا چې د مذهب په بنيادونو ئې سياسي ردي خېژولې ـ کۀ يو اړخ ته پير روښان د مغلو برخلاف د مذهب نه د سياست کار اخستے ؤ نو بل اړخ ته اخون درويزه د روښاني مکتب په رد کښې هم د مذهب نه د سياست کار اخستے ؤ ـ او د خپل مقصد پوره کولو دپاره ئې ښۀ پوره پوره کوشش کړے وو ـ

پښتو ادب ته ددې دواړو تحريکونو په وجه هاغه تخليقي پيرزوئنې اوشوې چې پښتو ادب به پرې تل عمري وياړ کوي ـ او ددې نه سر بيره خو د ټولو نه لوئے کار ددې تحريکونو په وجه دا اوشو چې باقاعده په پښتو ادب کښې په شعوري توگه د ليک لارې خلاصې شوې او په بشپړه ډول اولنے موندلے شوے نثري کتاب ,, خېرالبيان ،، نن زمونږ سره موجود دے ـ ددې نه پس د خوشحال او د هغۀ کورنۍ په نظر راځي ـ خوشحال په خپله د يو قامي فکر ليکوال ؤ ـ خو د هغۀ د ټولو نه لويه نظريه دا وه چې د بکره پښتو د مخه پلو پورته کړے شي کوم چې د قامي خدمت بنياد دے او هغه په خپل دغه کوشش کښې کامياب شوے هم دے ـ که هر څو خوشحال

د فاسۍ او عربۍ لوئے عالم وو خو هغه په خپله ژبه علم بلند کړے دے۔

په پښتو ژبه چې ما علم بلند کړو
د خبرو ملک مې فتح په سمند کړو[1]

خوشحال په نظم او نثر دواړو کښې ښۀ د زړۀ د اخلاصه د پښتو ژبې خدمت کړے او دا حقیقت د ادبیاتو لوستونکي په سر سترګو مني چې:

که د نظم که د نثر که د خط دے[2]
په پښتو ژبه مې حق دے بې حسابه

او بیا د هغۀ د کورنۍ غړو هم د پښتو ادب ښۀ په زړۀ پورې ابیاري کړې ده ۔په دغه دور کښې لوئے صوفي شاعر عبدالرحمان بابا هم د خپلو درنو افکارو سره په نظر راځي ۔او د دوئي سره سم موشګاف عبدالحمید په یو ځانګړي اسلوب

1 خټک خوشحال کلیات ، خوشحال خان ، خټک ، مرتب دوست محمد کامل ، اداره اشاعت سرحد ، ۱۹۵۲ء ، مخ ۵۲۳
2 بي بي مریم ، د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جائزه ، د ایم فل تحقیقي مقاله ، پښتو اکیډیمي پېښ‍ور ، ۱۹۸۲ء ، مخ ۱۸۱

Pukhto.Net پښتو

پـه اول ځـل د هنـدي سـبک هاغـه عطـر اوشـيندل چـې پـه خوشبوګانو ئې ټوله پښتونخوا معطره شوه۔ او د دوئي په دغه کوټلي بنيادونو علي خان او کاظـم خـان شيدا د خپل نازک او رنګينو افکارو ردې پورته کړې۔

پـه شلمه صدۍ کښـې د ,, انجمـن اصـلاح الافاغنـه،، پښتنو قامي او ملي تحريـک راځـي ۔چې د آزادۍ د تحريـک سـره تړلـي شـاعرانو خپـل نقطـه نظـر ددې انجمـن لـه خـوا پـه مشـاعرو کښـې وړانـدې کـړو ۔او ددې سـره تړلـې ,, خـدائي خـدمتګار تحريـک ،، هـم دغـه فلسـفه او نظريـه وه چـې د برطـانيې د حکمرانـۍ تـاج کـوز کـړي او هـم دغـه شـان اوشـوه ۔ ,,خدائي خدمتګار تحريک ،، که هر څو يو سياسي تحريـک وو خـو پـه تـرڅ کښـې ئـې داسـې ليکوالـو وده اوموندلـه چـې د هغوي کار او زيار ته به ارومرو په درنه سترګه کتلے شي ۔او دا د پښـــتو ادب ډ نـــوي دور خوشـــبختي وه چـــې د ,, خـــدائي خدمتګار ،، د تحريک په لاس ئې روزنه وشوه۔

تردې دمه چرته په شعوري ډول او چرته په غير شعوري ډول پښتو ادب ته نادره ملغلرې ډالۍ شوې چې د پښـتو ادب درنه پنګه ده۔

په هاغـه دور کښـې چې پـه هندوسـتان کښـې د انجمـن ترقي پسند مصنفينو ډله راپورته شوه۔ او څنګه چې پـه فـرانس کښې ,,شان فليوري ،، ددې تحريک اغاز کړےؤ ۔دغـه شـان

په هندوستان کښې ,, پریم چند ،، او د هغهٔ ملګرو[1] ددغه تحریک بنسټ کېښودو او هم په دغه اثر کښې د پښتونخوا په خاوره ,, صنوبر حسین کاکاجي ،، او ځنې نورو ترقي پسند لیکوالو ددغه نظریې پالنه او روزنه اوکړه.

د هندوستان د تقسیم نه روستو د پښتو ادب د خدمت په غرض د اولسي ادبي جرګې لیکوال مخې ته راځي کوم چې اکثر هم د آزادۍ د تحریک غړي وو. چې پکښې صنوبر حسین کاکاجي، ستر حمزه بابا، قلندر مومند، اجمل ختک، ولي محمد طوفان، میر مهدي شاه، ایوب صابر، سیف الرحمان سلیم، همېش خلیل، فضل حق شیدا، لطیف وهمي وغیره نومونه شامل دي. چې په دغه نومونو کښې یو ستر نوم د قمر راهي هم دے.

دلته دا یوه خبره د یادونې وړ ده چې ,, خدائي خدمتګار تحریک ،، ترقي پسند تحریک او اولسي ادبي جرګه په ځنو حوالو د یو بل سره مماثلت لري. ولې چې خدائي خدمتګار تحریک راپېدا کړي لیکوال هم په ترقي پسند تحریک کښې وو. او هم په اولسي ادبي جرګه کښې. ځکه

[1] سجاد ظهیر، علي سردار جعفري، اختر حسن رائے پوري، فیض احمد فیض، احمد ندیم قاسمي، جوش ملیح آبادي، مجنون ګور پورې او داسې نور.

ددغه دورې د ټولو ليکوالو په ليکونو کښې د قام پرستۍ ، ترقي پسندۍ او ازادي پسندۍ رنګونه موجود دي۔

په دغه ورځو کښې د پښتو د جديد ادب د ترقۍ او پرمختګ په غرض د ولي محمد طوفان ، ميرمهدي شاه ، قلندر مومند ، اجمل خټک او داسې د ډېرو ليکوالو د ادارت لاندې د پښتو مجلې او ورځپاڼې چاپ کېدې چې پکښې يوه مجله د ستر قمر راهي صيب د ادارت لاندې ,, قند ،، هم د پښتو د جديد ادب د پرمختګ يوه ځانګړې نمونه ده۔ د جديد پښتو ادب په حواله چې ,, قند ،، کوم کردار لوبولے دے ۔ يقيناً د هغې په شا د ستر قمر راهي لوئے ادبي شخصيت ولاړ دے ولې چې ښاغلے قمر راهي صيب د يو لوئے لوستي او زيرک شخصيت خاوند دے ۔هغه د وخت په تقاضو خبر وو ۔ څنګه چې وړاندې د نظريې او سوچ خبره وشوه نو دلته په دغه حواله د قمر راهي صيب شخصيت يو لوړ مقام لري۔

,, قند ،، د ادبياتو د طالب علم او محقق دپاره د پښتو د جديد ادب د اعلی معيار نوم دے او دا ضرورت د شلمې پيړۍ لوئے نقاد ، محقق ، اديب او دانشور ښاغلي قمر راهي صيب محسوس کړے ؤ ولې چې هغه د حالاتو په تناظر کښې د نظريې او سوچ په بنياد د ادبياتو په ابيارۍ پوهه وو ۔ د سوات د سيمې نوموړے ليکوال او محقق ښاغلے محمد پرويش شاهين ليکي :-

,, د قمر خان که نور ټول کارونه د مینځه اوباسلے شي نو هم ، خو بیا هم ,, قند ،، د هغوي یوه داسې کارنامه ده ، یوه داسې قامي ډالۍ ده ، یوه داسې اولسي بخښنه ده ، د ادب او ثقافت یوه دومره لوئے دریاب دے ، د علوم او فن یوه داسې خزانه ده چې قمر راهي ئې په ژوند امر کړے دے . کومې رسالې چې په هندوستان کښې قمر راهي دومره شهرت او بقا ته رسولے وو چې لوستونکو به ددغې ډېره په بې صبرۍ انتظار کولو . کومې چې اردو ژبې د پښتون د ژبې ثقافت او ادب سره داسې اشنا کړے وو . داسې ئې پرې پوهه کړے وو چې دغه کار په دلو دلو او ډېرو کتابونو نۀ شو کولے . په خپله په پښتو لوستوالو او لیکوالو کښې دې رسالې نوې نوې لارې ټاکلې وې . هغه خوارۀ خوارۀ تخلیقونه ، تحقیقونه ، تنقیدونه ، خاکې ، سفرنامې ،شاعرۍ او د پښتنو د ژوندژواک هغه خوارۀ او پاڅه پاخۀ اړخونه رامینځ ته کړي وو چې په رښتیا پرې خلقو د قند په څائے شخوند وهلے او خوند ئې ترې اخستلے وو . او دغې بل قند ته به د چا دومره هڅه او تادي نۀ وه . لکه کومه چې به دې ,, قند ،، ته وه او په دغه ,,قند ،، کښې د قند د خوند مزه د قمر راهي شخصیت ، فکر او قلم وو[1] .

---

1 شاهین محمد پروېش ,, قمر راهي ،، ( مقاله ) مشموله ، قمر راهي فن او شخصیت ، مرتب غمگین معیارے ، کوثر پریس مردان ، ۱۹۹۲ء ، مخ ۸۳

دلته دا یوه خبره ضروري ګڼم چې که ,, قند ،، نه وے نو قمر راهي صېب به هم دغه شان دروند ادبي حېثیت بیا هم لرو ولې د ځینو ملګرو دا خیال دے چې ګني د راهي صېب په لوړ او قداور شخصیت کښې د ,, قند ،، لوئے کردار دے۔ دا خبره به په خپل ځائې تر څۀ حده پورې ټیک هم وي خو دلته دا سوچ کول پکار دے۔ که چرې قمر راهي صېب نۀ وے نو آیا ,,قند ،، به وو ؟ زما په خیال نه ! ولې چې ددغې دورې د نورو مجلو پلټنه اوکړو او بیا ,, قند ،، ته راشو نو په ښکاره ډول ,,قند ،، یوه انفرادي ګڼه ښکاره شي ۔ځکه چې ,,قند ،، په دغه وخت کښې کوم معیار قایم کړے وو هغه د بلې مجلې په نصیب نۀ دے رسېدلے ۔او دا ځکه چې د ,, قند ،، ادارت د ستر قمر راهي په ګوتو کښې وو۔

اکبر حیات کاکاخېل په دې حواله لیکي :-

که د پښتو په صحافت مونږ نظر واچوؤ او د ,, قند ،، نه په وړاندنې که تر پښتون او افغانه پورې ورشو او بیا که د ,,قند ،، نه راپه ورستود ,,جرس ،، او ,, پلوشې ،، پورې راشو۔ نو په دغه صحافتي هجوم کښې ,, قند ،، بالکل یواځې ښکاري۔نه صرف د موادو د معیار په لحاظ بلکې د چهپائي د کُلي معیار په لحاظ هم۔له دغه معیار له رویه تر اوسه پورې د پښتو بله کومه مجله د ,, قند ،، مقابله کښې نۀ شي پېش کړے ۔اګرچې د پښتو اکېډیمي د مولانا عبدالقادر د دور

,,پښتو ،، د موادو د معيار له رويه يوه ښۀ پرچه وه - ,,قند ،، نۀ يـواې علمـي ، تحقيقـي او تنقيـدي موضـوعات خونـدي کـړي بلکـې د ادب او فـن پـه حوالـه ئـې هـم بـې شـمېره لاڤـاني ګلونـه شيندلي دي - په دې لحاظ ,, قند ،، په يو وخت کښې هم علمي او هـم ادبـي مجلـه ګڼلې شـي - او د ,,قنـد ،، دغـه مخصـوص معيـار لا تر اوسه پورې بلې کـومې مجلې نۀ د ے مـات کـړے - ځکه نو د پښتو په صـحافت کښـې د خپـل دغـه معيـار پـه وجـه ,,قند ،، يو وړومبنے او اخري کوشش د ے[1] -

د اکبـر حيـات کاکاخېـل صـېب اخـري جملـه چـې د ,,معيـار په وجه ,, قند ،، يو وړومبے او اخري کـوشش د ے ،، - د ,,اخـري کوشـش ،، نـه دا خبـره جـوتيږي چـې پـه را روان وخـت کښې چرته هم بلـه هـېڅ يـوه مجلـه د ,, قنـد ،، پشـان معيـار نـۀ شي قائمولے - زۀ ځاني طور د ښاغلي اکبر حيات کاکاخېـل د اخري جملې سره اتفـاق نـۀ لـرم - پـه دې چـې زمـا پـه خيـال ډېر ليکوال به داسې وي چې هغوي ته به د اکبر حيات کاکاخېل دا خبره محـض د ,, قنـد ،، د درنـاوي پـه حوالـه مبالغـه ښـکاري - ولـې چـې انسـان د خوب سے خوب تر کهاں پہ جستجو کښـې روان د ے -

[1] مشموله کاکاخېل اکبر حيات ,,سرسري ،، ( مقاله ) مشموله قمرراهي فن اوشخصيت ترتيب غمګين معيارے ، کوثر پريس مردان ، ۱۹۹۲ء ، مخ ۷۱

ادبيات هم د پرمختګ لارې وهي . دا وخت هم پښتو ادب کښې د معيار کمے نشته . ولې د ,, قند ،، په حواله که قمر راهي صېب ته هر څومره درناوے ورکړے شي کم دے ځکه چې ,, قند ،، په داسې وخت کښې د پښتو ادب خدمت کړے دے چې پښتو ته ددغې ضرورت وو . او که چرې قمر راهي دغه بوج په خپلو اوګو نۀ وے اېښے نو شايد ددې ګران کار او درونډ بار د اوچتولو په دغه وخت کښې په چا کښې دومره توان نۀ وو لکه کوم توان او طاقت چې ښاغلي قمر راهي صېب د ,, قند ،، په ذريعه د پښتو ژبې او ادب د خدمت دپاره پکار راوستے دے . او داسې هم نه چې په دغه وخت کښې داسې پوهان نه وو . ښۀ ښۀ درانۀ او پوهه خلق موجود وو . خو دا عزت او درناوے خدائے د ښاغلي قمر راهي صېب قسمت کښې ليکلے وو . او هغه ددې درونډ بار د اوچتولوجوګه هم وو او ددې عزت او درناوي قابل هم .

د ,, قند ،، د اعتراف په توګه ليک کول د يو وړوکے شان مضمون په غېږ کښې نۀ ځائيږي . ددې دپاره ځان له او په بشپړه توګه کار پکار دے . مونږ د ښاغلي ډاکټر همايون هما صېب کار ته هم په درنه سترګه ګورو چې هغوي په ,, قند ،، د پي ايچ ډي مقاله ليکلې ده .

د ښاغلي قمر راهي صېب د ,, قند ،، ادارت په خپل ځائے خو د هغوي خپل فنکارانه صلاحيتونه هم د ستائنې وړ

دي که يو خوا هغه ډېر د لوړې پايې شاعر ګڼلے شي نو بل خوا هغه د يو ستر نقاد ، اديب او دانشور په حېث هم په پښتو ادبياتو کښې لوړ مقام لري۔

قمر راهي صېب مقالې هم ليکلي ، مضمونونه او رپورتاژونه هم ، شاعري ئې هم کړې او ترجمې هم ۔او د جديد ادب په معيار د دوئي داکار او زيار ښهٔ په زړهٔ پورې حېثيت لري۔خو د يو نقاد په حېث د دوئي هاغه تنقيدي خاکې (قمر راهي صېب ورته کرښې وائي ) چې په ,, قند ،، کښې به چاپ کېدې۔د دوئي د تنقيد درنه برخه ده۔که يو خوا دغه تنقيدي کرښې چې قمر راهي صېب د خپل تنقيدي شعور په بنياد د ليکوالو د فن او شخصيت سره سره د هغوي د ژوند سره تړلي اشارې پکښې داسې په خوندناکه او لنډه پيرايه کښې بيان کړې شوې چې سړے ئې تنقيدي شعور ته حېران شي ۔نو بل خوا دغه تنقيدي کرښې د تنقيد درنه برخه د نثر د اعلی معيار نمونې هم دي۔زهٔ دا خبره په وثوق سره کوم چې د دوئي ددغه تنقيدي کرښو د نثر په فني جاج ښهٔ په زړهٔ پورې کار کېدے شي۔راځئ چې د قمر راهي صېب ددغه کرښو ( خاکو ) نه د يو څو ليکوالو په حقله خوند واخلو۔

کاکاجي صنوبر حسين مومند :-

د ويړې پښتونخوا کاکاجي ،يو خوږ او درومند شخصيت عظيم ليکوال ، يوه داسې اداره چې ادارې پرې راغونډېږي ۔

کاکاجي سره دنظريې اختلاف کېدےشي ولې سره ددې دټولو سترګې کاکاجي ته دي.ځکه چې دپښتوادب دبوټي دښېرازۍ دپاره چا خپله خوله پېش کړې ده نو کاکاجي خپله وينه[1].

سمندر خان سمندر :-

چې پښتون ؤ نو سمندر بـه خـامخا پېژني.د پښتو ژبې نومـوړے شـاعر او ليکـوال ، پښـتو ژبـې تـه ئـې دومـره څـۀ بخښلي دي چې پښتو به پرې تل تر تله نازيږي[2].

دوست محمد خان کامل :-

شاعر ، اديب ، فلسفي ، مفکر، مؤرخ ، کامـل د ادب په ټولو اصنافو حاوي دے.کامل په رښتيا کامل دے او کمال ئې داد ے چې د پښتونخوا ټول پښتانۀ ليکوال ئې د نظريې د اختلاف سره سره خپل مشر ګڼي[3].

محمد اسلم خان کمالي :-

د کمـال زو د درنـې تپـې سـره د تـړون لـه کبلـه ځـان تـه کمالي وائي.ولې ماته خو ئې کمال دا ښکاري چې ددې غاړې

[1] قمر راهي فن او شخصيت ، ترتيب غمګين معيارے ، کوثر پريس مردان ، ۱۹۹۲ء ، مخ ۱۸۵
[2] قمر راهي فن او شخصيت ، ترتيب غمګين معيارے ، کوثر پريس مردان ، ۱۹۹۲ء ، مخ ۱۸۵
[3] همدغه ، مخ ۱۸۲

په غټانو کښې هغه ورمبے خان دے چې په پښتو ژبه ئې ننګ کړے دے او شعرونه پکښې وائي[1].

اجمل خټک :-

يو داسې انسان چې ژوند ځان ته غاړ نۀ ايستے شو او ژوند ئې ځان ته داسې ترغاړه ايستۀ چې ژوند پکښې واخلے شو۔ يو داسې ريښتينے فنکار چې د ليک نه ئې د خپلې وينې بوئي راځي۔ ځکه چې قلم په خپله وينه کښې چوکه کوي او ليکي۔ شعر ئې په لوستونکي غوني زيګ زيګ کړي ۔ ځکه چې اجمل په رښتيا د تخليقي کرب نه تيريږي ۔ کوم شعر ئې چې په لوستونکي دا اثر اونۀ کړي نو يا به هغه د اجمل شعر نۀ وي يا به هغه هنګامي او وقتي څيز وي چې هغوي به ئې هم په خپلولو کچه کيږي[2]۔

دا دے د قمر راهي صېب د تنقيدي کرښو (خاکو) يو څو نمونې چې تاسو ولوستې۔ اوس راځو د راهي صېب شعري هنر پله۔

څۀ رنګ چې نوموړي قمر راهي صېب په نثر کښې د خپل قلم فنکارې ښودلې ده ۔ هم دغه شان د دوئي شاعري د اعلى پائې ده ۔ نظمونه ، غزلې او دغه شان د نورو ژبو نه

1 قمر راهي فن او شخصيت ، ترتيب غمګين معيارے ، کوثر پريس مردان ، ۱۹۹۲ء مخ ۱۸۲

2 همدغه ، ، مخ ۱۸۹

منظـومې ترجمــې د راهــي صــېب د فنکارانــه صــلاحيتونو ځانګړې نمونې دي. خو کوم خوند او رنګ چې د راهي صېب په غزل کښې موجود دے نو د هغې په وجه مونږ راهي صېب په بنيـادي ډول د غـزل شـاعر ګڼلے شو. د راهي صېب غـزل د وخت د تقاضو ترجمان غـزل دے. د غـزل بنيـادي جوړښت ئې موزون دے. او رومانيت له ئې په پراخدلۍ په خپل غزل کښـې ځائے ورکړے دے په فني لحاظ هم د راهي غـزل د ستـائنې وړ دے او په دې خبره کښې هيڅ شک نشته چې د ښاغلي راهي صېب غزل د جديدې شاعرۍ نمائنده غزل دے.

راهي صېب په خپل غزل کښې هرې موضوع له په ډېره خوندناکـه طريقـه ځـائے ورکـړے دے. د جماليـاتي خونـد او تهذيبي رنګ سره سره طبقاتي ظلم د دوئي په غـزل کښـې د اظهار لويې ذريعې دي.

لمبـه لمبـه دے سـور تنـور دے د ښـارونو موسـم
چــې د بــادارو پــه ولقــه دے د وختونــو موســم

مـونږ کـه ډېر مينـې تـه لېـوال يُـو خـو حـالاتو اوسـو
لـوګے لـوګے دے لـوغړن دے نـن د زړونـو موسـم

ستا د وجود سراغ ناڅاپه نګهتونو راکړ
ما وې چې څنګه يو مخيز شه د ګلونو موسم

راځئ چې مخې له ور اوځو هر کلے ئې اوکړو
اخري ځل دے چې راځي د زنځيرونو موسم

مونږ به د مينې او ښکلا خبرې څنګه کوو
څو چې بد رنګ دے د کوڅو او بازارونو موسم

چې تندرونه پکښې پټ وي غرونه اولړزوي
لږ خو راکوز شه مېداني شه دا د غرونو موسم

جبر دے غم دے مايوسي ده راهي زغم اوخوړو
داسې هم نۀ ده چې به تل وي د دردونو موسم[1]

دې قام پرست او ترقي پسند شاعر د غزل سره سره په نظم کښې هم د روانو حالاتو ښۀ پوره پوره جائزه اخستې چې څۀ ئې ليدلي ، محسوس کړي هغه ئې شعر ته سپارلي . اسانه او روانه ژبه د دوئي د نظم خاصه ده . هر لوستونکے او

1 قمر راهي ، څيره ، کوثر پرنټنګ پريس مردان ، ۱۹۹۸ء ، مخ ۱۵۱

اوريدونکے ئې په معنٰی او مقصد ښهٔ په اسانه پوهېږي ـ د زياتو نظمونو سرنامې ئې د انګرېزۍ ژبې دي ـ خو دغه نامې چې کوم معنوي پس منظر لري ـ شايد په پښتو کښې ورته دا ټکي نهٔ ښکاري ـ بيا هم هر څهٔ چې دي خو راهي صېب د نظم په فن ښهٔ ګرفت لري ـ زياته طبع ئې آزاد او معرا نظم ته جوړه ده او راهي صېب د خپل يو خاص مقصد ته د رسېدو په غرض په دې پوهه دے چې څهٔ وئيل پکار دي څنګه وئيل پکار دي د کوم ځائے نه شروع پکار ده او کوم ځائے ته رسېدل پکار دي ـ چې د خپل سوچ او نظرياتو د اظهار دپاره ئې يو شعوري زيار دے ـ دا نمونې ئې تاسو هم اولولئ ـ

د نوي کول په نوم

دلته د مينې قتل عام ؤ چې پکښې راګير شوم
د نفرتونو په مقتل کښې چا په نخښه کړمه
هسې د شکل نه خو عام غوندې بنده ښکارېدم
زما افکار زما د قتل د فتوې باعث شو
زهٔ څو څو واره دې کوڅو کښې قتل شوے يمه
زهٔ شايد نهٔ يمه که يم د خپل کا لبوت سېورے يم
زما د سترګو خوږېدو هسې هم څهٔ پاتې دي
چې بازارونو کښې چا ونه قدرې هم پرې نهٔ خوه
لارې کوڅې او بازارونه څهٔ ناجانه ښکاري

ځکـه خپـل ځـان تـه هـم پخپلـه لاروے ښـکارمه
د سترګو رپ کښې څۀ پاؤ کم يوه صدي تېره شوه
زما ملګري څۀ خو مړۀ دي څۀ په مړو حساب دي
دلته زۀ خپل ځان ته حېران شم چې زۀ څۀ ته ناست يم
که ژوند پرست يم نو ملګري مې هم ټول داسې وو
زمونږ سرونو کښې سودا وه چې رڼا به نۀ مري
د چا سرونو کښې يو خبط ؤ چې رڼا به وژني
مونږ د ګلونو او رنګونو په تلاش کښې ورک وو
مونږ د انسان د خپلواکۍ رنګين خوبونه ليدل
دلته نزدې چرته په پوله چا شبخون اووهه
دغه صحرا راته احساس د ے مونږ عبور نۀ کړې شوه
مونږ چې ئې بيا دې لوئې دشتې ته په شا ديکه کړو
اوس نو ے کُول د ے چې په سپوري پيتاؤښۀ پوهه د ے
اوس به په پټو سترګو ګورې چې صحرا عبور کړي[1]

POLLUTION

چار چاپېره دندوکار د ے تور لوګي دي
دوړې الوځي په سترګو کښې پريوځي
سور ګلاب اوسپين چامبېل پکښې خړپړ شي

1 قمر راهي ، څيره ، کوثر پرنټنګ پريس مردان ، ۱۹۹۸ء ، مخ ۳۱۴، ۳۱۵

د چمن ګوشه ګوشه ، ایره ایره شي
چې ئې پاڼې تکې تورې په لوګو شي
خوشبو قتل شي هر ګل پکښې سر بائیلي
مرغۍ تښتي بوراګان هم کډه اوکړي
په دې دشته سوراړه کښې به څۀ ژوند کړي
دا خوړونه جوړ د خپله شوره تنګ وو
کړاغې سترګې ئې راوتې دي اوچ کړس دي
بې هنګمه شو رفتار رندہ کته کړي
ښارېې او بازارونه لېوني شي
د تپې مړې خپې شي په دې شور کښې
تنګ ټکور او سرودونه لکه ګنګ شي
صنوبر او چنارونه لکه ډډ شي
علامت چې د مضبوطو شان ځوانو وو
یو چې پرېوځي یو زلمے لکه سر اوخوري
خدائے دې نۀ کړي یو زلمے هم ځواني مرګ شي
په دې سخا خیرن خچن ماحول کښې اوسو
که علاج ئې هر څو ګران دے خو ممکن دے
د انسان[1] دننه هم الودګي ده
کرکه بغض دے حسد منافقت دے

---

[1] انسان ما د بنیادم په عمومي معنو کښې استعمال کړے دے (راهي)

د ښکلا سره چې تل مشت او ګرېوان دي
دا همه واړه د مينې قاتلان دي
تشدد دے يو دهشت په وطن خور دے
داسې خوف دے خپلو سوېرو نه هم رېږدو
څو چې دا سخا والے اونۀ ځي له مېنځه
نور ماحول به ټول هم دغسې کرکژن وي[1]

ښاغلے اياز داؤد دے صيب ليکي :-

,,وئ چې شاعري د خپل قوت انتها ته ورسي نو بيا الهامي صداقت ځان ته راترغاړه باسي . د سپيځلي روڼ او د مکان د رسايۍ نه د هسک تصور بريدونه ورکي ، رفعتونه او وسعتونه که څوک کتل غواړي نو بايد د راهي د نوي معرٰی نظم مطالعه وکړي . دغه داسې شاهکارونه دي چې په نړي وال نوي جديد نظم کښې به ئې ډېر کم تخليقات سيالي وکړے شي . د هغه غزل هم داسې غزل دے چې د غزل غزاله ئې تغزل ته په حېرت کښې د ځان نه ورکه شي . د راهي د

1 قمر راهي ، څيره ، کوثر پرنټنګ پريس مردان ، ۱۹۹۸ء ، مخ ۲۴۲ ، ۲۴۳

شاعرۍ په شعريت کـه څـوک ځـان پوهيـول غـواړي
نو بيا دې د جـارج سـنتـايانه (George Santayana)
دا وينا ځان ته راوړاندې کړي.

,, پـه شعر کښـې شـعريت هلـه پيـدا شـي چـې د
موزون الفاظو انځورګري (Imagery) د نغمه خېزو
ترکيبونو عنايت د تخيل د جګ نـه جګ پـرواز نـه د
محسـوس احسـاس د شـدت اخـري حدونـه او د
لړزيـدلې جـذبې د لـړزان وجـد اخسـتې ارتعـاش د
وجـان د طلسـماتي اسـتعجاب او د بصـيرت او
بصارت جوهر پـه خپلـه بخملـي او ريښـمينه غيـږه
کښې ځائې کړي.

د راهي شاعري مړ ژوانده هوسونه ، ارمانونـه ،
غوښتنې او هڅې د خپـل تخليقـي فنکـارۍ پـه آب
حيات تانده کړي او مدامي ژوند روبخښي [1] ،،

ډاکټر محمد همايون هما صيب ليکي:-

,, قمـر راهـي د شـلمې پېـړۍ د پښـتو ادب يـو داسـې
دروند او اهم شخصيت دے چې د هغه د ذکر نه بغير
د پښـتو د جديـد ادب تـاريخ بـه همېشـه نيمګـړے

1 اياز داؤدزے ، خوشبو او ښکلا ، د راهي د فن جوهر ، (مقاله)
مشموله څيره ، مصنف قمر راهي ، څيره ، کوثر پرنټنګ
پريس مردان ، ۱۹۹۸ء ، مخ ۲۴۲ ، ۲۴۳

ښکاري .ماته په دې وېنا کښې هېڅ باک نهٔ معلومېږي چې هغه د خپل درديدلي احساس او د چاپېرچل د ژور شعور نه په ډکه شاعرۍ د روان دور د ادب ټوله منظر نامه روښانه کړې ده .د هغه نظم او غزل دواړه د ژوند د حقيقتونو په ادراک اډانه وي .د نازکو احساساتو د بيان سره د مترقي خيالاتو ډېره ښکلې ترجماني کوي او په خپله لمنه کښې ئې د نوي او د تازه معنويت د ډکشن بې شمېره ملغلرې راټولې کړې دي.هغه د خپل رسا ذهن او د شاعرانه مزاج په ډاډ د شاعرۍ د فن په غوښتنو هم پوهېږي او د خبرې د شاعرانه ابلاغ په ضرورتونو هم رسي.هغه د ژوند د بې شمېره ترخو حقيقتونو او په تېره تېره د قام ولۍ د جذبې او د سياسي موضوعاتو د اظهار دپاره هم د نعره بازۍ په ښارو شُد باړو د تګ نه ډډه کړې ده ځکه خو د هغه د کلام خواږهٔ ذهن او زړهٔ ته يو شان اپيل کوي[1]،،

څهٔ رنګ چې راهي صېب د پښتو ادب په مختلفو ميدانونو کښې د خپل قلم زور خودلے دے .دغه رنګ د يو مترجم په

1 هما ، محمد همايون ,, پلېپ ،، مشموله ، څېره ، مصنف قمر راهي ، کوثر پرنټنګ پريس مردان ، ۱۹۹۸ء ، شاپاڼ

حېث هم د دوئي نامه د ستائينې ور ده ـ دوئي د خپلې نظريې په مماثلت د نورو ژبو منظوم اثار په خپله مورنۍ ژبه کښې په داسې خوندناک ډول ژباړلي دي چې د ترجمې ګمان پرې نۀ کيږي ـ

راهي صېب په خپلو منظومو ترجمو کښې د خپل نظرياتي سوچ او فکر ښۀ پوره پوره خيال ساتلے دے ـ په دغه نظمونو کښې ځنې نظمونه د لويدلې طبقې د نمائندګۍ ائينه دار دي ـ

اکبر حيات کاکاخېل ليکي :-

,, د يو مترجم په حېث هم راهي صېب په پښتو ادب کښې خپل يو شناخت لري ـ اګرچې هغوي ډېرې لږې ترجمې کړي دي خو ښې ئې کړي دي ـ د اردو او مغربي ليکونکيو ځنې شاهکار ليکونه هغوي پښتو ته راړولي دي او د ادبي حلقو نه ئې داد وصول کړے دے ـ راهي صېب د ترجمې په فن پوهه دے ـ د لفظي يا محاوراتي ترجمې قايل نۀ ښکاري ـ بلکې د اصل فنپارې روح ۇ تهيم او يا د هغې مقصد په تخليقي انداز کښې خپلې ژبې ته را اړوي ـ او بيا په دغه ترجمه کښې په تخليقي طريقه د مقاميت داسې رنګونه پېدا کړي چې د ترجمې ګمان پرې نۀ کيږي ـ

او د هغۀ ترجمه کړې شوې فنپاره د پښتو خپله فنپاره ښکاري[1]،،

ددې ستر یوسفزي پښتون او ادبي سرخېل ښاغلي قمر راهي صېب د خور وور شخصیت خوارۀ وارۀ رنګونه زما د بصارت د دائره اثر نه ډېر زیات تجاوز لري ـ باید چې د دوئي د ژوند او فن په حواله په بشپړه توګه کار اوکړے شي ـ د دوئي زېږون ځائے خانداني پس منظر او ادبي مقام په حواله به د ډاکټر محمد همایون هما صېب په دې لنډه خو جامع تجزیه اکتفا اوکړم ـ ډاکټر صېب لیکي :-

,, یاد ادیب ،صاحب طرزشاعر ، د پښتو د صحافتي ادب یو ځلنده نوم ـ د خپلې کورنۍ قمرالزمان چې په ادبي دنیا کښې قمر راهي یادېږي ـ د منډن د زړګي ځړیکه او په یوسفزو کښې د کمالزۍ تپې سدي خېل پښتون دے ـ د هغوي د پلار نوم عبدالحکیم دے ـ زېږیدونېټه ئې ۱۵ دسمبر ۱۹۲۴ء ښودلې شوې ده ـ

محترم قمر راهي د پښتو ژوندي ادب د لارویو داسې لاروے دے چې د نیمې پیړۍ نه ئې هم د زیات وخت نه د خپلو لیکونو د ادب لارې روښانه کړي دي ـ

[1] کاکا خېل اکبر حیات ( مقاله ) ,,سرسري ،، مشموله د قمر راهي فن او شخصیت ، مرتب غمګین معیارے ، کوثر پریس مردان ، ۱۹۹۲ء، مخ ۷۲

اوس د هغوي سينه د ادبي تجربو خزينه شوې ده او قلم ئې د ټکو د حرمت امين دے هغه يو داسې ليکونکے دے چې د فکر پلوشې ئې فن ته دوام بخښي او د فن ښائست ئې د فکر ابلاغ ته يو انفرادي اسلوب ورکړے دے .دا د درونډ خويه قمر راهي وضعداري ده۔ چې هغوي لاتر اوسه نهٔ خو د څهٔ جدا مکتب فکر د سرخېلۍ دعوٰی کړې ده او نهٔ ئې د ادبي ليډرۍ چغه وهلې ده۔ ګني رښتيا خبره خو دا ده چې د هغوي نه په عمر او فکر ډېر کچو خلقو په خپلو سينو خود ساخته تمغې ټومبلې دي[1] ،،

---

[1] هما ، محمد همايون ، ,, فلېپ ،، مشموله د قمر راهي فن او شخصيت ، مرتب ، غمګين معيارے ، کوثر پريس مردان ، ۱۹۹۲ء شاپانه

# پروفېسر محمد نواز طائر

ځهٔ رنګ چې پښتون قام د تاریخ په خورو ورو پاڼو کښې د خپل مېړنتوب او ننګ له خاطره د یادونې وړ مقام لري دغه رنګ د پښتونخوا هره سیمه د خپل تاریخ تهذیب او ثقافت له مخه یو ځانګړے حېثیت لري . په دې لړ کښې د ملاکنډ سیمه لکه د نورو سیمو د خپل تاریخ او ثقافت یوه داسې نمونه ده چې ثاني نهٔ لري . د پېرنګي استعمار خلاف دې خاورې دوه عظیم جنګونه لیدلي دي چې د ۱۸۹۵ء او ۱۸۹۷ء په کلونو کښې ددې ځائې ننګ پال اولس د خپل ازاد خیال او فطرت له مخه کړي وو .

د ازادۍ په جنګ کښې ددې سیمې اولس ښهٔ برخه اخستې وه چې د ګران وطن د تاریخ لویه سرمایه ده .

د ادب په سلسله کښې هم لکه د پښتونخا د نورو سیمو دې خاورې د قدر وړ ادبي هستۍ زېږولي دي چې د پښتو ادب د پرېمانه خدمت په وجه د ژبې او ادب په تاریخ کښې د تل عمري یادونې جوګه دي .

,, تاڼه ،، دا کلے چې په ټوله پښتونخوا کښې د علم و

ادب په حواله یو روښانه نوم لري ـ ددې ځائے سکولونه کالجونه او علمي ادبي ځایونه د تېرو سلو کالو نه زیات په ټوله سیمه د علم و ادب د خوږې چینې اوبهٔ پېرزو کوي ـ او د ملک په هره شعبه کښې ددې کلي ,,تانې ،، بې شماره ځوانان د وطن د ترقۍ دپاره خپل خدمات ترسره کوي ـ

پروفېسر محمد نواز طائر صېب هم ددغه ادب خېزه خاورې ,,تانې ،، یوه درنه ، علمي او ادبي هستي ده څوک چې په پښتو ادب کښې د پېژندګلو متازې نهٔ لري ـ

پروفېسر اباسین یوسفزے لیکي :-

,, پروفېسر محمدنواز طائر د پښتو ادب یوه منلې ، وتلې او سپېڅلې نامه ده چې د هېڅ تعریف او تعارف محتاجي نهٔ لري ـ د علمي او ادبي خدماتو د اعتراف په توګه ورته د وطن د ټولو نه لوئے ایوارډ صدارتي تمغه ورکړې شوې ده [1] ،،

ممتاز ماهر تعلیم د پښتو اکېډیمۍ پخوانے ډائرېکټر پروفېسر محمد نواز طائر چې د حکومت پاکستان له خوا ورته د خپلو درنو ادبي خدماتو په لړ کښې تمغه حسن کارکردګي هم ورکړې شوې ده ـ هم ددغه کلي ,,تانې ،، د خان خېلو په

1 اباسین یوسفزے ، ,,فلیپ،، مشموله ، د بوډۍ ټال ، مصنف محمد نواز طائر ، جدون پریس ، پېښور ، ۲۰۱۲ء ، شاپانه

کورنۍ کښې د مرحوم عبدالاکبر خان کره په یکم جولائي کال ۱۹۳۴ء کښې زیږیدلے دے.

موصوف لسم جماعت د خپل کلي تانې د تاریخي هائي سکول نه کړے دے او بیا ئې د ځوارلسم پورې سبق په اسلامیه کالج پېښور کښې اووې.

,, دغلته د کالج د مشهورې رسالې ,, خیبر ،، د ادارت ذمه واري ورته هم اوسپارلې شوه چې تر ځلورو کالو پورې ئې ښۀ په کامیابۍ اوچلوله. بیا وروستو تر دوه ؤ کالو ددغې رسالې د پښتو برخې نګران هم پاتې شو. خو ورسره ورسره د مسلم سټوډنټس فیډریشن سرګرم کارکن او د کالج د ,,جیاګرافیکل ،، سوسائټۍ ،، باني غړے هم وو. ددې کالج د ,,بزم ادب ،، یو فعال کارکن او ممبر او بیا وروستو مشر سکتر هم وو[1] ،،

موصوف په کال **۱۹۵۵**ء کښې د اسلامیه کالج پېښور نه د ځوارلسم ډګري تر لاسه کړه او په جغرافیه کښې د ماسټر کولو دپاره د لاهور ګورنمنټ کالج ته لاړو. چې هلته ئې د پښتو لوئے لیکوال پروفېسر جهان زیب هم ملګرے وو. د

[1] مسافر ، اخونزاده فرمان ، ځلنده ستوري ، حمیدیه پریس پېښور ، اول اشاعت ، اګست ۱۹۸۴ء ، مخ ۲۹۳

لاهور په علمي او ادبي ماحول کښې ئې نوره هم روزنه او پالنه اوشوه او د هغه ځائے په ادبي حلقو کښې ئې ناسته پاسته اوکړه. په دغه زمانه يعني کال ۱۹۵۲ء کښې ئې د کالج له خوا د هندوستان مطالعاتي دوره اوکړه او بنګال ته هم لاړو.

په دې دوره کښې هغه د برصغير مشهور ښارونه او تاريخي مقامات هم اوليدل چې پکښې دهلي ، کلکته ، رامپور ، لکهنؤ ، کانپور ، علي ګړه ، ډهاکه ، چټاګانګ ، تاج محل اګره ، د دهلي لال قلعه ، قطب مينار ، د اصف جاه او اکبر باچا مقبرې د لکهنؤ او ډهاکې د نوابانو محلونه د ډهاکې ، کلکتې او علي ګړه يونيورسټۍ وغېره ټول ځايونه شامل وو. په دې سفر کښې هغۀ د بنګالۍ ژبې د مشهور شاعر نذرالاسلام بنګالي نظمونه هم ترجمه کړل[1].

طائر صېب ته په جغرافيه کښې د ماسټر کولو نه پس په جهان زېب کالج سوات کښې د لېکچرر شپ اووئيلې شول ولې دوئي په ډېره مينه د والي سوات د خلوص شکريه ادا کړه او د سي ايس ايس د تيارۍ دپاره پېښور کښې ايسار شو. دلته ئې په فارسۍ کښې هم د ايم اے ډګري واخسته. او د پښتو اکېډيمۍ د باني مولانا عبدالقادر صېب په وېنا ئې په

1 رحيم شاه رحيم ، ,,مقدمه ،، مشموله، ادب تراش ، پروفېسر محمد نواز طائر ، جدون پرېس پېښور ، نومبر ۲۰۰۲ء ، مخونه ۲۱۴ ، ۲۱۵

پښتو اکېډيمۍ کښې په کال ۱۹۵۸ء کښې د جونئير ريسرچ افيسر په حېث د ادب رېګزار ته د تګ پېزار په خپو کړل.

په دې دوران يعني کال ۱۹۶۰ء کښې موصوف په پښتو ادب کښې آنرز اوکړو او په کال ۱۹۶۲ء کښې د ايم اے پښتو ډګري هم تر لاسه کړه. او داسې ئې د پښتو ادب خدمت ته ملا اوتړله چې تر دې دمه ئې بې شمېره علمي کتابونه پښتو ته ډالۍ کړل. چې پکښې د تحقيق او تنقيد نه علاوه د شعر و شاعرۍ کتابونه شامل دي.

اروابناد ايوب صابر صيب ليکي :-

,, محمد نواز طائر کا شمار پشتو اکیڈمی کے ممتاز ریسرچ سکالروں میں ہوتا ہے۔ اگرچہ ادب میں ان کا منصب ایک باشعور، تعلیم یافتہ اور بالغ نظر محقق کا ہے مگر دیگر میدانوں میں بھی وہ نچلے بیٹھنے والوں میں نہیں۔ انہوں نے پشتو ادب میں کئی اونچے مقالات کا اضافہ کیا ہے۔ بے شمار آزاد اور مقفیٰ نظمیں تخلیق کی ہیں اور ایک اچھا رپورتاژ بھی کتابی شکل میں پیش کیا ہے اس کے علاوہ تراجم کے میدان میں ان کی خدمات سے انکار کیا ہی نہیں جا سکتا وہ اب تک بنگالی اور انگریزی کی کئی اچھی نظموں کے پشتو میں منظوم تراجم کر چکے ہیں اور اپنی صلاحیت کی دھاک بٹھا چکے ہیں[1]،،

---

[1] ايوب صابر ، جديد پشتو ادب ، شاهين برقي پريس پشاور ، جون ۱۹۷۴ء ، بار اول ، مخونه ۲۷۲ ، ۲۷۳

ځنګه چې ما وړاندې ذکر اوکړو چې طائر صېب تر دې دمه د پښتو ادب ځولۍ ته بې شمېره کتابونه ډالۍ کړي دي . ضروري ګڼم چې د لوستونکو دپاره ئې په دې لنډه تنګه مقاله کښې تر خپله وسه ذکر اوکړم.

,, روهي ادب ،، د پښتو د کلاسک ادب يو زړۀ پورې تحقيقي او تنقيدي کتاب چې د پښتو ادب د شائقينو دپاره عموماً او د تحقيق د طالبعلمانو دپاره خصوصاً د زدکړې وړ زيار دے . د کوم نه چې تر دې دمه د پښتو ادب مينه وال او طالبعلمان استفاده کوي او په پښتو ادب کښې د سر په څو اهمو کتابونو کښې د اهميت وړ يو کتاب دے.

اروابناد پروفېسر پريشان خټک صېب ليکي :-

,, روهي ادب ،، چې د ,, روه ،، په مناسبت ورته دا نوم خوښ کړے شوے دے . په دې کتاب کښې د ادبي اثارو په لړ کښې حوالې هم شته او اشارې هم . دې کار ته مونږ تحقيق هم وئيلے شو او ترتيب او تکميل هم[1] .

مېرمن ياسمين پرويز احمد خان ليکي چې :-

,, اس کتاب کی اہمیت کا اندازہ اس بات سے بخوبی لگایا جاسکتا ہے کہ نہ صرف یہ کتاب پشتونوں میں بیحد مقبول ہوگئی ہے بلکہ اب تو دیگر زبانوں میں بھی اس کے

---

1 پريشان خټک ، سريزه ,,حرف اول،، ، روهي ادب ، پروفېسر محمد نواز طائر ، دويم چاپ ، ۱۹۸۲ء جدون پريس پېښور ، مخ ۱۲

تراجم کے تقاضے ہورہے ہیں۔اس لیے کہ غیر اہل زبان اس بات کے خواہشمند ہیں کہ وہ بھی پشتوزبان وادب کے تاریخی پس منظر تک رسائی حاصل کر سکیں۔

روھی ادب کے استناد کا اندازہ اس بات سے بخوبی لگایا جاسکتا ہے کہ یہی کتاب پشتو ادبیات میں "ایم اے"۔ "ایم فل" اور "پی ایچ ڈی" کرنے والوں کے لیے ایک درسی کتاب کے طور پر انکے نصاب میں شامل ہے[1]،،

,, نالیدلے سوات ،، دا کتاب د سوات د ګلورینې سیمې سفرنامه ده۔چې په تحریر ئې د رپورتاژ مینه ماتیږي۔ دا کتاب د سوات د ښائستونو او ښکلاګانو سره ددغه سیمې د ژوند ژواک په حقله ګټور معلومات رامخې ته کوي۔

پشتو زبان و ادب (ایک مطالعه) ,,اردو ،، دې کتاب کښې طائرصیب د اردو دانې طبقې سره د پښتو ادب پېژندګلو په مختصره ولې په جامع او مؤثر انداز کښې کړې ده او د بعضې غېر پښتو ژبو تکو نه ئې په تحقیقي انداز کښې غندلي دي۔

,, روهي متلونه ،، په دې کتاب کښې د پښتو متلونو یوه لویه ذخیره راجمع کړې شوې ده۔اګرچې پښتانۀ ئې په قدر

1 مېډم یاسمین ، سریزه ، روهي ادب ایک تعارف ، مرتب پروفېسر محمد نواز طائر ، ترجمه سید صفدر علي شاه ، اشاعت اول ، ۱۹۸۷ء جدون پریس پشاور ،صفحات ۱۰، ۱۱

نۀ پوهېږي. ولې د ژبې او ادب دې لوئے قدردان ورله دغه درنه پنګه محفوظ کړې ده.

,, د پښتو متلونو کار هغۀ په ۱۹۵۸ء کښې شروع کړے ؤ. او په ۱۹۷۲ء کښې ئې سرته ورسؤلو په کومې کښې چې د حروف تهجي په حساب د پښتو ژبې دولس زره متلونه په کتابي شکل کښې محفوظ کړے شول[1]،،.

په دې زيار د امريکې يو محقق ښاغلي لن بارلوتي د اکسفورډ يونيورستۍ انګلستان نه د پي ايچ ډي ډګري هم اخستې ده.

د متلونو دا ضخيم کتاب د اکېډيمۍ له خوا چاپ شوے دے. ددې نه علاوه دا کتاب په اردو پښتو کښې يو ځائے او بيا صرف په اردو کښې په دوؤ جلدونو کښې د اکېډيمۍ له خوا خور شوے دے او ده MR.T.C. Edwards سره په شريکه طائر صېب په انګريزۍ ژبه کښې ترجمه کړو چې د اکېډيمۍ له خوا په کال ۱۹۸۲ء کښې چاپ شوے دے[2].

---

1 رحيم شاه رحيم ، ,,مقدمه ،، مشموله، ادب تراش ، پروفېسر محمد نواز طائر ، جدون پرېس پېښور ، نومبر ۲۰۰۲ء ، مخونه ۲۱۲

2 سيماب شبر زمان ، ,,پروفېسر محمد نواز طائر ادبي اثار ،، مشموله دستار پېښور ، جنوري ، فروري ۲۰۰۷ء ، مخ ۲۲

,, پرواز ،، او ,, د ژوند سندره ،، ئې ببل ببل طويل نظمونه په کتابي شکل کښې منظر عام ته راغلي دي چې د موصوف د علميت او فلسفيانه افکارو ثرګندونه ترې کيږي.

,, په پښتو کښې د ماشومانو سندرې او صوتونه ،، طائر صېب د ماشومتوب هغه سندرې او صوتونه راغونډ کړي دي. چې اکثر زمونږ نه هير شوي دي. ولې دا عظيم پوهان چې يو وسيع نظر لري د خپل تهذيب او ثقافت لوئے قدردان دے او غواړي چې د خپل اولس دغه سرمايه محفوظه کړي او د وخت د خونړي سېلاب نه ئې بچ کړي. دغسې د طائر صېب هر تحقيق او تصنيف د پښتون قام د روښانه کولو لوئے زيار دے.

,, ټپه او ژوند ،، په دې حواله طائر صېب دوه ضخيم کتابونه ليکلي چې پکښې ئې د ټپې په رڼا کښې د پښتني ژوند خاکه پېش کړې ده. موصوف د اکېډيمۍ له خوا په خپور شوي ,, ټپه او ژوند ،، په پېش لفظ کښې ليکي :-

,, د ټپې دا مطالعه يو تجرباتي تکل دے . محض ددې دپاره چې ددې مېدان محققين او نور شائقين هم دې ته توجه اوکړي ځکه چې زما دا خيال دے چې د پښتون اولس د جغرافيائي ماحول او ددهٔ د معاشرتي او تمدني ژوند هر اړخ او ددهٔ د عمومي ژوند ژواک ، رسم و رواج او د ماضي او حال ټول عکسونه

سره د دهٔ د احساساتو او جذباتو شدت په ټپه کښې موجود دي[1] .

د طائر صېب ددې زيار د ارزښت په حواله د خيبر پښتونخوا ايډيشنل چيف سېکرټري عطاالله خان ليکي :-

,, ټپه او ژوند ،، د ښاغلي يو داسې ځانګړے او په زړهٔ پورې کوشش دے چې د هر چا نه مختلف او يو جدا حېثيت لري ـ دهٔ نهٔ صرف د پښتو دا خوږ صنف راجمع کړو بلکې په سائنسي بنياد ئې ورله يو داسې تحقيقي سرچينه تياره کړه چې د هرې موضوع بېل بېل مېدان ئې په يو خوږ انداز کښې جدا په دې غرض اوساتلو چې که په کومه موضوع چاته د يوې ټپې در درک لټول وي نو هغه به ورته په دې کتاب کښې په اسانه په نظر راځي[2] ،،

,, ادب تراش ،، او د ادب تراش دوېمه برخه ,, ادب ساز ،،

---

1 طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ټپه او ژوند ، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي ، غني سنز پرنټرز محله جنګي ، ۱۹۸۰ء ، مخ ۴

2 عطاء الله خان ,, يو څو خبرې،، (سريزه) مشموله ، ټپه او ژوند ، پروفېسر محمد نواز طائر ،حکومت خيبر پښتونخوا د ثقافت محکمه ، جدون پريس پېښور ، ۲۰۱۲ء ، مخ ۵

پروفېسر محمد نواز طائر صېب د خپل ژوند قیصه ( سوانح حیات ) په دوؤ ضخیمو کتابونو ,, ادب تراش ،، او ددې کتاب دوېمه برخه ,, ادب ساز ،، کښې لیکلې ده ـ دا دوه ضخیم کتابونه د طائر صېب د ژوند سره سره د دوئي د علمیت غمازي کوي۔

مېډم سلمٰی شاهین لیکي :-

,, ادب تراش ،، د پروفېسر محمد نواز طائر صېب خود نوشت سوانح حیات دے۔ دۀ د خپل ژوند قیصه په خپله په داسې انداز کښې لیکلې ده۔ چې هم سرګذشت دے هم تاریخ ، هم ادب ، هم تنقید ، هم رپورتاژ ، هم سفرنامه ، هم خود تنقید او هم خود کلامي ده۔ داسې علمي ادبي تحقیقي ادب پارې په پښتو کښې د نشت برابر دي [1] ،،

اروابناد رحیم شاه رحیم لیکي :-

,, ادب تراش د طائر صېب یوه داسې ډائرې ده چې په دې کښې هغه د اغاز نه واخله تر اخره پورې په خپل ټول ادبي او علمي ژوند په پوره

[1] مېډم سلمٰی شاهین ، ,, یو څو خبرې ،، ( سریزه ) ادب تراش ، پروفېسر محمد نواز طائر ، پښتو اکېډیمي ، جدون پریس ، نومبر ۲۰۰۲ء ، مخ ۴

تفصيل سره بحث کړے دے ـ ورسته ليکي ـ ـ ـ ادب تراش په مختلفو بابونو مشتمل دے ـ دا سوانح عمري هم ده ـ تاريخ هم ـ سفرنامه هم ده ادبي جائزه او تبصره هم ده او د مختلفو حالاتو او شخصياتو پحقله د بېش بها معلوماتو يوه قيمتي خزانه هم ده ـ ددې هر څۀ سره بيا دا خبره چې د طائر صيب انداز بيان دومره دلچسپ او پُرلطف دے چې هغې ددې کتاب ټوله مزه او دلچسپي برقرار ساتلې ده[1] ـ

ددې نه علاوه چې د طائر صيب کوم کتابونه د اشاعت په کالو ښائسته شوي د هغې نامې څۀ په دې ډول دي ـ

الـف

1. په عرفان د محمد — نعتيه مجموعه
2. خوبونه خپل کلي کښې — هائيکو
3. پښتو اکيډيمي ايک علمي اور تحقيقى اداره
4. لرغونے خوب — شعري مجموعه
5. د شعور ډالۍ — منظومه مجموعه
6. سباؤن
7. اولسي قيصې

[1] رحيم شاه رحيم ، ,,مقدمه ،، مشموله : ادب تراش ، ، پروفېسر محمد نواز طائر ، مخونه ۲۰۵ تا ۲۰۷

8. د سمندر عجائبات

9. لنډي ګامونه — قطعات

10. ورستے دیدن — شعري مجموعه

11. زیړے مازیګر — //

12. اوچه څانګه — //

ب

ترجمه کړې شوي آثار

1. د حاتم طائي سفرنامه

2. بنګالی سندرې — د بنګال د لوئے انقلابي شاعر نذرالاسلام د کلام ترجمه

3. زمونږ قائد

4. پیغام رسول

5. ویښ شئ ویښ شئ

6. مقدمه شعر و شاعري — د مولانا حالي د تنقیدي کتاب ترجمه

7. مسدس حالي — د مولانا حالي د مشهور مسدس ترجمه ده چې

نیمه برخه طائر صېب او نیمه ښاغلي مراد شنواري صېب د مولانا عبدالقادر صېب په خواهش کړې ده۔

8. کلام صوفیاء — د سندهي ، پنجابي او بلوچي صوفیاؤ د کلام د ځینو نمونو ترجمه۔

9. د دوستۍ سفر

ج ترتیب شوي اثار

1. صوبه سرحد پر پهلی لساني اور ثقافتي کانفرنس — دا کتاب د اکیډیمۍ له خوا د شوي لساني او ثقافتي کانفرنس په مقالو مشتمل دے۔

2. خلاصة الانساب — د طائر صېب ترتیب شوے او هم د فارسۍ نه ترجمه کړے شوے دا کتاب د دوئي د تحقیقي دیباچې سره د پښتو

اکېډيمۍ له خوا چاپ شوے دے .دا کتاب د پښتنو د نسب نامو په حقله معلومات لري چې دروهيلکنډ د رامپور د نواب حافظ رحمت خان روهيله شهيد تاليف دے.

3. ادم خان درخانۍ مثنوي : د صدر خان ختک دا مثنوي د طائر صيب د حاشيو او تحقيقي ديباچې سره د اکيډيمۍ له خوا چاپ شوې ده .د اصل کتاب مائيکرو فلم د برټش ميوزيم لندن څخه حاصل کړے شوے وو.

د : د موصوف ناچاپ اثار

1. په ټپه کښې د محاورې استعمال ,,څېړنه،،
2. مسافر په سفر تلے — د بهر ملکونو د سفر په دوران کښې ليکلې شوې شاعري.
3. يو ځلې بيا په دې لار — شاعري

4. جواب ئې راغے ليدے مې نشي //

| | | |
|---|---|---|
| 5. | ژوند جانان | هغه ټپې چې د طائر صېب په ډائريانو کښې ليکلې شوې وې -په دې ناچاپه مجموعه کښې په حروف تهجي سره راغونډې شوي اوترتيب شوي دي -چې شمېره ئې د ځلور نيم زرو پورې ده- |
| 6. | شعري مجموعه | دا مجموعه نوم نۀ لري -يو منظوم اثر دے چې ۳۲۸ مخونه لري- |
| 7. | دا قيصې دا افسانې | د افسانو مجموعه- |

Pukhto.Net پښتو

8. دوه ډائرۍ — د ريټائرمنټ نه پس پکښې خطونه ، سريزې ، مقالې او تقريظونه ليکلے شوي دي۔

9. د ۱۹۷۵ء راسې ليکلي نظمونه۔ دا ډائري نوم نه لري

10. د هندوکش په سر درو کښې — د کافرستان ناچاپه سفرنامه

11. باغ و بهار — د پښتو اولسي شعري اصناف پکښې شامل دي چې ډېرې تاريخي چاربيتې پکښې هم شته۔

12. د طائر مضامين — دا ټائپ نسخه ۲۱۲ مخونه لري او ښه پوخ جلد ۔

13. ښائسته چترال — د چترال رپورتاژ

| | | |
|---|---|---|
| .14 | د مينې استاذ ے | په پخه جلدبندۍ کښې ټائپ شوے يو منثور اثر دے۔ |
| .15 | د پښتو ادبياتو تاريخ | د ۹۳ مخونو منثور اثر دے |
| .16 | د غزلياتو مجموعه | ۱۹۹۲ء |
| .17 | منظومه مجموعه | په دې مجموعه کښې غزلې نظمونه او رباعيات شامل دي ۔او د مختلفو کلونو ليکلې شوي کلامونه پکښې شامل دي۔ |
| .18 | منثور مجموعه :- | دا مجموعه په کتابونو تبصرې ، زمونږ موسيقي ، ډرامه ، شپږ خانان ، فهرست لري نوم پرې نشته۔ |
| .19 | نغمه زار | شعري مجموعه |

Pukhto.Net پښتو

20. تمثيلچي — دا وړې وړې ډرامې چې نامې ئې دادي. د لور غم، واسکټ، خوشحال خان، په روسکېپل هال کښې ئې هم قلمي نسخه پرته ده.

21. يوه ډائري — څۀ برخه ئې د ژوند سندرې د نظم او نوره خوره وره شاعري ده.

22. ګيتانجلي — د رابندرناتهـ ټيګور د مشهور کتاب ترجمه چې هغه ته پرې د ادب نوبل پرائز ورکړے شوے وو[1].

23. د لويو لارو مسافر (سفرنامه)

24. ليدلي اوريدلي

[1] سيماب شېر زمان „ د پروفېسر محمد نواز طائر ادبي آثار ،، مشموله دستار پېښور، جنوري فروري ۲۰۰۷ء، مخونه ۲۱ تا ۲۵

25. تواريخ حافظ رحمت خاني ايډيټنګ ، حواشي او سريزه

26. ابدي سندره (پښتو)

27. منطق طائر (اردو)

28. دي سانګ آف ايټرنټي The song of Etermity انګريزي

29. تور پټکے (پښتو)

30. کالي پګړي (اردو)

31. خطبات بهاولپور ، د ډاکټر حميد الله د خطباتو ترجمه

دغه رنګ څۀ موده وړاندې د طائر صېب په آزادو نظمونو مشتمله شعري مجموعه ,, د بوډۍ تال ،، هم منظر عام ته راغلې ده. طائر صېب که يو پلو د اعلی پايې محقق ، مترجم او مؤرخ دے نو بل پلو ئې د شاعرۍ په مېدان کښې هم د خپل

قلم نه کار اخستے دے۔ موصوف د پښتو شاعرۍ په مختلفو اصنافو طبع ازمائي کړې ده۔ خو د آزاد نظم په حواله به د دوئي نوم تل عمري قدرولے شي ځکه چې د موصوف نوم د ازاد نظم په بنيادي ليکوالو کښې شامل دے ۔ په دې صنف کښې موصوف ښې کاميابې تجربې کړي دي چې څۀ ئې هم ليدلي کتلي او لوستي دي هغه ئې په منظوم ډول په آزاد نظمونو کښې راځائے کړي دي۔

## دهشتګرد

بابا مې ماته تل کوي د طالبانو قيصې
وائي پخوا توکرۍ په لاس به چم په چم ګرځېدل
کله نا کله به ئې مست مست اتڼونه کول
هم ئې ځاښتونه ليکل هم ئې تعويزونه کول
د ملاتوب په تکل بل کار ته اوزګار نۀ وو
سر به ئې ټيټ وو شپه او ورځ به ئې کتابونه لوستل
بيا طالبانو علم پرېښودو
چې وخت بدل شو
ځان ئې په نوي رنګ کښې رنګ کړو
زړۀ ئې اوتښنيد
عَلَم ئې پورته کړو د وخت د بادارانو خلاف

تورې ته لاس ئې کړو د نورو ظالمانو خلاف
اواز ئې اوکړو
چې سر تيري طالبان مونږ يُو
ډېر زورور يُو ، ستمګر يُو ، خونکاران مونږ يُو
نوم زمونږ هر خوا په دنيا کښې
دهشتګرد خور دے[1].

کـور

زمونږه کور
د منږکانو کور دے
په هر طرف پکښې په منډو سر دي
کوز و پاس هر خوا ډالبازيانې کوي
څوک د کندو په خوا کښې پټ پټ ګرځي
څوک د غلې بوجۍ ته پورته خيژي
چاله خواګه تراخۀ مزه ورکوي
څوک د بړستنو نه مالوچ تښتوي
هر يو په خپل خپل کار کښې ښه ماهر دے
ورانے کوي ودانے نۀ پيژني

1 طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، د بوډۍ تال ، جدون پريس پېښور ، ۲۰۱۲ء ، مخ ۳۵

دلته د شاتو مچۍ نۀ ويني څوک
نۀ پېشوګان ئې منږکان زغلوي
زمونږه کور د منږکانو کور دے
د منږکانو باچائي ده پکښې[1]

د طائر صېب هر ادبي کاوش ځانګړے حېثيت لري ـ د موصوف مخصوص اسلوب او طرز تحرير نه د هغوي د علميت او دانشمندۍ چينې بهېږي ـ مونږ چې د طائر صېب د کوم شعري صنف جائزه اخلو نو دا خبره خودبخود ثرګنديږي چې موصوف د اعلٰی فکر و نظر خاوند دے ـ د موصوف په شاعرۍ کښې هرارخيزه مضامين په بشپړه توګه په نظر راځي ـ
طائر صېب په يوه ځانګړي فلسفيانه انداز کښې په خپل مافي الضمير د بل د پوهه ولو په هنر ډېر ښۀ پوهه دے ـ د موصوف د فلسفيانه افکارو اندازه مونږ ته د دوئي د طويل نظمونو نه په ښۀ شان لګيدے شي ـ
هسې خو د طويل نظمونو روايت ډېر قديم دے او په پښتو ادب کښې هم دا روايت څۀ نوے نۀ دے ـ چې تفصيل به ئې د اصل موضوع په مېنځ کښې د طوالت شکل اختياروي نو ځکه زۀ په دې حواله د بحث کولو نه ګام پورته کوم ـ بهر حال د

1 همدغه ، مخ ۲۹

طائر صېب طویل نظمونه ,, پرواز ،، او ,, د ژوند سندره ،، ددغه تسلسل مضبوطې کړې، دي او د طوالت وجه ئې دا هم نۀ ده ګڼـي چې تش د الفاظو بې معنې ترتیب دے بلکې دا نظمونه د طائر صېب د خور وور فکر و نظر او علمیت د دلالت هسک بېرغونه دي - چې پښتو ادب به پرې ارو مرو ویاړ کوي - پروفېسر شېر زمان سیماب صېب لیکي :-

,, طائر صېب اوس هم طائر دے - خپل الوت له اوس هم دوام ورکوي او اوس ئې هم پېرزوئنې په پښتو دي ,, د ژوند سندره ،، ئې د پښتو ادب دپاره یو داسې ډالۍ ده چې د ادبي حلقو سره به په اولس کښې هم خپل ځائے پېدا کړي په دې چې په دې کښې تشه شاعري نه ده او د الفاظو هېر پېر خوځولو لري نه یو افاقي خیال دے ددغې خیال راغونډولو چې څومره طوالت اخستے دے نو هسې نه ده - دغه خیال په خپل ځان کښې ډېر وسیع دے[1] ،،

دغه رنګ پروفېسر سیماب د ,, پرواز ،، په حقله لیکي :-

---

[1] سیماب شېر زمان ، تل پاتې سندرې ، مشموله د ژوند سندره ، مصنف پروفېسر محمد نواز طائر ، جدون پریس ، ۲۰۰۵ء ، مخ ۱۹

,, د طائر صېب په دغه کار او زيار کښې هم داسې د دوئي يو تخليقي شاهکار ,,پرواز،، ازاد نظم هم شامل دے کوم چې د ځوانۍ د ورځو شپو د جذباتي کېفياتو په وخت کښې تخليق شوے دے خو د طائر صېب سنجيده شخصيت په دغه نظم کښې ښۀ روڼ او شوخ ښکاري او دغه سنجيدګي ده چې ددغه نظم په کېنوس کښې ئې يو سپېځلے او کوټلے پېغام وړاندې کړے دے[1] ،،

په ,, ژوند سندره ،، کښې طائر صېب د يو صوفي فلسفي شاعر په حېث ځان ځرګند کړے دے.په دې نظم کښې موصوف د ژوند هر اړخيزه جائزه په يوه عالمانه ډول اخستې ده چې څومره په دې نظم کښې د دوئي خيال وسعت لري نو هومره جازبيت هم لري.

شېر افضل خان بريکوټي ليکي :-

,, د طائر صېب د کلام په رڼا کښې دا وئيل به غير مناسب نۀ وي چې ددۀ په افکارو کښې متصوفيانه عناصر موجود دي ولې سره ددې

[1] سيماب شېر زمان ، تل پاتې سندرې ، مشموله د ژوند سندره ، مصنف پروفېسر محمد نواز طائر ، جدون پريس ، ۲۰۰۵ء ، مخونه ۱۸ ، ۱۹

ددۀ په سينه کښې يو ژوندے او پاعمله زړۀ په ټوپونو دے. غالب چې په تصوف کښې د کوم مکتب فکرنمائندګي کوله هغه د منصور حلاج او قرة العين دافکاروسره هم اهنګ ده. هم دغه تصوف دے چې د طائر صيب په کلام کښې خور وور کله په يو انداز کښې کله په بل انداز کښې ليدے کيږي. قرآني افکار، د اقبال اشکالات او د غني د فکر رنګينئ ټولې په دې مختصره شان مجموعه کښې راجمع دي[1]،،

ددې افاقي نظم نه يو بند د لوستونکو دپاره په دې غرض وړاندې کوم چې د طائر صيب ددې نظم ,,د ژوند سندرې،، د لوستو پله اوپاريږي. شايد چې څوک ددې نظم په روڼ درياب په پورې وتو د يو نوي ژوند اغاز اوکړي. د داسې ژوند چې د مينې محبت، وروروليۍ او اخوت ژوند وي. د سوکاليۍ او خوشحاليۍ ژوند وي. ولې چې دا نظم نه خو داستان دے او نۀ قديمي ديومالائي قيصه بلکې دا زمونږ د يو ويشتمې صدۍ د حقيقي ژوند د رڼو تصويرونو رڼه مصوري ده.

---

1 بريکوټي شېرافضل خان، سريزه، مشموله د ژوند سندره، پروفېسر محمد نواز طائر، جدون پريس، ۲۰۰۵ء، مخ ۱۴، ۱۵

لامې ورک شوے میراث خپر کثیر لتهوم
اسم اعظم د جهان د هر تدبیر لتهوم
کنجې د بندو ورونو د خپل تقدیر لتهوم
زۀ دانائي غواړمه هم بینائي غواړمه
چې ماته لار سمه کړي هغه رهبر مې پکار
د خپل منزل په لوري رهنمائي غواړمه
زۀ د تیرو مسافر لاس کښې مشال نۀ لرم
په تیندکونو روان زۀ رڼائي غواړمه
د جهان پټ رازونه چې منکشف کړي په ما
پټو رازونو ته زۀ هم رسائي غواړمه
زۀ هم زړګے لرمه هم ارمانونه لرم
هم ارزوګانې بلهاٴ هم حسرتونه لرم
ویمه لاشئے یمه زۀ چې نور جهان ته ګورم
ځان راته تش لیدے شي چې دې خپل ځان ته ګورم
چې محتاجي ورکه کړي خواره خواري ورکه کړي
علم و حکمت غواړمه
دغه دولت غواړمه

تاته اوزګار نۀ يمه  مرګيه وار اوکه لږ
زۀ به درځم په خپله  تۀ انتظار اوکه لږ[1]

طائر صېب که يو خوا د اعلى پايې نظم ګوئي کړې ده ـ نو بل خوا د يو ځانله اسلوب غزلګو هم دے ـ د موصوف غزل د وخت او حالاتو په اړوند د ستائنې وړ مقام لري ـ دا بېله خبره ده چې تر دې دمه دې پلو ته په بشپړه توګه پام لرنه نۀ ده شوې ـ ځۀ رنګ چې د موصوف د تحقيقي او تنقيدي کار او زيار وخت په وخت پلټنه او ستائنه شوې ده دغه رنګ بايد چې د يو شاعر په حېث هم د دوئي د فني ځانګړنو پلو پام لرنه شوې وې ځکه چې په کوم ډول طائر صېب په منثوري اصنافو کښې د يو پوهاند په حېث ځان ځرګند کړے دے دغه رنګ په منظوم ډول هم د دوئي کار او زيار د معيار په حواله د اعلى پايې دے ـ خو د دوئي په دې حواله چې تر دې دمه څومره کار شوے هغه د نشت برابر دے ـ

د طائر صېب شعر د وخت ترجمان دے ـ د موصوف د فکر الوت د نړۍ په ګوټ ګوټ ځانګونه تېپولي دي او هاغه

[1] طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، د ژوند سندره ، جدون پريس ، ۲۰۰۵ء، مخونه ۷۸ ، ۷۹

واړه رنګونه او فني خاصې ئې په خپل غزل کښې راځائے کړي کوم چې د جديد غزل خاصه ده۔

پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک صېب ليکي :-

,, پروفېسر محمد نواز طائر صېب يو صاحب طرز شاعر دے ۔ د شعر مضمون ئې زيات تر د ژوند د هغه حقيقتونو اظهار دے کوم چې د انساني نفسياتو په ژورو کښې هم او د شعور په ښکاره سطح هم اوړي راوړي۔ ولې د ذات ادراک نه لرونکي ئې اکثر په خاطر کښې نۀ راوړي په دې کښې بنيادي صفت د مينې او محبت سره تړلې د بنيادم د نارسايئ او بې وسۍ الميه ده۔ طائر صېب د ژوند يوه ژوره تجربه لري ۔هغه ځائي شاعر دے۔ د ښائست د هر کېفيت نه خوند اخستے شي۔

جمالياتي مشاهده ئې ډېره خوره وره ده ۔جمال که په فرد کښې دے او که په کائنات کښې۔ طائر صېب ئې طلبګار هم دے او قدردان هم ولې د پښتونولۍ د حيا سخت قانون طائر صېب د ښائست ستائيلو او اظهار ته يو حياناک انداز بخښلے دے ۔سنجيده فکر او دروند خوئي د هغه اظهار د کوڅې او بازار د ژبې د استعمال نه منع کړے ښکاري ۔هسې

هم هغه يو تنقيدي شعور لرونکے دروند عالم دے۔ د لفظونو د استعمال په چل پوئې هنرمند فنکار دے[1]۔

شېر افضل خان بريکوټي ليکي :-

,, پروفېسر نواز طائر ځان ورکے شاعر يا لېونے فلسفي نۀ دے د دوئي په کلام کښې د ژوند د عمومي جريان ټولې ارزوګانې ټول ارمانونه او تصورات راغونډ دي ۔ دے خپل چارچاپېره ماحول اباد او خوشحاله ليدل غواړي ۔ ددۀ فطرت کښې غريب طبعي د قناعت او استغنا تر حده اخښلې شوې ده[2]۔

پروفېسر شير زمان سيماب ليکي :-

,, د طائر صېب شاعري د ژوند يو هر اړخيزه تصوير دے۔ په علمي انداز کښې د ژوند کړۀ وړۀ تودې سړې پېښې او حادثې بيانول د طائر صېب د شعر خاصه ده ۔ ولې ددې سره د شعر

---

1 خټک راج ولي شاه پروفېسر ، ,, سريزه ، ، مشموله ، خوبونه خپل کلي کښې ، مصنف پروفېسر محمد نواز طائر ، ۲۰۰۱ء مخ ۹

2 بريکوټي شېر افضل خان ، سريزه ، مشموله د ژوند سندره ، پروفېسر محمد نواز طائر ،جدون پرنټنګ پريس پېښور ، ۲۰۰۵ء ، مخ ۱۴

فن او فني لوازمات هم پوره ساتل د دوئي په فن د عبور او پختګۍ څرګندونه ده [1]، ،

زۀ ئې رخصت کړم پخپل کورکښې جانان پاتې شولو
ورستے دیدن مې د دیدن په ارمان پاتې شولو
د نوحه ګر زړګي په کور د بېلتانۀ چغې شوې
لمبه ئې مړه شوه ولې تاؤ د نېران پاتې شولو

مونږ په هوا شو بل هېواد ته مو پرواز اوکړلو
مړاوي ځانګونه نشیمن کښې جانان پاتې شولو

ورسره سنګ کښې څو لمحې وې لاړې تیرې شولې
ورستے ارمان مې په نوحه د ارمان پاتې شولو

عمر تیرېږي د کیکرو کنجغرو خوا کښې
د ګلو باغ مې د وطن په بوستان پاتې شولو

1 سیماب ، شېرزمان ، په ملاکنډ کښې د پښتو غزل ارتقاء ، د ایم فل تحقیقي مقاله ، ناچاپ ، مخ ۱۷۴

صبر ئې ګران دے کۀ هر څومره تسلي ورکوم
د مينې درد مې په آرزو د درمان پاتې شولو

نور ګرځوم به ځان سره خوارۀ يادونه د يار
د زړۀ بسته کښې يو کتاب د هجران پاتې شولو

ستا د يادونو صحيفه کښې مې هر څۀ خوندي کړل
قيصې تمامه شوه دلې خو عنوان پاتې شولو

هاغه چې ما سره ئې ټول عمر وفا کړې ده
هاغه جانان رانه په چولي د امان پاتې شولو

طائره ستا نه به لا څوک د وفا طمع کوي
چې په پردي کالۀ کښې وائې جانان پاتې شولو[1]

+++

1 طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ورستے ديدن ، جدون پرنټنګ پريس پېښور ، ۲۰۰۹ء ، مخونه ۴۲ ، ۴۷

په خپل چمن کښې د ازغو سره رشتې نه کوم
زۀ خو بلبل يمه د ګل سره فتنې نۀ کوم

ستا د ډولۍ سره به ځمه د ارمانه سره
په درد يدلي زړۀ د ورايه تماشې نه کوم

زما د زړۀ په کور کښې ناسته ده زما دلربا
مدار د يار په ما لازم دے هيڅ ګيلې نۀ کوم

اودرېږي مخکښې مې د خپلې مينې سوبرے مدام
ددې خبرې غر هيڅ چاته هيڅ چرې نۀ کوم
بيګا نه زړۀ د خپلې مينې پرورده دے زما
مينه مې سود ده زۀ په دې کښې خپل پردے کوم

نۀ راکوې ماله يوه پياله د مينې شراب
زۀ مفتي نۀ يم په ساقي باندې فتوې نۀ کوم

پرون سحر د مېکدې په ور مې دا اوليکل
,,زۀ د ثواب په خيال سفر د صومعې نۀ کوم ،،

طــائره تاتـــه مبـــارک شـــه د جانانـــه غمونـــه
د يـــار د خـــوا نـــه د بـــل لـــوري ارادې نـــهٔ کـــوم[1]

د وړاندې ذکر شوي اقتباساتو او د پوهانو د رائې په زرکاڼي د موصوف قطعات او جاپاني صنف هائيکو هم د خپل ارزښت او قيمت په تول درنې نمونې دي ۔چې د طائر صيب عالمانه فکر پکښې شوخ و ځلنده ښکاري۔

د پښـــتو ګټـــه بـــېلات دي تـــل د زور
خـــو هنـــدو بريـــالے شـــوے دے پـــه شـــور
کـــهٔ د صـــلحې امنيـــت پـــه راز اګـــاه شـــو
پښـــتانهٔ بـــه ودان اووينـــي خپـــل کـــور[2]

✦✦✦

چـې د عشـق پـه مسـلک پـوئې وي عـارفـان وي
دا هغـــه وي چـــې ريښـــتوني عاشـــقان وي
هـــر ســـړے کـــړي پـــوزه تـــوره آهنګـــر شـــي

1 طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ورستے ديدن ، جدون پرنټنګ پريس پېښور ، ۲۰۰۹ء ، مخ ۱۲۴
2 طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، لنډي ګامونه ، جدون پريس پېښور ، ۲۰۰۹ء ، مخ ۱۴

خــــو فـــولاد اوبـــهٔ کـــونکي مـــاهران وي[1]

+++

دا خبـــــره بـــــه هـــــيڅ نـــــهٔ وي عجائبـــــه
کـــهٔ څـــوک نـــوے تهـــذيب راؤړي لـــه مغربـــه
تـــهٔ هنـــدو شـــه يـــا پـــه صـــدق مســـلمان شـــه
څـــهٔ پـــه نيمـــه لاړ کښـــې ناســـت ئـــې مذبذبـــه[2]

د بغـــداد پـــه چـــاليس چـــور کښـــې لا ايســـار يُـــو
ددې ملـــک د سياســـت د لاســـه خـــوار يُـــو
يـــو تـــولے د مينځـــه لاړ شـــي وار ئـــې تېـــر شـــي
بيـــا د بـــل تـــولي د وار پـــه انتظـــار يُـــو[3]

+++

هســـې پـــه شـــاړو بانـــدې ســـر خـــو نـــهٔ يـــم
لتـــون کـــوم ولـــې مونـــدے دې نـــهٔ شـــم

---

1 طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، لنډي کامونه ، جدون پريس ، پېښور ۲۰۰۹ ، مخ ۳۴

2 همدغه ، مخ ۳۷

3 همدغه ، مخ ۳۹

زما مالکه زما لار سمه کړې[1]

✦✦✦

د خپل هېواد په خوشحالو خوشحاله
په غم غمژن د خپلې پاکې خاورې
په دې چې خپل وطن مې تن ګڼمه[2]

✦✦✦

ځان ته په دې مه غره کېږه چې ته د
د فلانکي خان کاکا د کنهې نه ئې
نر شه د خپل عمل خبرې کوه[3]

غرض دا چې د پښتو ادب دا بې بدله محقق ، شاعر او ادیب د پښتو ژبې او ادب تاریخ د محفوظ کولو یو داسې ښاغلے

1 طائر ، محمد نواز ، پروفېسر، لنډي ګامونه ، جدون پریس ، پېښور ۲۰۰۹ ، مخ ۱۷۱
2 همدغه ، مخ ۱۷۴
3 همدغه ، مخ ۱۷۹

Pukhto.Net پښتو

شخصيت دے چې په دومره لنډه تنګه مقاله کښې د دوئي د شخصيت او اعلى ادبي خدماتو تجزيه کول ګران ځۀ چې ناممکن دي۔

طائر صېب دا وخت چې د صحت کمزوري هم ورپېښه ده۔د خپل کلي او علاقې په ادبي هلو ځلو کښې کلکه برخه لري ۔هر ادبي محفل ته ځان رسوي ۔د تانې ادبي ټولنې سرپرست اعلى هم دے ۔چې ددغه تنظيم په ټولو هلو ځلو کښې شريک وي۔د ګېر چاپېره علاقې شاعران ، اديبان ورله ډلې ډلې راځي او د علاقې دا لوئے خان ورسره د ادب د مينې په رشته داسې په خندا خندا کښې کښېني پاسي چې د شخصيت نه ئې د ادب ځلاګانې برېښي۔ولې بيا هم چې خود تنقيد ته په مخه شي نو وائي۔

نـۀ د بلبـل پـه نـوا پـوئې نـۀ پـه رڼـا د سـحر
بولـه زړګے مـې زمـا خـوب تـر ماسپښـينه کـوي

په ځان کښې هيڅ خوبي زۀ نۀ وينم چې ځان ته ګورم
عجيبـه خلـق دے زمـا سـره هـم مينـه کـوي

# ډاکټر محمد اعظم اعظم[1]

د هشتنغر خاوره په ډېرو حوالو زرخیزه ده ـ وخت په وخت دې خاورې داسې شخصیات زېږولي دي چې د پښتو ادب په اسمان لکه د نمر روښانه ښکاري او پښتو ادب به پرې تل عمري فخر او ویاړ کوي۔

که دې خاورې یو خوا د علي خان په شان رومان فکره او نازک خیاله شاعر پېدا کړے نو بل پله ئې خادم محمد اکبر ، لیونے فلسفي غني خان ، عبدالاکبر خان اکبر ، فضل حق شیدا ، عبدالمالک فدا ، فضل رحیم ساقي ، اشرف مفتون او ماسټر عبدالکریم هم ددې خاورې د ناز نومونه دي۔

مشک مې ونوستل د زلفو سوداګر یم
یو رسوا د علي خان د هشتنغر یم

چې سحر ماښام مې سترګې په چپو دي
تېروتلے د جیندي په مازیګر یم[1]

[1] په ۱۲ نومبر ۲۰۱۲ء د خالي ورځ د ډاکټر محمد اعظم اعظم روح ددې دنیا نه پرواز اوکړو ـ ( د مرحوم د مغفرت دپاره دعا ګو یم )

او ... ډاکټر محمد اعظم اعظم د چا نامه چې په پښتو ادب کښې د ستائنې وړ مقام لري . موصوف په ۲۱ دسمبر کال ۱۹۴۰ ء کښې د چارسدې په مشهور کلي رځړو کښې په یوه درنه کورنۍ کښې د خدائے بخښلي حیدر خان کره زېږېدلے دے ابتدائي تعلیم ئې د خپل کلي د پرائمري سکول نه حاصل کړو . په کال ۱۹۵۷ ء کښې د چارسدې د هائي سکول نه د لسم جماعت پاس کولو نه پس په اسلامیه کالج پېښور کښې داخله واغیسته . په دغه ورځو کښې اعظم صېب شاعري هم شروع کړې وه او کله چې ورته په اسلامیه کالج کښې داخله ورکړې شوه نو په عملي توګه ئې د ادب په مېدان کښې زغل شروع کړو . او هم په دغه کال یعني کال ۱۹۵۸ ء کښې د اسلامیه کالج د ادبي مجلې ,, خیبر ،، په ادارتي بورډ کښې شامل کړے شو . ددې سره سره په دغه وخت کښې چې د پښتو کومې رسالې او ورځپاڼې وتې په هغې کښې به ئې په باقاعده توګه تخلیقي لیکونه هم چاپ کېدل .

ستر شاعر ښاغلے اجمل ختټک لیکي :-

,, د ډاکټرمحمد اعظم اعظم سره زما پېژندګلي له هغه وخته را روانه ده کله چې اعظم په

1 اعظم ، ډاکټر محمد اعظم ، جنون او ژوندون ، اباسین پرنټنګ پریس ، پېښور ، جون ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۷۳

اسلامیه کالج پېښور کښې نوے نوے داخل
شوے وو۔ زما او د هغه تر مېنځه د پېژندګلو
وسیله ارواښاد قلندر مومند وو چا چې د غه
وخت په پېښور پوهنتون کښې په انګرېزي ادب
کښې ایم اے کوله او د زلمي لیکوال په نامه
ئې په پېښور یونیورسټۍ کښې یو ادبي تنظیم
هم جوړ کړے وو۔ ښاغلے اعظم هم ددغه تنظیم
یو غړے وو۔ په دغه حواله دغه د شپاړسو کالو
نوخیزه زلمي د ,,اولسي ادبي جرګې پېښور ،،
غونډو ته هم تګ راتګ شروع کړو ـــ وروسته
لیکي ـــ د مزاحمتي او ژوندي ادب په لړ
کښې د اعظم فکر او تخیل د شروع نه د وخت
د برندو حالاتو تر مخه ډېر روښانه ، د بیان طرز
ئې ډېر معتبر ، منفرد ا د کلام لب و لهجه ئې
بې مثاله زړۀ راښکونکې وه۔
د شلوپینځویشتوکالوپه عمرکښې د هغه دغزل انداز داسې وو۔

وتونکي کله د تیرو نه د زندان مونږه یُو
چې له ازله دي د زلفو بندیوان مونږه یُو

چې د ژوند شمع وي روښانه چراغان بل وي
چې د مرګ هله شي بیا هلته پتنګان مونږه یُو

د زړۀ په للمه کۀ هر څوک شي خاوندان د ګلو
خوورؤنکي پرې د وینو د باران مونږه یُو[1]

په کال ۱۹۵۹ء کښې ښاغلي اعظم صیب د اسلامیه کالج پېښور نه د ایف ایس سي سند حاصل کړو او هم دغه شان ئې په کال ۱۹۶۱ء کښې د څوارلسم ډګري هم ترلاسه کړه. په کال ۱۹۶۳ء کښې ئې د پېښور پوهنتون نه په پښتو ادبیاتو کښې د شپاړسم امتحان پاس کړو. او هم په دغه کال په اسلامیه کالج پېښور کښې ئې د پښتو ادبیاتو د استاد څوکۍ سمبال کړه. په کال ۱۹۸۶ء کښې ئې ,, په پښتو ادب کښې کردار نګاري ،، په موضوع د پي ایچ ډي ډګري واخسته او د پېښور پوهنتون په پښتو څانګه کښې ئې د استاد په حېث د پښتو ادب خدمت او د ادبیاتو د طالبعلمانو علمي ودې ته ملا اوتړله. په دغه اداره کښې د چئیرمېن عهدې ته اورسېد او په کال ۱۹۹۲ء کښې د شرقي علومو د فېکلټۍ ډین وټاکلے شو

[1] اجمل ختټک ,, ډاکټر اعظم د جنون نه تر ژوندونه ،، مشموله جنون او ژوندون ، مصنف ډاکټر محمد اعظم ، اباسین پرنټنګ پریس ، پېښور ، جون ۲۰۰۸ء ، مخونه ۱ تا ۳

ـ په پېښور پوهنتون کښې ئې نهٔ کاله د شرقي علومو د فېکلټۍ د ډين په حېث خپل خدمات ادا کړل او په کال ۲۰۰۰ء کښې د سرکاري ملازمت نه سبکدوش شو ـ د کال ۲۰۰۲ء نه تر دې دمه په اکادمي ادبيات پاکستان پېښور څانګه کښې د ريزيډنټ ډائرېکټر په حېث خپل خدمات ادا کوي ـ

پروفېسر ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب د تېر شوي پنځهٔ څلوېښت کالو راسې د پښتو ادب د هر صنف ښهٔ په زړهٔ پورې حق ادا کړے دے ـ په خصوصي توګه د پښتو ډرامې او جديدې شاعرۍ په حواله د ډاکټر اعظم نامه په ادبي دنيا کښې لکه د نمر روښانه لېدے شي ـ د تحقيق او تنقيد په حواله هم ډاکټر صېب د پښتو ادب د خدمت ښهٔ پوره پوره حق ادا کړے چې تل عمري به قدرولے شي ـ

د ريډيو پاکستان پېښور څانګې او پي ټي وي پېښور څانګې د اعظم صېب ډېر کلامونه ريکارډ کړي او نشر کړي دي ـ ددې نه علاوه ريډيو او ټي وي د دوئي يو شمېر سلسله وارې ډرامې هم نشر کړي دي ـ کله چې د پېښور ټي وي قيام لا په عمل کښې نهٔ وو راغلے نو د چکلالې راولپنډۍ ټي وي نه د دوئي اولنۍ پښتو ډرامه ,, خزان او ګلونه ،، ( چې په څلورو قسطونو مشتمله ډرامه وه ) نشر شوې وه ـ خو چې کله په کال ۱۹۷۴ـ ۷۵ء کښې په باقاعده توګه پي ټي وي پېښور څانګې

خپل کار شروع کړو نو د اعظم صېب ډرامه ,, ورکې لارې ، ، (دا ډرامه په شپاړلس قسطونو مشتمله وه ) په اول ځل نشر کړه ددې ډرامې د نشر کېدو سره د پي ټي وي پېښور څانګې د مقبولیت لارې پرانستې شوې. دا د پي ټي وي پېښور څانګې یو کامیاب کوشش وو چې د نورو ډرامو دپاره ئې مضبوط بنیادونه کېښودل.

په اردو او پښتو دواړو ژبو کښې نشر شوې د ډاکټر محمد اعظم صېب ډرامه ,, ناموس ، ، (دا ډرامه په شل قسطونو مشتمله وه ) د پاکستان ټیلي ویژن پېښور څانګې دپاره داسې مقام لري چې دغه مقام لا تر دې دمه بلې ډرامې نهٔ دے حاصل کړے. دا ډرامه یوائې په پښتونخوا کښې نه بلکې په ټول پاکستان کښې یوشان مشهوره وه او د پي ټي وي پېښور څانګې دپاره تر نن تاریخه پورې د سنګ میل حېثیت لري.

د پښتو په ډرامائي ادب کښې ښاغلي ډاکټر محمد اعظم صېب د خپل قلم نه ښهٔ د زړهٔ د اخلاصه کار اخستے دے.

په دې حواله نوموړے ایاز داؤدزے صېب لیکي :-

,, د ډرامه نګار په حېث هم ډاکټر اعظم خان اعظم ډېر شهرت لري. هغه د ریډیو پاکستان دپاره بې شماره معیاري او مقبولې ډرامې

لیکلې دي ـ پي ټي وي پېښور دپاره ئې هم
ډېرې ډرامې او سیریلز لیکلي دي ـ د پي ټي
وي پېښور سنټر د قایم کېدو سره د پښتو
وړومبے سیریل هم اعظم لیکلے ؤ چې نوم ئې
,,وړکې لارې ،، وو ـ او دغسې ئې د پي ټي وي
پېښور سنټر د ډرامې مضبوط بنیاد کېښود ـ
په اردو کښې ئې هم د پي ټي وي پېښور سنټر
دپاره ډرامې او سیریلز لیکلي دي چې
,,ناموس ،، پکښې ددغه ټیلي ویژن سنټر د
پېژندګلو سبب وګرځېدو[1] ،،

ددې نه علاوه چې د پي ټي وي پېښور څانګې نه د ډاکټر اعظم صېب کومې ډرامې نشر شوې دي په هغې کښې----

- زولنې ۲۲ قسطونه
- ستړے مۀ شې ۲۰ //
- زنجیرین (اردو) ۱۵ //
- امنګ (اردو) ۱۵ //
- خوبونه ۱۵ //
- سفر ۱۲ //

---

[1] ایاز داؤدزوے ، ,,اعظم د ے اعظم ،، ،، مشموله جنون او ژوندون ، مصنف ډاکټر محمد اعظم ، اباسین پرنټنګ پریس ، پېښور ، جون ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۰

- مزلونه ۱۲ //
- سمندر ۱۳ //
- خاندان ۲۳ //
- بيابان (اردو) ۱۳ //

دغـه رنـګ د ريـډيو پاکسـتان پېښـور څـانګې نـه ئـې هـم بـې شماره ډرامې نشر شوي دي. چې د ځينې ډرامـو نـامې پکښـې په دې ډول دي.

| | | |
|---|---|---|
| * خاندان | * نصيب | * وادهٔ |
| * رنګونه | * ناليدلي | * احساس |
| * مات لاس | * لاروے | * لوپټه |
| * مسافر | * دُرشل | * خوشبو |
| * مېلمانهٔ | * سپوري | * سباؤن |
| * ارمان | * مهک | * د ژوند په تکل |

د تحقيق او تنقيد په مېدان کښې د ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب نامه د چا نه کمه نهٔ ښکاري. په دې چې د پښـتو په تحقيقي او تنقيدي ادب کښې د اعظم صېب زيارونه لکـه د شوخو ملغلرو پرقيږي. دوئي په خپل څلويښت کلن ادبي سفر کښـې بـې شـماره علمـي، ادبـي، تحقيقـي او تنقيـدي مقـالې ليکلي چې په مختلفو مجلو کښـې چـاپ شـوي دي. ددې سره سره په بې شماره کتابونو ئې سريزې ليکلي دي چې د دوئـي د تنقيد درنه برخه ده.

د پښتو د افسانوي ادب په تاريخ کښې د دوئي يادګار تصنيف ,, پښتو افسانه ،، (تحقيق او تنقيد) په پښتو ادب کښې خپل يو ځانګړے حېثيت لري چې د تېر پنځويشت کالو راسې د ايم اے ، ايم فل او پي ايچ ډي په نصابونو کښې شامل دے.

د ډاکټر صېب د پي ايچ ډي تحقيقي مقاله ,, په پښتو ادب کښې کردار نګاري ،، هم د دوئي د تحقيق او تنقيد نادره او شوخه ملغلره ده. د موضوع په لحاظ دا تحقيقي زيار په پښتو ادب کښې يو ځانګړے حېثيت لري. دا کتاب هم د پي ايچ ډي په نصاب کښې شامل دے.

په مختلفو مضمونونو ، ستېج ډرامو او تکلونو مشتمل کتاب ,, لشې ،، هم د ډاکټر اعظم صېب يو شاهکار زيار دے. چې د ايم اے او ايم فل په نصابونو کښې شامل دے او د ادب طالبعلمان ترې استفاده حاصلوي. ددې نه علاوه ډاکټر اعظم صېب د نورو ژبو د يو شمېر کتابونو ترجمې هم په پښتو ژبه کښې کړې دي. او بې شماره تحقيقي او تنقيدي مواد ورسره خوندي پراته دي. چې ډېر زر به ئې د پښتو ادب ځولۍ ته ډالۍ کړي.

,, جنون او ژوندون ،، د ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب منظوم اثر دے چې د جديدې شاعرۍ په حواله ځانګړے حېثيت لري. دا کتاب زيات تر په غزلو او نظمونو

مشتمل دے ـ چې پکښې د جديدې شاعرۍ نادرې ملغلرې ځليږي ـ په خصوصي ډول د جديد غزل په حواله د ډاکټر اعظم صېب غزل د پښتو ادب د جبين خال دے ـ روان ، اسان او عام فهم خو د معنې په لحاظ لوړ او انفرادي دے ـ د حقيقت پسندۍ او رومانيت سره سره پکښې موسيقيت او غنائيت موجود دے ـ د اعظم صېب مشاهدات او تېز فکر د هغوي په غزل کښې نادره تشبيهات او ځانګړې استعارې په ډولناکه طريقه شعر شوي دي ـ

ډاکټر حنيف خليل د اعظم صېب د غزل په حواله ليکي :-

,, د شاعر په حېث د اعظم صېب غزل چې د تغزل ، معنويت، ترنم او ژبې د سپېځلتيا کوم رنګ او اهنګ لري د هغې ابتدا هم اعظم صېب کړې ده او انتها ئې هم د دوئي په برخه ده ـ د پښتو نظم په مېدان کښې هم اعظم صېب د خپل فطري صلاحيت ، او فني جوړښت په رنګ خور دے ـ

د اعظم صېب په شاعرۍ کښې په موضوعاتي لحاظ د دوران غم زيات برخېره کړے شوے دے ـ خو د جانان غم او رومانوي شاعرۍ نه ئې هم لمن نۀ ده رانغاړلې ـ او دغسې ئې په خپله شاعرۍ

کښې د مقصديت او رومانيت يو ښکلے امتزاج
پېش کړے دے[1]،،

د ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب غزلې زيات تر په ريډيو او ټي وي کښې د پښتو ژبې د مختلفو ګلو کارانو په اوازونو ريکارډ شوي دي چې نن هم د هوا په چپو کښې زمونږ تر غوږو رارسي ـ او بيا چې اواز د خيال محمد وي او غزل د ډاکټر محمد اعظم اعظم نو د هغې غزل خوند او مزه لاسېوا شي ـ ددغې غزلو نه يو څو نمونې دلته وړاندې کوم ـ

بيمـــار زړګے مـــې وغـــواړي هـــوا کلـــه نـــا کلـــه
راؤړه ورلـــه پـــه ســـترګو کښـــې خنـــدا کلـــه نـــا کلـــه

د هجـــر شـــپه د زلفـــو پـــه تـــال لاړه شـــي جوتـــه شـــي
راپېښـــه کـــړي ســـودا راتـــه ســـودا کلـــه نـــا کلـــه

کتـــل کـــړه نـــوي نـــوي خـــو پـــه هغـــو زړو ســـترګو
کـــوه دا نااشـــنا کـــار هـــم اشـــنا کلـــه ناکلـــه

[1] حنيف خليل ، پلېف ، جنون او ژوندون ، مصنف ډاکټر محمد اعظم ، اباسين پرنټنګ پريس ، پېښور ، جون ۲۰۰۸ء ، شا پاڼه

د زړۀ سوے ګلشن مې د بهار ورمې ته خور دے
په شونډو خوروه راته مسکا کله نا کله

چې ښکل نۀ کړي هرجام ساقي په مستومستو شونډو
د ژوند اوبۀ کړي زهر مسيحا کله نا کله

مونږ هم د انتظار کلې نيولې دي زړګو کښې
زمونږ په کلي هم باد صبا کله نا کله

د مينې لېونو له د دنيا بندونه ګوري
اعظمه لېونې به شي دنيا کله نا کله[1]

+++

ستا د دوؤ ورځو سپرلے ؤ ، ستا د دوؤ ورځو ګلونه
خو زما په زړۀ دي کېښول د همېش همېش زخمونه

مل مې تورې اندېښنې خو بل مې زړۀ کښې مشالونه
زما شپه شپه زندګي او ستا سحر سحر خيالونه

1 اعظم ، ډاکټر محمد اعظم ، جنون او ژوندون ، اباسين پرنټنګ پريس ، پېښور ، جون ۲۰۰۸ء ، مخ ۴۳

د ژوندون په هره لاره لکه سوړ اسوېلے تېر شوم
په قدم قدم تاؤدۀ وو ستا د حُسن محفلونۀ

بې حسابه راله راغلل بې جوابه رانه لاړل
د اودو سترګو خيالونه د مُسکو شونډو سوالونه

د وختونو د جولۍ نه ، هر چا خپله برخه يوړه
تا د حسن سحرونه ما د هجر ماښامونه

يو احساس دے چې مې بيا ئي د رڼا په طمع طمع
کړم د سوي سبا فکر نۀ د غم د شپې غمونه

په ژړا ژړا مې سترګې د زړۀ وينو جوابي کړې
حل دې نۀ شو لاتر اوسه د مسکو سترګو سوالونه

د زړګي په ويرانه کښې د چا ياد داسې تازه شي
لکه وسپړي اعظمه د ازغو څوکې ګلونه[1]

+++

[1] اعظم ، ډاکټر محمد اعظم ، جنون او ژوندون ، اباسين پرنټنګ پريس ، پېښور ، جون ۲۰۰۸ء ، مخونه ۵۲ ، ۵۳

بيا سينه کښې ستا يادونه په چپو دي
بيا د سترګو سېلابونه په ختو دي

بوراګانو د سپرلو لمنې نيسي
د ګلونو قافلې ګنې په تلو دي

هر انداز ئې دلفرېب دے خو زړګيه
دا معصوم معصوم کتل ئې د کتو دي

د رڼا لارې به کومې پورې ځارو
د داغونو سلسلې تلې تر څو دي

هر يو زخم مو سينه کښې فريادي دے
ؤمو نۀ وې خو قيصې د اورېدو دي

د ديدن غرونه سوري نۀ شو شيريني
خپل سرونه مو وهلي په تېشو دي

د وفـا زمکــې خـروب نـهٔ شـوې اعظمـه
ډېــرې وينــې مــو ورکــړې د زړګــو دي[1]

پروفېسر اباسين يوسفزے د ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب د غزل په حواله په دې ډول رقمطراز دے۔

,, د اعظم صېب د غـزل سپېڅلے رومـاني رنګ د ټکـو انتخـاب، غنائيـت او اوسـتکاري ښـکاره د هغوي د فن د کمال دلالت کوي ۔ د بندش د اعلی کاريګرئ ټکو ټکو ته د درد د څېکو ورکوزولـو او د حسـن د پلوشو ورښـکېل کولـو چل د اعظم صـېب قلـم لـه ورځـي ۔ د لفـظ د حرمـت او فـن د تقدس په زور چې څومره دا قلم پوهيږي ډېر کم به داسې وي۔ د دوئې تخليق کړے ادب، غزل، نظم ، لوبـه ، ډرامـه ، افسـانه او بيـا پـه تېـره تېـره طنـز و مزاح زمـونږ د ژونـد ژواک ، دود دسـتور ، تهـذيب او تمدن ژوندي تصويرونه دي [2]،،

1 اعظم ، ډاکټر محمد اعظم ، جنون او ژوندون ، اباسين پرنټنګ پريس ، پېښور ، جون ۲۰۰۸ء ، مخونه ۲۲ ، ۲۳

2 اباسين يوسفزے ، پلېپ ، جنون او ژوندون ، مصنف ډاکټر اعظم پلېپ

ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب چې د پښتو ادب په کوم اړخ قلم پورته کړے دے په هغې کښې ئې خپل فنکارانه صلاحیتونه خودلي دي او د ټولونه لویه خبره ئې داده چې چرته هم د معیاره نۀ دے پرېوتے۔

ډاکټر صېب که ډرامه لیکلې او که افسانه ، تنقید ئې کړے او که تحقیق ، منلې شوي هم دي او ستائیلے شوي هم۔ دغه رنګ د اعظم صېب نظم هم د جدیدیت ټولې تقاضې پوره کوي۔

ډاکټر محمد زبېر حسرت صېب لیکي :-

,, ډاکټر اعظم صېب په نظم کښې نوې نوې تجربې کړي دي هم د اسلوب او هم د موضوعاتو له غاړې هغه په روایتي موضوعاتو د لیک نه تر ډېره حده ډډه کړې ده او که روایتي مضمون ئې موزون کړے دے نو هغه هم په غېر روایتي انداز کښې بلکې دا به اووایم چې د نورو دپاره ئې یو خپل روایت تاکلے دے ۔ په ډېرو اهمو جذباتي او سنجیده قسم له موضوعاتو چې هغه په علامتي رنګ کښې کوم نظمونه لیکلي دي د هغو په پښتو شاعرۍ کښې نۀ مثال شته نۀ جواب ۔ په دغو نظمونو کښې کوډمار ، سوراړا ، احتجاج په

علامتي رنګ کښې د جديد نظم شاهکار نظمونه دي.
په مزاحمتي رنګ کښې ,, فنکار نه ،، او ,,خاموشي ،، د پاکستان د وړومبي مارشل لاء په دور کښې ليکلے شوي ( اوچاپ شوي )ې يادګاري او تاريخي نظمونه دي[1]،،

ګرانو لوستونکو ! راځئ چې د ډاکټر محمد اعظم اعظم صيب د نظم د رنګونو او خوشبوګانو نه هم خوند واخلو.

سورا ا

دغه وچه شاړه زمکه
د ذوزانو ځنې ډکه

چاؤدې چاؤدې پړسېدلې
خاؤرې خاؤرې دوړېدلې
د فکرونو اديره ده
د تېرو دربو مېره ده

[1] حسرت محمد زبېر ، جنون او ژوندون د شاعرۍ اسم اعظم ، مشموله جنون او ژوندون ، مصنف ډاکټر اعظم ، اباسين پرنټنګ پريس ، پېښور ، جون ۲۰۰۸ء ، مخونه ۲۹ ، ۳۰

د تېـــــرو دربـــــو ســــــرونه
پـــــه ســــپېرو بـــــادونو خـــــوزي
نـــــۀ زرخېـــــزه شـــــنه ســـــوچونه
نـــــۀ ښـــــېرازه امېدونـــــــــه

پـــــه ســـــپېرو وچـــــو ســـــرونو
کښـــــې طلـــــب د ښـــــېرازۍ څـــــۀ
علامـــــې د زرخېـــــزۍ څـــــۀ

زرخېـــــــده غلامـــــــان دي
بـــــې ضـــــميره بـــــې احساســـــه
بـــــې اوازه بـــــې اسواســـــه

څـــــۀ ســـــپېرۀ ســـــپېرۀ اغـــــزي دي
څـــــۀ تېـــــرۀ تېـــــرۀ تـــــوبري دي
ســـــخېدونکي څخېـــــدونکي
پـــــه نظـــــر د ژوندانـــــۀ کښـــــې
د زړې زمکـــــې پـــــه زړۀ کښـــــې[1]

---

[1] اعظم ، ډاکټر محمد اعظم ، جنون او ژوندون ، اباسین پرنټنګ پريس ، پېښور ، جون ۲۰۰۸ء ، مخ ۲۹۹

# انـدېش شمس الـقـمـر

پښتو غزل چې په باقاعده توګه د لوئې پښتون اتل پیر روښان د انغري نه کوم مزل شروع کړو نو ددغه مکتب سپېڅلي غزلګو ورسره بدرګو وو. او د غزل په مزل کښې ئې د خپلو سترو هلو ځلو نه ورانېدونکي خاپې پرېښودل د موضوع او فن په حواله ئې غزل ته لار سمه کړه او ادبي نړۍ ته ئې يو مکمل غزل ورکړو.

بيا چې دغه غزل د خوشحال د سردارۍ په محل کښې اوځلېدو نو د توري او د قلم دې لوئې مېړۀ او ننګيالي د نورو ډېرو خدماتو سره د غزل آبياري هم داسې اوکړه چې غزل پښتون شو. د پښتون فکر او سوچ ورته دننه شو او د قامي تحريک په رنګ کښې رنګ شو. د خوشحال خاندان د پښتو غزل زړۀ پورې خدمت اوکړو او د فن او فکر داسې ګلونه ئې پکښې راؤسپړدل چې خوشبوګانې ئې تر دې دمه د پښتو غزلزار په هر اړخ خورې ورې دي.

د خوشحال په خاندان کښې کاظم خان شيدا د هند په خاوره د پښتو د غــزل ځېه سترګه اوکړه او لکه د خپل نيکۀ

ئې پښتو غزل د ډېرو ناوياتو فکرونو په ښکلاګانو سينګار کړو۔

په دغه زمانه کښې چې خوشحال د پښتو غزل له د زړۀ وينې ورکړې او د ,, بکره پښتو ،، له مخه ئې نقاب پورته کوۀ لوئے صوفي شاعر انسانيت عبدالرحمان بابا هم د خپلې دونهې په غاړه د غزل په اوربل د خپلو فکرونو عطر پاشي کوله چې ښکلاګانې او خوشبوګانې ترې د باړې او جيندي تر غاړو خورې ورې شوې چې د باړې په زمکه عبدالحميد مومند او د جيندي په غاړه علي خان د نازک خيالۍ او رومانيت خوارۀ پښتو غزل ته پېرزو کړۀ۔

په دغه دورونو کښې د محمدي صاحبزاده د حافظ الپورۍ فکرونه هم د پښتو غزل د فکري ارتقاء سبب شول۔

په شلمه صدۍ کښې د خيبر کاڼرنه زمکه ډېره خوش نصيبه ثابته شوه ۔ چې د جديد غزل لوئے ليکوال حمزه بابا پکښې سترګې اوغړولې او بيا دې لوئے پښتون غزلګو د پښتو غزل له داسې ځواني ورکړه چې ځان ئې پرې تر ابده بابا کړو۔

په دغه دور کښې د علم نمر هر طرف ته خپلې پلوشې خورې کړې۔ د پښتو ښۀ نصيبي شوه ۔ د باچا خان تحريک د قامولۍ سره د ژبې په اهميت هم زور ورکړو او قام ته ئې د ژبې په روزنه او پالنه کښې د برخې اخستو غږ اوکړو ۔ په دغه

تحريک کښې د ډېر ځوانانو شامل شو چې د سياسي فکر نه علاوه ئې د ژبې او ادب په حواله هم خپل خدمات پېش کړل.

د هشتنغر او مردان خاوره چې دې تحريک ته ډېره نزدې وه نو هلته لوئے ليکوال اوزېږېدل چې پکښې يو زمونږ ستر غزلګو شاعر انديښ شمس القمر لکه د روښانه ستوري په څېر پړقنده ځليږي.

انديښ شمس القمر چې د پښتو غزل پېژندلے نوم دے. د پښتو غزل او انديښ لازم ملزوم دے. چې د پښتو غزل خبره راځي نو د انديښ نه بغېر به نيمګړے وي او چې د انديښ خبره کيږي نو د پښتو غزل خبره به ضرور کيږي. انديښ د غزل په معنٰی او مفهوم پوهيږي او ددې نه علاوه په دې مقصد هم پوهه دے. چې ددې حالاتو په تناظر کښې د غزل نه مونږ څومره کار اخستے شو. ولې چې غزل اوس تش د ښځو سره خبرې نۀ دي.

اوس بــه د وخــت د زړۀ خبــرې کــوي
ملګـرو مـونږ د کـار سـړے کـړو غـزل[1]

په دې کښې هېڅ شک نشته چې دا وخت د غزل لوئے ليکوال موجود دي چې د غزل نه ئې واقعي د کار سړے جوړ

1 پښتو مجله جرس غزل نمبر کراچی، احمد پرنټنګ پريس ناظم آباد کراچی، جولائي ـ ستمبر ۱۹۹۲ء، مخ ۳۹۳

کړو ولې په دغه ډله کښې د انديش شخصيت لکه د نمر ځلېږي.

د انديش صېب ددې شعرونو نه دا خبره په ښۀ توګه را ډاګې ته کيږي.

د جانان لوري ته د خيال په تلۀ راتلۀ ارمانه
تا په رنګونو ښومه اے د زړۀ ارمانه

ورکه پښتو شه ما اونۀ نيوه جولۍ د نظر
هغه ګلزار زما ريګزار د بېلتون شه ارمانه

هغه د مينې په تفسير او په دستور څۀ کوي
هغه ښائسته دے بس دے نور هغه له څۀ ارمانه

وې د هوا څنې په تېلو د مئين مشکيني
زړۀ مې د ګل د تصور وړمه کښې تۀ ارمانه

ډېر ځله سرۀ شو اسمانونه ستا د سر د پاسه
ستا د بې نيازه ادا ځار شمه ډېر ښۀ ارمانه

ماته شډل حقيقتونه کړې ګلزار د الفت
تۀ چې د خيال په څانګه کښېنې د هغۀ ارمانه

يوه لېلا يو بيابان يو جنون لنډه قيصه
ستا تصور په دې چوکاټ کښې نۀ راتۀ ارمانه[1]

+++

ستا د خيال په ورشوګانو نظر بيايم
ستا د حسن د سپرلي سندرې وايم

زۀ د مينې دې انګار انګار موسم کښې
ستا د ياد ، د ګلدرو په هوا پايم

زۀ د دې دشتې ! د هجر تپ او تاؤ کښې
تا د ګل د تصور په سېوري ستايم

اے د ژوند غوښتنو ستاسو د خاطره
زۀ د شعر ، د هنر ، په کار لګيا يم

ډېره ګرانه ده خو ، مينه ده ، څه اوکړم
تا د خپل احساس تر دشتې پورې بيايم

1 انديش ، شمس القمر ، قلمي نسخه

ســـتا د زلفـــو د تـــورتم د شبســـتانه
الـــوتلې پـــه شـــغله کښـــې د رڼـــا يـــم

محبـــت د ترهېـــدلي هوســـې زړۀ د ے
خـدائے خبـر د ے چـې دا ولــې نـن پـه سـايم

زۀ هــم مينــه کښــې پــه څېــر د پســرلي يــم
د ګلونـــو هـــوا هـــر طـــرف تـــه بيـــايم

لاس اَزاد د رقيبـــــانو ، هواګـــــانو
زۀ ولاړ لکـــه دغـــر د ګـــل پـــه شـــا يـــم[1]

د ښـاغلي انـدېش صـېب غـزل د روانـو حـالاتو ښـۀ پـه زړۀ پـورې عکاسـي کـوي .د خپلـو ځـانګړي اصـطلاحاتو سـره سـره هـاغـه واړۀ تـوکي چـې د جديـديت هنـداره وړانـدې کـوي . د انـدېش صـېب د غزل خاصه ده.

د دوئي غزل د علامت نګارۍ د ښائسـتونو سـره سـره د نوي تشبيهاتو ، تلميحـاتو او اشـارو نـه برجتـه د ے .د الفـاظو

1 پښتو مجله ، جرس غزل نمبر کراچۍ ، احمد پرنټنګ پريس ناظم آباد کراچۍ ، جولائي ـــــ ستمبر ۱۹۹۲ء ، مخ ۱۹۲

انتخاب او ترون ، د تخیل لوړ والے او موسیقیت د دوئي په غزل کښې هغه خواږهٔ راپیدا کوي چې د لوستونکو او اورېدونکو د حظ سبب ګرځي۔

د پښتو جدید غزل چې په موجوده ارتقائي سفر کښې کوم معیار او مقام ته رسېدلے دے د اندېش صیب غزل ددغې ارتقاء او معیار ځانګړې نمونه ده۔

محمود ایاز په ,,جرس غزل نمبر ،، کښې د ,,د جدید پښتو غزل تازه کړهٔ وړهٔ ،، د سر خط لاندې لیکي :-

,,د نن د غزلې مزاج مثالي ، خوندور او ښخي شیرین ښکاري خاصې ئې نوې او تقاضې ئې جدیدې دي۔ د غزلې دا تغیر ماته د غزلې د هغه ښکلي سباؤن زېرے راکوي د کوم چې مونږ انتظار کوؤ۔ دا خبره زهٔ عموماً په ډېر اعتماد کوم چې غزل وئیل د هر چا د وس کار نهٔ دے۔ دا یو ځلاند حقیقت دے چې صحیح غزل به هغه شاعر لیکي کوم چې د غزل په صحیح حقیقت ښهٔ پوئې او پوره پوره خبر وي ـــ ورسته لیکي ـــ د جدید پښتو غزل په موثر بدلون کښې د صوبه سرحد پښتونخوا ځینې محترم شاعران هم ډېر لوئے لاس لري۔ په دې خبره کښې شک نشته چې د جدید غزل په مرسته کونکو کښې به دا څو نومونه هر

وخت د جدید غزل په حواله په ښو ټکو کښې
یادېږي لکه محترم حمزه خان شنواري ، قلندر
مومند ، قمر راهي ، اندېش شمس القمر او
صاحبزاده فیضي[1] ،،
د پښتو د جدید دور په غزلګو شاعرانو کښې د ښاغلي اندېش صېب نامه روښانه او پړقنده ښکاري.

زۀ چې د دړد د زندګۍ نه ناقلاره شمه
یوه تپه د مینې ستا د چم په لاره شمه

د خپل ارمان په څلي اوتوکېږم اوریژېږم
جانانه زار ستا د راتلو د انتظاره شمه

زۀ کله کله یو تنکي ګل ته هم ځان اوبخښم
زۀ کله کله د سپرلي نه هم ویزاره شمه

زۀ د عظمت د سرېتوب کلمه درسته کړمه
پورته کړم لاس تاؤ د بارودو د امباره شمه

1 محمود ایاز ،،د جدید پښتو غزل تازه کړۀ وړۀ،، جرس غزل نمبر،
احمد پرېس ناظم آباد کراچۍ ، جولائي ــ ستمبر ۱۹۹۲ء ، مخونه
۲۵۴تا ۲۵۷

چې يار له ګل هم د دوکان د ګل فروشه لېږي
ځار ددې دور د مئينو د روزګاره شمه

د مينې سوز او ستا د ياد د سمندر غاړه ده
زۀ به قلار څنګه د خپل زړۀ د ستاره شمه

زۀ د يو ګل ورکړه هم ټول سپرلي ته اوسپارمه
پورته ورېمه د خپل احساس د غزلزاره شمه[1]

په کوم ډول چې د ښاغلي انديش صيب غزل د پښتو ادب د معيار او ارتقاء ځانګړې نمونه ده هم په دغه ډول د دوئي نظم ګوئي په پښتو ادب کښې ځانګړے حيثيت لري.

انديش صيب د معيار قائل دے. او د معيار په معنٰی او مفهوم پوهه هم دے. د موجوده وخت ټولې ادبي تقاضې او عصري غوښتنې دوي په خپل مخصوص ډول په خپله شاعرۍ کښې د خپل فکر و نظر سره تړلي راځائے کړي دي.

انديش صيب يو لوئے ترقي پسند او قام پرست شاعر دے. هغه د خپل اولس په درد خبر دے او هم ددې اولس

1 درې مياشتنۍ جرس کراچۍ، جرس ادبي جرګه کراچۍ، اپريل ــ جون ۱۹۹۱ء، مخ ۱۱۴

خبرې د دوئي په شاعرۍ کښې موجودي دي. په دغه لړ کښې د موصوف نظم ګوئي د پښتو ادب او قامي سياست په جبين لکه د خال رڼه ښکاري.

موصوف د ستر ملي مبارز حضرت باچا خان معتقد دے. د هغوي نظريه او فلسفه ئې په خپلو نظمونو کښې خوندي کړې ده او هاغه څۀ ته ئې د نظم جامه اغوستې ده کوم چې د ملي ګوند (عوامي نيشنل پارټۍ) منشور دے.

,, خپله خبره ، خپل رهبر او خپل منشور دے زمونږ ، ،

د هيڅ طوفان د هيڅ حالت نه ويرېدونکي نۀ يُو
مونږ د حالاتو د بلا نه تښتېدونکي نۀ يُو

زمونږ نظر دے په جذبه د باچا خان کندن
مونږه په اور د يو نمرود کښې سوزېدونکي نۀ يُو

ددغه خوره ، ئينه ستا ، کردار پښتونه
چې مونږ د ظلم د ناتار نه ترهېدونکي نۀ يُو

خپله خبره ، خپل رهبر ، او خپل منشور دے زمونږ
مونږه د بل د بڼ په څانګه چغېدونکي نۀ يُو

مــــونږ د حســــېن د سياســــت د عقيــــدې خلــــق
د خپــل مقــام خپلــې خبــرې اورېــدونکي نــۀ يُــو

مــونږ د ملنــګ د سـر دريـاب پـه مينـه مسـت لېـوني
مــونږ پتنګــان پــه بلــه شــمع ســوزېدونکي نــۀ يُــو

مونږ ته بل کړے ، ګـام پـه ګـام دے باچـا خـان مشـال
مـونږ د وختونـو پـه تيـرو کښـې وروکېـدونکي نـۀ يُـو[1]

ښاغلے اندېش صيب پوخ نظرياتي شاعر دے.د دوئـي د هر شعر نـه د قـام پرستي خورې ورمـې راپورتـه کيـږي او پـه خصوصي توګه د دوئي نظمونه د قـام د زلمـو د بيـدارئ دپـاره لـيکلے شـوي دي .دوئـي پـه هـر نظـم کښـې ښـۀ پـه زړۀ پـورې شعوري کوشش کړے دے او خپل قام او اولس ته ئې د هغـوي د ژوند واړه ضرورتونه او د هغـې ضـرورتونو د حـل لارې چـارې ښودلي دي.موصوف په هـيڅ حالـت کښـې هـم پـه خپلـه پښـتنه خاوره د بل تسلط تسـليمولو تـه تيـار نـۀ دے .او ددې خـاورې واړه ورثې ددې خــاورې د بچي بچي امــانت ګڼي او د هاغه

[1] انـدېش ، شـمس القمـر ، فخـر افغـان ، اولسـي ادبـي ټولنـه مـردان ، زرپانه پرنټرز مردان ، فروري ۲۰۰۵ء ، مخونه ۱۵ ، ۱۲

عناصرو غندنه کوي کومو چې ددې خاورې په خزانو خپل تسلط قايم کړے دے.

د انديش صيب په نظمونو کښې د پښتون قام په يو مرکز د راغونډولو او خپل اختيار حاصلولو درس هم موجود دے.

يـون

د خپل مقام ، د خپل منزل په طرف ، يون دے زمونږ
دغه ژوندون دے زمونږ
تل په مانړو د استبداد باندې شبخون دے زمونږ
دغه ژوندون دے زمونږ

مونږه قسمت د خوارو زارو ، بدلول غواړو
مونږ نعمتونه د ازاد ژوند خپلول غواړو
تور ښاماران د خزانو نه پاسول غواړو
د خوشحالۍ پلوشه هر خوا خورول غواړو
دغه منشور، دغه دستور، دغه قانون دے زمونږ
دغه ژوندون دے زمونږ

اے زمانې ، د پښتنې وينې ، غورځنګ دې ياد دے
د احمد شاه، د ايمل خان د تورې شرنګ دې ياد دے

هغــه ډګــر د سرخپوشــۍ هغــه فېرنــګ دې يــاد د ے
هغــه ننګيــال ســپه ســالار آشــاه ملنــګ دې يــاد د ے
که ياد دې نهٔ وي ، ما درياد کړو دا پرون د ے زمـونږ
دغــه ژونــدون د ے زمــونږ

مــــونږ د زورلــــو او زپلــــو ، غريبــــانو يــــاران
مــــونږ د بــــې کــــورو ، د نهــــرو نــــادارانو يــــاران
د مظلومــــانو ، دهقانــــانو ، مزدورانــــو يــــاران
نـهٔ يُـو مـونږ نـهٔ يُـو ، ددې قـام د خونخوارانـو يـاران
دا فېصــــله ده او دا لــــوظ د پښــــتون د ے زمــــونږ
دغــه ژونــدون د ے زمــونږ

بيـا د پښـتون قافلـه يـون کـوي بېـدار شـئ زلمـو
کاســه د ظلــم نســکورېږي خبــردار شــئ زلمــو
بيــا يــوه چغــه د غېــرت وهــو ، تيــار شــئ زلمــو
بيــا لکــه تنــدر د ظــالم پــه کــور ګــذار شــئ زلمــو
شــپه پــه سـلګو ده پـه راتلـو سـپين سـباؤن د ے زمـونږ
دغــه ژونــدون د ے زمــونږ[1]

---

1 انديش ، شمس القمر ، فخر افغان ، اولسي ادبي ټولنه مردان ، زرپانه پرنټرز مردان ، فروري ۲۰۰۵ء ، مخونه ۴ ، ۵

د ښاغلي شمس القمر انديش صيب سره په يو ملاقات کښې هغوي ماته د خپل ژوند لنډيزه قيصه څۀ په دې ډول اوکړه.

,, زۀ د غريبې کورنۍ وګړے يم .زما د والد صيب نامه عمر خان ده. په کال ۱۹۳۳ء کښې زۀ په مايارو کښې پيدا شوے يم. څۀ موده پس زۀ د خپلې خور خواله راغلم او ترديې وختـه په خاکسار محله کښې ژوند کوم. د مردان هائي سکول نمبر ۱ نه مې لسم جماعت پاس کړو. د پرائيويټ اميدوار په حيث مې د پېښور بورډ نه د دولسم امتحان هم پاس کړو. خو د بده مرغه په هاغه وخت کښې زمونږ په صوبه کښې د پرائيويټ څوارلسم کولو اجازت نۀ وو. په دغه لړ کښې ما پنجاب يونيورسټۍ ته اوليکل چې زۀ څوارلسم کول غواړم.

ما څوارلسم کول غوختل ځکه چې زما تړون د شعر و ادب سره وو. او د هغې دپاره ماته ددې ضرورت وو.

د اويايم خواؤ شا ما د پنجاب يونيورسټۍ نه د څوارلسم ډګري حاصله کړه. ،،

ښاغلي انديش صيب د روزګار په حواله داسې اووئيل :

,, زما د غريبۍ دوکانداري وه. چې په هغې کښې به ما ګوره او څۀ نورې ميوې خرڅولې .ما په هاغه وخت کښې په دغه دوکاندارۍ ګذاره کوله. دنور کار کولو توان او طاقت مې نۀ وو ولې چې زۀ په صحت کمزورے ووم.

د خپل کتاب د چاپ په حواله زما د سوال په جواب کښې ښاغلي اندېش صېب اووئيل :

,, د څـهٔ مودې پورې زما کتاب زما د بې وسۍ او غريبۍ له وجې پاتې وو ـ خو نن سبا ماته د کتاب چاپ کولو ټولې لارې کولاؤ دي او کتاب هم چاپ ته تيار پروت دے ـ خو ماته د زړهٔ قرار او سکون نهٔ دے ملاؤ[1] ،،ـ

د ښاغلي نوموړي شاعر اندېش صېب که هر څو د شاعرۍ کتاب لا چاپ نهٔ دے ـ ولې بيا هم د دوئي شاعري د خپل عصر د شهرت په بام ولاړه ده ـ او دا هم دغه وجه ده چې دوئي پښتون قام او پښتو ژبې ته په درنه سترګه کتلي دي ـ د پښتو ژبې او پښتو شاعرۍ بې غرضه خدمت کوي او څنګه چې دوئي پښتو ژبې او پښتو ادب ته په درنه سترګه کتلي دي هم دغه شان پښتون قام د وئي سره مينه کړې ده ـ د دوئي شاعري ئې په مختلفو مجلو او ورځپاڼو کښې لوستې ده او د ټي وي او ريډيو په پروګرامونو ، مشاعرو او د مختلفو سندرغاړوپه خوږو اوازونو کښې ئې اوريدلې اوخوښه کړې ده ـ

ددې نه علاوه د ښاغلي اندېش صېب په مختلفو کتابونو ديباچې او په رسالو کښې افسانې د دوئي د نثر درنه

---

[1] د اندېش صېب سره زما ملاقات

برخه ده.

دوئي ته په خپلو درنو ادبي خدماتو يو شمېر اعزازات ورکړے شوي دي.چې د پي ټي وي له خوا د ښهٔ غزلګو شاعر په حېث د ايوارډ نه علاوه د فخر مردان ، د عالمي پښتو ادبي کنونشن پېښور ، د مرستيال ليکوال ,,مل ،، ملاکنډ ، د پښتونخوا قامي ايوارډ د موصوف د خور وور ادبي شخصيت غمازي کوي . دا خور وور ادبي شخصيت ، خپل خور وور فکر و نظر په خپل کلام کښې ځومره په خوندناکه او اثرناکه پېرايه کښې رانغاړي.

شعر مې د جاج د لر او بره اووت
چې ستا د ذکر د هنره اووت

نهٔ مې نظر نهٔ مې قدم ګرم دے
ځکه چې ژوند د رو ګودره اووت

د محبت کسب مې زړهٔ ته پرېوت
چې مې هر ښکلے د نظره اووت

زۀ غــم ســره او کــۀ غــم مــا ســره ؤ
چـــې راســـره ســـم د ســـحره اووت

داســـې ســـوکړه دې انتظـــار راوســـته
د وفـــا تخـــم لاړ د کـــره اووت

چـې خپلـه ډلـه ئـې پکښـې نـۀ پېژنـده
هوښـــيار هغـــه ؤ چـــې د ســـنګره اووت

هـــر يـــو مظلـــوم ســـره حســـاب اوشـــو
هـــر يـــو ظـــالم تـــرې نـــه د ســـره اووت

د وطـن يـاد ورتـه زيـن کـړے اس شـۀ
ولـــې هلـــه چـــې د ســـفره اووت

ســـتا د ښائســـت زمـــا د مينـــې قيصـــه
د نظـــر غشـــے ؤ د ځيګـــره اووت

ماتـــه ئـــې اور د جفـــا داســـې د ېـــن کـړو
چـــې دا عـــادت مـــې د دلبـــره اووت

Pukhto.Net

سحر وختي لاړ په اخبار پسې
د خپله ماله ناخبره اووت

چې په کوم لور ئې مخه اوکړه لاړو
خو پېښور د پېښوره اووت

د خيال هوا دې هم پخلا کړو مئين
مرورتوب د مروره اووت

استاذ به بيا چرته ممبر ته راشي
د ممبرۍ شۀ د منبره اووت

بېرته خپل ور ته هم اونۀ رسېدۀ
د ظلم زور د سکندره اووت

ژبه دې ډېره ښکلې غوښه کوي
خو هغه سوے دې د خنجره اووت[1]

1 مياشتنۍ پښتون مجله پېښور ، باچا خان ټرسټ پبليکيشن سيل ، ستمبر ۲۰۰۲ء ، مخ ۱۲

# محمد اقبال اقبال[1]

په پښتو ادب کښې د مردان د ليکوال لويه برخه ده ـ د تحقيق ، تنقيد او تخليق په حواله د مردان سيمې په پښتو ادب درنه پېرزوئنه کړې ده او لکه څنګه چې مردان د سياست، صنعت او تجارت په لړ کښې د پښتونخوا يو لوئے مرکز دے داسې د ادب په سلسله کښې هم دلته د قلم پياوړي شخصيات زېږېدلي دي ـ

د ژبې او ادب په ارتقائي عمل کښې د مردان د قلمکارو لړۍ ډېره اوږده ده ـ ددغه مضبوط زنځير يوه سنګينه کړۍ د مردان د مشر ليکوال او پوهان محمد اقبال اقبال شخصيت هم دے چې د ادب دغه زنځير ئې تر دې دمه مضبوط کړے دے ـ

محمد اقبال اقبال په اګست کال ۱۹۴۴ء کښې د مردان په باړي چم کښې د خدائے بخښلي شېر محمدخان کره زېږېدلے دے ـ تر لسم جماعته پورې زده کړه ئې د مردان د هائي سکول نمبر ۳ نه حاصله کړه او په ايکسائز کښې د کلرک په حيث بهرتي شو ـ د دولسم او پښتو آنر امتحانونه ئې د

[1] محترم محمداقبال اقبال په ۲۱ مارچ ۲۰۰۹ء د خالي په ورځ ددې فاني دنيا نه رحلت اوکړو ـ ( الله پاک دې مغفرت نصيب کړي ) امين

نوکرۍ په دوران کښې د پرائیوېټ امېدوار په حېث پاس کړل ـ د خپلې بې پنا خودارۍ په وجه د ایکسائز د محکمې نه مستعفي شو او دوبۍ ته لاړو ـ خو پردے وطن او پردے اختیار ئې په مزاج ښۀ اونۀ لګېدو اوخپل وطن ته واپس راغلو په پېښور کښې ئې د انګرېزي دوایانو دوکان اوکړو چې څۀ موده پس ئې د هغې نه هم لاسونه پورته کړل او په مردان کښې ئې د ټوکو دوکان پرانستو چې تقریباً د شلو کالو راسې ئې هم دغه دوکان د معاش ذریعه دے ـ

اقبال صېب د ماشوموالي نه د لوئے پښتون او لاربښود فخر افغان باچا خان د فکر او لار ملګرے دے او بقول د دوئي چې کله به د باچا خان په جلسه کښې شاعرانو خپل کلامونه واؤرول نو باچا خان به وئیل چې د دوئي نه پس به زۀ څۀ وایم څۀ چې وو هغه دې شاعرانو اووئیل نو ماته دا پته اولګېده چې د عام خبرو نه د شاعرۍ زیات زور دے نو ځکه زۀ شعر پله راغلم[1] ـ

د دوئي ددې خبرې نه دا اندازه کیږي چې دوئي شعوري طور د شعر مېدان ته راغلي دي او په دې لار هغه د خپل اولس فکري او شعوري روزنه کول غواړي ـ په دې چې پښتون قام د ډېرو کشالو سره مخ دے چې پکښې لویه مسئله

1 ښاغلي محمد اقبال صېب سره د ملاقات په موقع

د تعلیم نه لرې والے دے ـ که چرې پښتانۀ علم حاصل کړي پـوهـه حاصله کړي نو دا قام بیا د چا نه وروستو نۀ شي پاتې کېدے۔

اقبـال صـېب هـم خپـل قـام لـه د شعور ورکولـو دپـاره د ادب د قـافلې ملګرتیـا کـړې ده ـ او پـه دغـه غـرض ئـې د خپـل ژوند زیاتـه برخـه د قـام پـه خدمت او د خپلې ژبې پـه روزنـه او پالنه کښې تېره کړه ـ او تر دې وختـه چې د بیمـارۍ پـه حالـت کښې دے دخپلې ژبې او ادب خدمت کوي۔ په ادبي محفلونو، مشـاعرو او پروګرامونـو کښې ئې د ژبې او ادب د پرمختـګ بېرغ هسـک نیـولے وي او پـه عملي توګـه دغـه خدمت تـه مـلا تړلے ولاړ وي۔

اقبـال صـېب تـر دې دمـه ,,پلوشـه ،، د لېوالـه محبت د ربـاب ترنـګ ،، او د افسـانو مجموعـه ,,تلې پېرونـه ،، چـاپ کړي دي۔ددې سره ئې یو شمېر ډرامې د پي ټي وي او پېښـور ریډیو نه نشر شوي دي۔ په نور ادبي زیار کښې د ډاکټر اسرار شـعري مجموعـه ,,د ژونـد نغمـه ،، د قطـر د مسـافرو ملګـرو تذکره ,,د دشت نغمه،، ترتیب کول او چاپ کول هم شامل دي۔

د ادبي خدماتو پـه لـړ کښـې ورتـه پـه کتـاب ,,پلوشـه،، باندې ,,آدم جي ،، ایوارډ ورکړے شوے دے ولې د ټولـو نـه لـوئے ایـوارډ دادے چې اقبـال صـېب د خپـل اولـس سـره مینـه کړې اولـس ئـې یـاد کـړے او سـتائیلے دے او دغسـې اولـس د

دوئي سره مينه کړې ده ـ د دوئي کلام ، ډرامې او افسانې ئې لوستي دي ـ اوريدلي دي او خوښې کړې ئې دي ـ

د اقبال صېب افسانې او ډرامې د خپل چاپېرچل يوه زړۀ پورې هنداره ده ـ او مونږ ته د معاشرې په حقله هغه ټولې خبرې په ګوته کوي چې کومې د تباهۍ او بربادۍ سبب ګرځي اقبال صېب په خپله معاشره کښې د لوېدلې طبقې نمائندګي کړې ده او د قلم په زور ئې د بره طبقې خلاف جنګ کړے او د معاشرې هغه ناولي کردارونه چې اولس ترې په عذاب وي مونږ ته ښکاره کوي ـ ولې د دوئي ژبه ډېره خوږه ، پسته او روانه ده او دومره په صحيح توګه خپل مافي الضمير بيانوي چې د معاشرې ددغه بره طبقو ئې هم په لوستو سره د ځانه کرکه او نفرت پېدا شي ـ د ,,تلې پېرونه ،، افسانې زړۀ پورې انداز ، اغاز او اسلوب لري ـ خپل روزمره الفاظ او محاورې او د افسانو مناسب نومونه ئې د افسانې د فن سره د يو مخلص تړون غمازي کوي او دا ترې هم څرګندېږي چې دوئي د افسانې په فن ښۀ ګرفت لري ـ په دې چې قاري په يو وخت په ټوله افسانه لوستلو مجبوروي ـ او د افسانې اختتام ئې هم د لوستونکي د خولې نه داد اوباسي ـ د افسانو په لړ کښې ئې دا خبره هم د يادولو وړ ده چې د پښتو د ټولو نه لنډه افسانه هم دوئي ليکلې ده ـ کومه چې د تانې ادبي ټولنې په ,,سبا ،، مجله ,, وحدت ورځپاڼه ،، او د دوئي د افسانو په کتاب ,,تلې

پېرونه ،، کښې د ,,ژوند ،، د سرخط لاندې چاپ ده ـ افسانه څۀ په دې ډول ده ـ

ژوند

زما د مرګ په دریشتم کال ــــ زما زلمي زوئي د وطن د ازادۍ په جنګ کښې ځان شهید او زۀ ژوندے کړم[1] ـ

اقبال صېب غزل ، نظم ، سندره او قطعات هم د قلمه ویستي دي ـ چې وخت په وخت اولس ته رسیدلي دي ـ د ریډیو پاکستان او پي ټي وي له خوا د هوا په چپو ئې ډېر کلامونه د پښتو د بېلا بېلو سندر غاړو په اوازونو د پښتونخوا لر او بر ته رسیدلي دي ـ تر دې دمه چې کومو سندر غاړو د دوئي کلام ته د خپل اواز خوارۀ ورکړي دي د هغوئي نامې د خپلو لوستونکو په وړاندې ږدم ـ

,, خیال محمد ، هدایت الله ، فضل ربي ، احمد خان ، میراحمد شاه ، اکبر حسین ، فضل مالک عاکف ، ډاکټر اسمایل قمر ، ګلزار عالم ، ګلریز تبسم ، سعید مهدي ، انتظار ، هارون باچه ، ناشناس ، زرشاد ، احمد شاه ، انورخیال ، شاه ولي ، بهارعلي ، سېداګل مېنا ،مصطفٰی کمال ، باچه زرین جان ، ګلنار بېګم ، کشور سلطان ،

---

[1] اقبال محمد اقبال ، تلي پېرونه ، اولسي ادبي ټولنه مردان ، تاج پرېس پېښور ، یکم جون ، مخ ۴۸

معشوق سلطان ، مه جبین قزلباش ، عقل مینه ، ګل مینه ، نغمه ، نور جهان ، وږمه ، رخسانه ، قمرو جان ، فرزانه ، عائشه ، شبنم ، شکیله ناز ، اقبال بانو ، نویته خان ، رخسانه اعجاز ، نیلم ، طائره ناز ، ناهید[1] ،،

اقبال صېب په دې لړ کښې لیکي :-

،، زما نغمې زما د ذات ، زما د وطن او زما د اولس په دړد غم ، ښادۍ او خړیکو کښې ژوند کوي ـ د ساز او نغمې تړون زما د ژوند سره سم را روان دے ـ زۀ لا د شپاړسو کالو ووم چې زما وړومبۍ نغمه د ریډیو نه خوره شوه ـ تر ننه زما په سوؤنو غزلې ، سندرې ، چاربیتې ، لوبې او نظمونه ریډیو او ټیلیویژن ریکارډ کړي دي ـ افغانستان ، دهلي ، کوئټې ، بي بي سي ، وائس آف جرمني او نورو براډکاسټنګ سنټرونو هم په ټوله نړۍ کښې زما نغمې خورې کړي دي[2] ،،

د اقبال صېب غزل یو جدا رنګ او خوند لري ـ خپل ترکیبونه او الفاظ د دوئي د غزل ښکلاګانې او خوشبوګانې راسپړي او

[1] اقبال ، محمد اقبال ، د لېواله محبت د رباب ترنګ ، اولسي ادبي ټولنه مردان ، چاپ ځائے ندارد ، ۱۹۹۹ء ، مخونه ۲۰ ، ۲۱

[2] همدغه ، مخ ۱۹

د کشر کهول دپاره د زدکړې يو ذريعه هم پېدا کوي ـ د دوئي غزل په فکري حواله هم يوه ځانګړتيا لري د اولس او د قام او ژبې غم د دوئي غزل سنګار کړے دے ـ ساده او روان الفاظ ولې د فکر و خيال ژورتيا ئې د غزل پېژندګلو ده ـ

په ګل مئين يمه قطره د شبنم هېڅ نۀ کېږم
د وخت نمرونه سرۀ اورونه زغمم هېڅ نۀ کېږم

که د شبې نيمې د وصل په ترياقو پسې
تلي د زهرو د بېلتون هم پلم هېڅ نه کېږم

مړ اور دې پوک وهۀ ، تازه دې کۀ ، ورغلے پرهر
زۀ خو د سلو بټو وتے ، په غم هېڅ نۀ کېږم

د شاعرۍ هنر ، د کر کرونده دې پوهه راکړه
کرونده ګر شومه ، پښتو به کرم هېڅ نۀ کېږم

پسروي راته پګړۍ ، د ستمګرې ډلې
په تا قربان زۀ ستا په جور و ستم هېڅ نۀ کېږم

رقيب شو سترے په تونو ، تونکو ، جادو منترو
صادق مئين يم په منترو په دم هيڅ نۀ کيږم

چې ورسره مې د شعور ، ذهن او زړۀ رشتې دي
ځنګ به تېر کښې د پښتو د قلم هيڅ نۀ کيږم

ربه د ژوند ورځې مې کمې د اجله نۀ دي
دومره بلد شوم ، که قضا سره ځم هيڅ نۀ کيږم[1]

ښاغلے اند ېش شمس القمر صيب د محمد اقبال اقبال د غزل په حقله ليکي.

,, د شعر د لوري اقبال د خپل لوستونکي نه ډېر ښۀ خبر دے. چې هغه څۀ غواړي او څۀ خوښوي د هغه د بيان ښکلا او د هۀ د خيال کمال ــــ د هغه د شعر هر مضمون او هرې جذبې ته ، ژوند او ښېرازي بخښلې ده . د هغه غزل د نوي دور په رنګونو، اداګانو، خوبونو او ارمانونو سينګار دے. د هغۀ د امېد رڼا نغړدې نۀ ده. هغه په خپل شعر کښې د هر مضمون ، د مقام او مرتبې ، پوره

[1] اقبال ، محمد اقبال ، قلمي نسخه

پوره خيال ساتلے دے او هغه مضمون ئې د ژبې او جذبې په شان او ډول نمانځلے دے ، کوم چې د ښهٔ شعر او ښې شاعرۍ ، وړومبے شرط او بنيادي حق دے[1] ، ،

ستا بې رخي ، د نفرتونو بام و در ته خته
جذبه د مينې ، لېونۍ لېونۍ سر ته خته

دغه ټپه د ژوند مې ساه وه ، د ناتوانه وجود
کومه چې ستا د کلي زړونو کښې سنګر ته خته

مونږ د کاکل سيوري ته ناست ، ستاد جبين په ارمان
ستا قبيله، کله سپوږمۍ ته کله نمر ته خته

په دې غرمه، ستا د ستم مړے په شا ګرځوؤ
ساه به اشنا ، ددې غريب کوز مازيګر ته خته

ماته په ډکه خولهٔ دعا کړي ، ستا د خېل سپين سرې
د خولې ښېره دې بيا زما په حق کښې چرته خته

---

[1] شمس القمر اندېش ،سريزه ,, اقبال چې د پښتون په ترانه باندې مئين دے ،، مشموله د لېواله محبت د رباب ترنګ ، مصنف محمداقبال اقبال ، اولسي ادبي ټولنه مردان ، ۱۹۹۹ء ، مخونه ۹ ، ۱۰

نـــهٔ خـــو مـــې کلـــې پرېښـــودهٔ او نـــهٔ د نرخـــه وتـــم
يـــاره کـــه ډېـــره دې نشـــه ، د پښـــو نـــه ســـر تـــه ختـــه

د بـل بـه خپـل تـه ، خـو د خپـل ګيلـه بـه چـا تـه کـوؤ
ګيلـــه د خپلـــو د اتبـــار مـــې زړهٔ تـــه بيرتـــه ختـــه

اقبالـــه مينـــه ده پـــه لېچـــو کښـــې بنګـــړي مـــاتيږي
تهٔ خو ډېر ښهٔ ئې چې سلګۍ دې خپـل دلبر تـه ختـه[1]

د اقبـال صـېب نظمونـه هـم د دوئـي پـه فـن د عبـور څرګندونـه کوي - د دوئي نظم په فکري جوړ هم دغـه د اولـس د غـم نـه ډک دے - ولـې ادبـي ارزښت او قيمت نـه ئـې هـم انکـار نـهٔ شـي کېدے - پـه دې چـې دغـه نظمونـه د ادب مؤثرې فنپـارې دي - ځنې نظمونه ئې داسې دي چې سدا بهـار دي هـر وخـت د جذبو ترجمـاني کـوي - ځکـه چـې دغـه د اولـس خبـرې دي او د اولـس خبـرې هـر وخـت د اولـس خووښـې وي لکـه پـه ,, يـو ويشـتمه صدۍ،، نومې نظم کښې وائي -

## يو ويشتمه صدي

نهٔ ځمه ، نهٔ ځمه ، زهٔ نهٔ ورځمه

---

1 اقبال ، محمد اقبال ، د لېواله محبت د رباب ترنګ ، اولسي ادبي ټولنه مردان ، چاپ ځائے ندارد ، ۱۹۹۹ء ، مخ ۳۲

زۀ يو جاهل ، زۀ يو ان پړ ، زۀ يو ناپوهه بنده
زۀ په ببوځو ، په شوملو ، په ساګ سوکړک لوئې شوے
زۀ په ځانګو د بې وسۍ کښې ، په سلګو لوئې شوے
زۀ نار نهور ، لوڅ او لغړ ، د سپېله پاتې مرغۍ
زۀ کور و کر ، در په ديکې د شمېره هېر ناداره
په ورېږ خېټه ، په صبرونو او شکرونو عادت
په اتلسمه کښې روان ، د نورلسمې په خيال
زۀ به دا خواره زندګي ، ځان سره څۀ ورمه
ماته صدۍ د ارتقاء ، په سر دشتونه پراتۀ
زۀ لا د حاله د خپل ځان ځنې ، خبر نۀ يمه
نو د جهان د حال احواله به ، زۀ څۀ خبر شم
زۀ ارتقاء لا د خپل ملک خېټې مړې ته وايم
زۀ لا سکون ، د ژوندانۀ ځلے او ګور ګڼمه
نۀ ځمه ، نۀ ځمۀ ، تۀ ځه ، تا ترقي کړې ده
ما په رڼو سترګو لا خپل پرون ليدلے نۀ دے
ما ته دې مۀ ايساروه ، د رنګ او نور قافله
تۀ په هوا ، زۀ په تولن تولن ، سفر کومه
زۀ د پرون اقدار ، د نوي ژوند اغاز ګڼمه
په تا تادي ده ، په يواځې ځان اسمان ته خېژې
زۀ په بېلګه د خپل نيکانو په جلب کښې روان
ما چې لاليه ، لا شلمه هم شل کړې نه ده

نو یویشتمې ته به ګام په کومو سترګو اخلم [1]

ډاکټر محمد همایون هما صیب په درې میاشتنۍ جرس (کراچۍ) کښې د ,, یو ویشتمې صدۍ ،، په حواله لیکي :-

> ,,زۀ محمد اقبال اقبال د غزل شاعر ګڼم خو هغه وخت په وخت نظمونه هم لیکلي دي . هغه د شاعرۍ د دغې دوارو برخو په شاه د قام پرستۍ او پښتون د سر لوړۍ جذبه ښکاره کوي . یو ویشتمه صدۍ کښې د ارتقاء مزلونو ته روان دوان د انساني قافلې جائزه د زمینې تقاضو په رڼا کښې اخسې ده . دا جائزه روماني نۀ ده . په هغې ترخو حقیقتونو اډانه ده چې د حالاتو په جبر کښې راګېره د هغه قام ورته سپلمه دے [2]،،

,, د ژوند د احساس شاعر ،، نومې نظم کښې وائي :-

چرته چې ذکر د حرفونو د مئین راشي

---

1 اقبال ، محمد اقبال ، د لېواله محبت د رباب ترنګ ، اولسي ادبي ټولنه مردان ، چاپ ځائے ندارد ، ۱۹۹۹ء ، مخ ۱۲۱

2 جرس نظم نمبر ، کراچۍ ، جنوري ۲۰۰۱ء ، مارچ ۲۰۰۲ء ، احمد پرنټنګ پریس ، ناظم آباد کراچۍ ، مخ ۸۷۳

چرته نامه چې د ښائست د بنجاري واؤرمه
چرته چې شعر ، لکه ګل د پسرلي خور شي
چرته چې وکړي غزؤنې ، د غزل ښاپيرۍ
چرته شمله چې په سيالۍ شي ، هسکو غرونوسره
چرته خارو چې قدم اخلي ، د سيندونو سره
چرته ورشو ، د خوب او خيال کښې چې پرکاله شي ژوند
يا لکه پرخه چې له مخ د ګلاب رنګ واخلي
يا غېږه ورکړي موسمونه د مئينو زړو له
يا چې د ښکلو د اوربل غوټۍ ځانونه سپړي
يا چې ښکالو شي د ارمان د انتظار په سيمه
يا انګازې چې په دُرشل د زړۀ اوترې راشي
يا نغمګر ، د نغمې څړيکې ته خوږ درد وبخښي
يا په پرهر ، د چا مئين د نغمې پهه کښېږدي
داسې يو نوم د چا شاعر مې په احساس خور شي
څوک چې لفظونو ته ښکلا ، شعر ته ژوند وربخښي
څوک چې خپل ځان ، د شعر ژوند ته سپېلني سېزي
د پښتونخوا د هر پړاؤ او هر ګوټ پېر شاعر
د ژوند د ناوې په سينګار له ځانه هېر شاعر
لکه د پرخې مې د زړۀ په بڼ وربېږي چې ځي

د خيال ورشو کښې مې د لرې نه موسيږي چې څې[1]

سندره چې يو اولسي صنف دے او د پښتو د اولسي شاعرۍ يو ځانګړې او منفرده برخه ده ـ کومه چې د پښتو د روماني مزاج ځرګندونه کوي ـ اقبال صېب د دغه فن لمن هم د خپل فکر د ملغلرو نه ډکه کړې ده ـ چې دغه اولسي صنف کښې ئې ادبي او فکري ښائستونه رابرڅېره کړي دي ـ چې زهٔ دا وخت خپل لوستونکو ته د هغې نمونې وړاندې کوم ـ

سندره

خوارهٔ يادونه د وطن مې تصور کښې اوسي
زړهٔ او نظر کښې اوسي ــــ وطن ته ځمه
ارې ارې د وطن ياد ، د زړهٔ پرهر کښې اوسي
زړهٔ او نظر کښې اوسي ــــ وطن ته ځمه

د هجر عمر ځيګر خون دے زما
ژوند د ځوانۍ دلته افسون دے زما
هلته سحر ، دلته شبخون دے زما
هلته وصال ، دلته بېلتون دے زما

1 اقبال ، محمد اقبال ، د لېواله محبت د رباب ترنګ ، اولسي ادبي ټولنه مردان ، چاپ ځائے ندارد ، ۱۹۹۹ء ، مخ ۱۷۰

په وينو سور د وطن يادمې په سنگر کښې اوسي
زړۀ او ځيگر کښې اوسي ، وطن ته ځمه

هلته د غرو څوکې واؤرينې پرتې
هلته ورمې خوږې ، شيرينې پرتې
هلته کښې مينې ، گل ورينې پرتې
دلته لمحې په ما ، سنگينې پرتې
پردي وطن کښې مې ازغي دزړۀ په سر کښې اوسي
زړۀ او نظر کښې اوسي ، وطن ته ځمه

لمبو د هجر کښې سوزېږمه زۀ
ناسور زخمونو کښې دړدېږمه زۀ
دا ځائې په خاورو کښې لوغړېږمه زۀ
د وطن مينې ته ، زيرېږمه زۀ
دلته مې هر ارمان د اور په سمندر کښې اوسي
زړۀ او نظر کښې اوسي ، وطن ته ځمه

مسافري به مې ختمېږي ضرور
دا توره شپه به سبا کيږي ضرور
د سفر غم به مې غوځيږي ضرور
تگ به مې کور ته رښتيا کيږي ضرور

دا مې يقين د ے هر کلے به راته ورکښې اوسي
نظـــــر نظـــــر کښـــــې اوســــــي
لکـه شـهۍ بـه د خپـل کلـي پـه ګـودر ګـرځمـه
وطـــــن تــــه ځمــــه[1]

سنـد ر ه

ګلونـــــــه تـــــرې شــــــــرمېږي
ســــــــپوږمۍ تــــرې نـــــه پټېـــــږي
ښائست د ښکلي يار ته ، زما نه په ننداره ده
ښائســـــته ذره ذره ده

بلبـــــــل پکښيــــــې چغيــــــږي
پېنزېـــــب لکــــــه شـــــرنګېږي
هوســــــۍ لکــــــه ترپيــــــږي
رفتار لکه خارو ، په سردرو کښې پـه مزه ده
ښائســـــته ذره ذره ده

1 اقبال ، محمد اقبال ، د لېواله محبت د رباب ترنګ ، اولسي ادبي ټولنه مردان ، چاپ ځائے ندارد ، ۱۹۹۹ء ، مخ ۱۰۴

بنګــــــړي شـــــړنګوي شــــــړنګ دے
پېـــــزوان ئــــې پــــه غورځنـــــګ دے
نتکـــــی ئـــــې پـــــت او ننــــګ دے
حیـــا بنارســـی ئــې پــه بــدن خــوره وره ده
ښائســــــته ذره ذره ده

شـــــــینکے چمــــــــن دے
خوشــــبو ئــــې خــــتن دے
رنګــــــــین وطـــــــن دے
اقبالـــه هـــره پېغلـــه د وطـــن مـــې تـــاتره ده
ښائســــــته ذره ذره ده[1]

ادب لــوئے استاد اجمل خټک د دوئي د فن په حقله ليکي.
,, محمد اقبال د نن وخت د پت ، ادب او فـن هغـه ښاغلے نمائنده دے چې دخپلې خاورې د ماضي ، د تورې او قلم تقاضې هم پوره کـوي .ورسره د نـن ورځ او زمـانې پـه ګرمـو او تېـزو سـيلو او د جبـر او فريـب پـه طوفـانونو کښـې د خـاورې او اولـس د دردونو او ارمانونو ، اثرناکـه اظهـار هم کـوي او د

1 اقبال ، محمد اقبال ، د لېواله محبت د رباب ترنګ ، اولسي ادبي ټولنه مردان ، چاپ ځائے ندارد ، ۱۹۹۹ء ، مخ ۱۱۸

مستقبل د نوي ژوند او مرام او شعور هم د خوږې ژبې او سپېڅلي فن په برکت په ډېر خوندناک ډول د خپل اولس ذهن ، زړۀ ، وينې او فکر ته په کاميابۍ سره هم رسوي ـ داسې د خپل ننګ او وجدان اواز هم خپلې دنيا ته وربخښي او د ژبې ، ادب ، ملت او انسانيت خدمت هم کوي [1] ،،

ستر شاعر او مزاح نګار ډاکټر اسرار وائي چې :-

,, د حالاتو تندے که هر څومره هم بوټ شي د ظلم او جبر شپې که هر څومره هم راخورې شي خو د اقبال وار نۀ شي خطا کولے ـ د اقبال د شونډو نه مسکا نۀ شي تروړلے ـ اقبال د خپلو ملګرو د خپلې ژبې او قوم د خدمت نه نۀ شي منع کولے ـ اقبال د چا لاس ته نۀ شي کښېنولے ـ دا قام پرست ، انسان دوست څوداره کلک پښتون ، پوخ مسلمان ، باوري ملګرے ، د پښتو ادب د کهکشان ځلند ستورے ، د مينې محبت د رومان د ګلزارونو د سندريزو ، سپرلو نغمه ګر د خپلې ژبې ، اولس او وطن په غم کښې سرګردان ، د سوؤ لوؤ حسرتونو

---

[1] اجمل خټک ,, فن او ننګ ،، ، د لېواله محبت د رباب ترنګ ، مصنف محمد اقبال اقبال ، اولسي ادبي ټولنه مردان ۱۹۹۹ء ، مخونه ۵ ، ۲

او د بې کوره ارمانونو د ښار اوسېدونکې د ضمیر
د صداقت په مرسته ژوند تېرونکې د روڼ سبا
خوبونه لیدونکې ، د ,, جمال د دربارونو منجور ، ،
د وفا د یادونو بنجاري دے ـ د دردونو په خوږو
موږ او دا په خپله غریبۍ کښې مست اقبال ځوک
نۀ پېژني [1] ، ، ـ

Pukhto.Net پښتو

1 ډاکټر اسرار ،سریزه ,, د اقبال د شخصیت یو څو رنګونه ، ، مشموله د لېواله محبت د رباب ترنګ ، مصنف محمد اقبال ابال ، اولسي ادبي ټولنه مردان ، ۱۹۹۹ء ، مخ ۱۷ ، ۱۸

# اکرام الله ګران

د هشتنغر خاوره د سوچه پښتنو وطن دے ـ دلته د پښتنو ټول دستورونه او رواجونه د صدو صدو نه تر دې وخته په خپل اصلي شکل کښې موجود دي۔

د پښتنو ملي تحريکونه روښاني تحريک او خدائي خدمتګار تحريک دې خاورې ليدلي دي۔ د مغل برخلاف پير روښان هم په دې سيمه د خپلو مريدانو په مرسته جنګونه کړي دي۔ او په شلمه صدۍ کښې د لوئے ملي قهرمان فخر افغان باچا خان لوئے اولسي تحريک خدائي خدمتګار هم د دې سيمې نه راپورته شو چې د ازادۍ د جنګ ننګيالو د پيرنګي خلاف په مکمله توګه دکاميابۍ منزل ته اورسوؤ او د برطانيې د حکمرانانو د سر نه ئې دهندوستان د بادشاهۍ تاج کوزکړو۔ او خپل اولس له ئې د ازادۍ د رڼ سبا رڼاګانې راوړې۔

مونږ چې د تاريخ پاڼې ځيرو نو دا خبره په ډاګه کيږي چې دغه دواړه ملي تحريکونو په شعوري توګه د خپل قام سره سره د خپلې ژبې د ترقۍ دپاره هم زړۀ پورې هلې ځلې کړې دي اوپښتوادب ته ئې ښې درنې اوګټورې پېرزوينې کړي دي۔

په دې سیمه چې هشتنغر نومېږي د ژبې او ادب ډېر درانۀ شخصیتونه زېږېدلي چې د پښتو ادب په اسمان لکه د نمر ځلېږي۔ په دغه درنو ادبي هستو کښې يو نامه د محترم اکرام الله ګران هم ده ۔ اکرام الله ګران د پښتو شعري ادب يو منلے او پېژندلے نوم دے ۔ د هغوي غزل او نظم دواړه د پښتو ادب درنه سرمايه ده۔

په خصوصي توګه د ګران صېب غزل د پښتو غزل يو مترقي شکل دے اوپه شلمه صدۍ کښې چې د پښتو غزل څومره ارتقائي مزل اوکړو۔ مونږ وينو چې د ګران صېب په غزل کښې ښکاري۔ په دې چې ګران د غزل استاد دے۔

وئيلے شي چې د لوئے پښتون فلسفي او د ازادۍ د جنګ د لوئے مبارز ستر شاعر غني خان نه چا تپوس اوکړو چې کوم شاعر دې خوښ دے۔هغه وئيل اکرام الله ګران ۔ او داسې ددې دور لوئے مقبول شاعر رحمت شاه سائل د خپل کتاب ,,د لمبو په سېوري ، ، ترون هم د ګران صېب په نوم کړے دے[1]۔

د انقلابي فکر او ترقي پسند نظر شاعر اشرف غمګين وائي چې :-

,, چې مـا د اكـرام الله ګران شاعري واؤرېده نو په دې شعر

[1] سائل ، رحمت شاه ، د لمبو په سوري ، دانش خپرندويه ټولنه ، څلورم ايډيشن ، جولائي ۲۰۱۰ء ، مخ ۳

لیکلو مجبور شوم،، :

د ښـــۀ خـــوئي او د ښـــۀ شـــعر لـــه برکتـــه
ګران یوازې په مـا نـه پـه هـر چـا ګـران دے

د غزل د استاذانو په وړاندې ئې دامقام تر لاسه کړے او بقـول د دوئـي چې د غـزل بابا حمـزه بابـا بـه دوئـي تـه غـزل لیکلو وئیل[1].

حمزه بابا د دوئي د غزل په اعتراف کښې په دې ډول رقمطراز دے.

پوهـــه دې شـــي اربـــاب د غـــزل
بیرتـــه شـــو بـــل بـــاب د غـــزل

ژونـــد شـــولو نغمـــو تـــه جـــوړ
ســـور چـــې شـــو ربـــاب د غـــزل

ګرانـــه مبـــارک دې شـــه نـــن
شـــو جـــوت نصـــاب د غـــزل

1 ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ایجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ایډیشن ، ۲۰۰۲ء ، مخ ج

در بــــه کـــړي هوښـــياره نشــــه
دا نـــــوي شـــــراب د غـــــزل

ګرانـــــه درتـــــه ګـــران نـــۀ شـــي
دا غــــــزل ځـــــواب د غـــــزل

جـــوړې تـــرې د ژونـــد اوبـــۀ شـــوې
پـــــاتې شـــو ســـراب د غـــــزل

مـــــا ووې هاتفـــــه وايـــــه
غــــواړم آب و تــــاب د غـــــزل

وې کـــــۀ لا پـخــــوا شــــوې وې
وه بــــه لا شـــباب د غـــــزل[1]

د ګـــران صـــيب پـــه غـــزل کښـــې د مينـــې محبـــت ټـــول مضامين په يو فنکارانه انداز کښې راځائے شوې دي ـ مينه محبـت ، هجـر وصـال ، بېلتـون ، وعـدې ، انتظـار ، رقيـب ، غمازاو داسې خوارۀ وارۀ رنګونه چې د ګران د غزل ښکلاګانې

1 ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ايجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ايډيشن ، ۲۰۰۲ء ، مخونه ی ، ک

ئې رادوڅاره کړې دي.

زمــا د زړۀ پــه کــور دې ور نــۀ لګــي
چې ستـا د دنګې ځوانۍ سـر نـۀ لګـي

مـا کـه څوک وژني لاس ئې هم نۀ نيسم
زمـا پـه يـو حالـت کښـې شـر نـۀ لګـي

سـتـا پــه راتلـو شـوم لـه ديدنـه محـروم
لــه خوشـحالۍ نـه مـې نظـر نـۀ لګـي

هغــه دهقــان يــم كــه لــه لــوږې مرمــه
بغيـر لـه مينـې مـې بـل كـر نـۀ لګـي

سـتـا د وعـدو د ونـې سـېوري تـه ناسـت
ګرمــي د هجــر ده خــو نمــر نــۀ لګــي

پېغلــې پــه بــڼ د اديــرو بنــدې شــوې
پکښــې ميلــې اوس د اختــر نــۀ لګــي

پــه بــړق خنــدا دې داســې پورتــه کړلــه
د مينـې پښـې پـه سـمه او غـر نـۀ لګـي

د زړۀ سـودا پـه ګـودر څنګـه اوکـړم
لنـډے بـازار پـه مـازيګر نـۀ لګـي

ګرانـه مجـرم د زمـانې کـه شـومه
خـو انسـانان مـې لـر او بـر نـۀ لګـي[1]

دا درد زمـا د زړۀ زمـا درمـان څـومره ښېسـته دے
هر څو که مې قاتل دے خو جانان څومره ښېسته دے

زۀ پـروت يم د ژوند خاورو کښې ګل ګل خوبونه وينم
حـالات راتـه تراخـۀ دي خـو ارمـان څـومره ښېسـته دے

چـا وينـې تـرې نـه وڅښـې چـا سـپرلو لـه وينـې ورکـړې
انسـان څـومره بدرنګـه دے انسـان څـومره ښېسـته دے

مـونږ سـتا پـه مينـه څـۀ غـم د روزګـار ولوبولـو
ائـين کښـې سـتا د مـخ يـاره دوران څـومره ښېسـته دے

1 ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ايجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ايډيشن ، ۲۰۰۲ء ، مخونه ۱۷۷ ، ۱۷۸

چــې ســـتا د تصـــور د اننګيـــو اورونـــه بـــل دي
زمــا لــه ســترګو ووري نــو بــاران ځــومره ښېســـته دے

ښــارونه اديــرې شــي چــې د جبــر خاموشــي شــي
نعــرو د لېونــو کښــې بيابــان ځــومره ښېســـته دے

د ګران د زړۀ په ليک باندې سرخط مې ستا د نوم دے
مضمون که ښکلے نۀ دےخو عنوان ځومره ښېسته دے[1]

د محترم اکرام الله ګران صيب د غزل مرکز او محور مينه ده او هغه د مينې دغه پېغام هر چا ته رسول غواړي .په دغه لار کښې د يوې سختې نه مخ نۀ اړوي .نه په دار نه په زندان دے ولې چې د مينې پېغام ابدي دے او هغه غواړي چې زما اولس ته دا ابدي پېغام اورسي.

د دار لــه ســره رســېدے شــي ګرانــه
غــواړې دنيــا تــه کــه پېغــام د مينــې[2]

1 ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ايجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ايډيشن ، ۲۰۰۲ء ، مخونه ۱۷۹ ، ۱۸۰
2 همدغه ، مخ ۲

ګران صېب چې مينه کوي نو هم د خپلو خواهشاتو د تکميل دپاره نه بلکې د مينې د تقدس دپاره او هغه د مينې مقام دا ګڼي چې په مينه کښې قرباني ورکړے شي ـ نو مينه تکميل ته اورسي۔

د محبت پـه سـور انګـار ښـۀ يـم
لـه درد و غـم نـه نـاقلار ښـۀ يـم[1]

غزل په خپلو لغوي معنو کښې د ښځو سره خبرو ته وائي۔ ولې د ګران صېب غزل د مينې او محبت سره د ژوند په هغه ګرانو لارو تګ کوي چې په هغې هره سختي راځي ـ ترڅو چې د خپلو ارمانونو او خواهشاتو قتل هم ـ هر څو کۀ د اردو لوئے شاعر غالب ډېر په حسرت وائي چې :-

ہزاروں خواہشیں ایسی کہ ہر خواہش پہ دم نکلے
بہت نکلے میرے ارمان لیکن پھر بھی کم نکلے[2]

ولې ګران صېب خپل ارمان څۀ چې د زړۀ نه هم تېر دے۔ هغه د نورو خلقو د زړونو خيال ساتي۔ وائي :

1 ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ايجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ايډيشن ، ۲۰۰۲ء ، مخ ۳
2 غالب ، ديوان غالب ، خزينه علم و ادب لاهور ، مارچ ۲۰۰۱ء بار اول مخ ۳۳۵

د ګـران زړګيـه تـق چـاؤدلے ښـۀ ئـې
خـو چـې خفـه د خلقـو زړونـه نـۀ شـي[1]

د ښـاغلي ګـران باچـه شـاعري د خـورو ورو رنګونـو نـه برجته ده ـ د موصـوف غـزل ددې وخـت د نمائنـده غـزل پـه توګـه منلے شوے دے ـ د عشـق و محبـت ، او انسـان دوسـتۍ واړه رنګونه په نوي ډول او ځانګړي اسلوب د دوئـي پـه غـزل کښـې موجود دي ـ

چــې دې خولــه لــه اننګــي پرېوتــه
يخــه ثلــه مــې پــه زړګــي پرېوتــه

د چـا خيـالونو پـه ګـودر لاهـو کـړه
سـتړې سـتومانه پـه منګـي پرېوتـه

ځــار دې لــه دا رنګــې دروغــو شــمه
چـې دې وعـدو کښـې دورنګـي پرېوتـه

1 ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ايجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ايډيشن ، ۲۰۰۲ء ، مخ ۷

ستا د ښکلا په اداګانو درېده
ګڼې زما خو زندګي پرېوته

د بې نيازۍ رنګ دې راخور کړه په ما
زما له ذوقه بندګي پرېوته

مرګ دے که دا مې دے عروج د ژوندون
چې خاموشۍ مې په زېږګي پرېوته

روغ ګرېوانونه او موسم د سپرلي
څومره جنون کښې بې ننګي پرېوته

زلفې رُخسار دې مخامخ ودرېدل
جوړ د حبشي او فېرنګي پرېوته

دا د نفرت لويه دنيا کښې ګرانه
فراخه زړهٔ کښې مې تنګي پرېوته[1]

1 ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ايجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ايډيشن ، ۲۰۰۲ء ، مخ ۱۴۴ ـ ۱۴۵

که هر څو ستا قدمونو کښې خپل زړۀ ږدم
خو خپل سره د خود داری به ورته نۀ ږدم

تۀ خوږده مې د شهید ارمان نه واخله
زۀ په دې قبر شکرې ږدم خوارۀ ږدم

اوس خو مرګ ئې هم څېره پېژندے نۀ شي
چې داغونه د حسرت په ژوندانۀ ږدم

محبته ستا احساس ښۀ لېونے کړم
زۀ د ګل په ځائے په څنو کښې واښۀ ږدم

ښتید ے له خپله ځانه چرته نۀ شم
قدمونه کۀ په سمه که په غرۀ ږدم

ستا کوڅه کښې زۀ لاهغسې پردے یم
هسې ځان ذرې په تلۀ راتلۀ ږدم

د ژوندون حقیقتونه مې قبول کړل
زۀ په دې زهرو ناچاره یمه خولۀ ږدم

رقيبـان پـرې کـانې زړونـه ولـي
کـه پـه لار د مـروت ورتـه لېمـۀ ږدم

ګرانـه زۀ هـم د غـزل ډول سـنګار کـړم
خپل ايره زړۀ ورتـه سترګوکښې رانجۀ ږدم[1]

ښاغلي ګران صېب د شاعرۍ اغاز د يو نظم ,,خوارۀ زهر،، نه کړې چې هغه په رڼا رساله او د ګران صېب د شاعرۍ پـه کتـاب ,,زمـا غـزل،، مـخ ح، ط چـاپ دے .دا نظم يـو حادثـاتي نظم دے چې د ښـاغلي ګـران صېب وجدان ئې پـه باقاعده ډول شاعرۍ پله پارولے دے.په دې حقله موصوف په خپل کتاب ,,زما غزل،، کښې څۀ په دې ډول رقمطراز دے.

,, اول ځل چې زما د خولې نه شاعري راوتله نو هغـه د يوې حادثې بارۀ کښې نظم وۀ .دا نظم ,,خوارۀ زهر،، د اکبر پـورې غـلام عبـاس صـېب پـه ,,رڼـا ،، رسـاله کښـې د خپـل ادارتي نوټ سره چاپ کړلو.دغه وخت زمـا څۀ تخلص نۀ وۀ. طلحه جان صېب به راته ,,ګرانه ، ګرانه ،، وئيل.هم ګران مې تخلص کړلو[2]،،.

1 ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ايجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ايډيشن ، ۲۰۰۲ء ، مخ ۱۱۵ ، ۱۱۲

2 همدغه ، مخ الف

ګران صېب چې د کوم نظم نه د خپلې شاعرۍ آغاز کړے دے. هغه د لوستونکو په خدمت کښې وړاندې کوم.

# خوارۀ زهر

دا غمے د چا د ګوتې ؟ دغه تاج د چا د سر دے ؟
دا د چا د زړۀ قطره ده ؟ دا د چا سر د ځيګر دے ؟
دا د چا د سترګو تور دے ؟ دا د چا نور نظر دے ؟
دا د چا د زړۀ دنيا ده ؟ دا د چا دُرِ ګوهر دے؟

دا د چا غېږه خالي شوه ؟ دا غُنچه له کومې خوا ده ؟
د آرزو د کومې نيا ده ؟ دا د کوم نيکۀ دعا ده ؟
دا د کوم چمن سپرلے دے ؟ دا د کوم موسم هوا ده ؟
دا د کومو ګلو بوئې دے ؟ دا د کوم بلبل صدا ده ؟

لاوربل ئې تالانۀ وۀ دغه کومه پېغله مور شوه؟
شپه په سر وه شمع مړه شوه دا د چا ځواني لو لور شوه؟
تش کالبوت د حُسن پاتې په ژوندوني څوک تر ګور شو؟
دا د چا حيا نن لوټ شوه؟ دا ډاکه د چا په کور شوه ؟

دا څپېړه په کوم مخ ده ؟ او دا چا لره پېغور دے ؟
دا پټکے دچاد سر دے؟ نن په خاورو کښې چې خور دے؟
دا د چا د پوزې نته ؟ تالـه شوې د چا کور دے ؟
اژدها ده که ښامار دے ؟ د غېرت په سینه سور دے ؟

اے د وخت تهذیبه راشه ، لږه شان ننداره وکړه ؟
د عصمت په تندي داغ دے ، تهٔ ئې هم نظاره وکړه ؟
مور د خپل زړهٔ د قطرې نه ، په څهٔ شان کناره وکړه ؟
دا سودا دې څهٔ سودا وه ؟ که نهٔ چا خساره وکړه ؟

چل دې وښودهٔ په شا شوې د تمام جهان تهمت دے
تا په زهرو وهٔ لړلے چا ګمان کړو چې شربت دے[1]

ښاغلي ګران باچا ته د غزلګویۍ سره سره په نظم ګویۍ هم ښهٔ پوره عبور حاصل دے .د دوئي د شاعرۍ د ابتدائي منظوم تاثراتو نه دا خبره جوتېږي چې د موصوف نظم هم ښهٔ پوره معیاري دے.هېڅ کله هم داسې نهٔ ښکاري چې ګڼي دا د ښاغلي ګران صېب ابتدائي شاعري ده .داسې

1 ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ایجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ایډیشن ، ۲۰۰۲ء ، مخونه ح ، ط

ښکاري لکه چې ددې نظم د ليکلو په وخت د ګران صېب شاعرۍ ښۀ پوره مزل کړے وي . بهر حال هر څۀ چې دي خو لکه څنګه چې ګران صېب په غزل کښې کهنه مشق دے هم په دې ډول د دوئي نظم د پوره رياضت نمونه ښکاري.

ګران صېب په خپل کتاب ,,زما غزل ،، کښې ليکي.

> ,, مراد صېب به راته وئيل چې نظم او غزل دواړه ليکه. خو حمزه صېب به راته وئيل چې غزل به دې مجروح شي. صرف غزل ليکه. خو زۀ خپلې ناقرارۍ غزل طرف ته زيات وساتلم[1] ،،

مراد صېب هم دا خبره محسوس کړې وه چې ګران باچا چې څۀ رنګ په غزل کښې خپل فني کمال خودلے شي هم په دې ډول نظم هم هغه معيار ته رسولے شي . کوم معيار ته چې نن د موصوف غزل رسيدلے دے.

د ګران باچا د نظم کومې نمونې چې په مختلفو مجلو کښې چاپ دي هغه د دوئي د فنکارانه نظم ګويۍ ثبوتونه دي.

غلط فهمي

[1] ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ايجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ايډيشن ، ۲۰۰۲ء ، مخ ج

زما شعرونه
لکه د ګلو بلا ژبې لري
خو د ګل هسې خاموشه نه دي
نغمې وائي
د سوزه ډکې زړۀ راښکونکې نغمې
چې بلبلانو نه نغمې هېرې کړي
د ژوند سندرې وائي
چې د شپونکي د شپېلۍ سوز هم ورته غوږ ونيسي
مستي ، ځواني او خودسري ده پکښې
زما شعرونه
رښې رښې ائينې
چې د پېغلو د خوبونو ترجمان شعرونه
د دوئي د ګونګو ارمانونو ترجمان شعرونه
زما شعرونه
د زلمو زړونو بې باکه جذبې
چې محبت ئې په سور انګار په سر د دار ستائي
زما شعرونه
لکه چې سيند د رڼاګانو خوشبويو وي روان
چې ښاپيرۍ د تخيل پکښې غوپې وهي
مستۍ جوړې کړي

زما شعرونه
لکه د تورو غرونو سپینې واؤرې
د شنو نخترو شنها
د ابشارونو اهنګ
زما شعرونه
حرارت د ژوندانهٔ وي پکښې
چې روایات لري خو رنګ د بغاوت وي پکښې
د محنت کښو د شعور ترلې پښې پرانیزي
چې باداران ئې د قسمت په زنځیرونو تړي
زما شعرونه
زهٔ منمه چې دا هر څهٔ به وي
خو زما بچو له
چې زما له دې شعرونو نه هم ډېر ښائسته دي
اژدهاګانې دي د خولو نه سرهٔ اورونه ولي
خپل رقیبان ئې ګڼي
زما بچي تژنوي
د ژوند د هرې سوکالۍ نه ئې محرومه ساتي
د دوئي ماشومې جذبې خولې د پرهرونو ئې کړې
ما خپل شعرونو ته د ژوند لویه برخه ورکړه
هم ورته وینې د ځیګر مې ورکړې
خو په دې صبر نهٔ شو

Pukhto.Net

داسې ښکارېږي اوس له ما زما د بچو وينې غواړي
يارانو څۀ اوکړمه
چې خپل شعرونو ته اور ورته کړمه
يا که دا خپل بچي وسېزم
نا ... نا
داسې يوه نۀ کوم
زۀ خپل بچي او خپل شعرونه به ژوندي وساتم
زۀ به د دوئي غلط فهمي لرې کړم
غلط فهمي ، چې زما خپل وجود دے[1]

ښاغلے اکرام الله ګران صېب چې څۀ رنګ انفرادي رنګ لرونکے غزل ليکي هم دغه شان ښۀ نظم هم د هغوي د فني کمال ځانګړتيا ښکاره کوي۔

ګران صېب د جديد دور نمائنده شاعر دے۔ هغه يو ښۀ افسانه نګار هم دے۔ ,,سوالګر،، ,,ډمه،، او ,,پيريان،، نومې افسانې د دوئي د افسانه نګارۍ ښکاره نمونې دي۔

1 جرس ، نظم نمبر ، احمد پرنټنګ پريس ناظم آباد کراچۍ ، جنوري ۲۰۰۱ء ، مارچ ۲۰۰۲ء ، مخونه ۹۵۵ تا ۹۵۷

د نثر په مېدان کښې دوئي په مختلفو کتابونو تبصرې او ديباچې هم ليکلي دي۔ چې په دغه مېدان کښې ئې هم خپل ليکاڼي زغلولي دے۔

موصوف د پښتو ادب په مختلفو صنفونو کښې خپله حصه برخه اخستې ده ۔ ولې دا خبره هېڅ کله هم نۀ شي نظر انداز کېدے۔ چې ښاغلے ګران صېب د پښتو د جديد غزل يو منلے شوے او پېژندلے نوم دے۔ او په راتلونکي وخت کښې د دوئي شعري فن د ځانګړي محاسنو او منفرد اسلوب په بنياد په پښتو ادب کښې د يو ځانله مکتب په حېث د رائج کېدو روښانه امکانات لري۔ او دا په دې چې د ګران باچا د غزل نوي تجربه ، روماني جنبه ، جمالياتي رنګ ، د ټکو انتخاب ، د تخيل برجستګي ، نازک خيالي ، علامات نګاري او د موصوف د غزل هئيت او اهنګ د جدت ښکاره ځانګړتياګانې دي۔

د ګران صېب د فن او شخصيت په حواله د نورالامين يوسفزي صېب دا وېنا چې د ,,ځلنده پښتو ،، د ځلورمې ګڼې په شا پاڼه ليک ده۔ پوره پوره نمائندګي کوي۔

,,هغه په ما ګران دے خو داسې هم نۀ ده چې ګني يواځې په ما ګران دے هغه خو د هر ملګري د زړۀ سر دے ۔ هغه خو په هر پښتون ګران دے ۔ دغه په ونه مندرے په رنګ سور

سپین خو د عمر چپو وهلے او د احساس لمبو سیزلے په وجود مانده او خړ پړ سړے چې چرته غلے شان ولاړ وي نو د مخ په ګونجو کښې ولاړه دوړه وړه ، خوره وره سپینه ږیره او غتې غتې علم خېژه سرې سترګې ئې داسې ښکاري لکه د ګوتم بدهـ د زمانې ځوک بهکشو وي یا چرته د موهنجو دړو په کنډراتو کښې په لاس راغلې وینو خوړلې مجسمه وي.

دغه په ونه مندرے خو په تخلیق او اخلاقي قدر لوړ شاعر په نني پښتو غزل کښې د خپل اسلوب او خپل مخصوصې لهجې په برکت یو ځانګړے مقام لري او ځکه پرې لکهونه پښتانهٔ په نالیدلي مخ مئین دي.

پښتانهٔ ورسره ځکه مینه کوي چې هغه د دوئي مورنۍ ژبې له د خپل نرم منفرد ، نازک خیاله او په رومانس کښې د اغږلو شویو ترخو تجربو داسې ډالۍ ورکړې دي چې دوئي به پرې تل ناز کوي او هم دغه د پښتنو شډل بډل اکرام الله ګران دے.

راتلونکي وخت کښې به يو زړۀ جمال ته ثنګه ګوري
خدائے خبر خلق به د مينې خيال ته ثنګه ګوري

په مرغزارو راوريږي د اورونو باران
سپرلے به دا ځل لمبه شوي کال ته ثنګه ګوري

د کلي پېغلې د ځوانۍ په ايرو ولمبيدې
ګران به د خپلې شاعرۍ کمال ته ثنګه ګوري[1]

ښاغلے اکرام الله ګران صيب د چارسدې په تاريخي کلي پړانګو کښې د نولس سوه څلوېښت په دهائي کښې د خدائے بخښلي ميا فضل رحيم کره پېدا شوے دے. دا ښاغلے ددغې سيمې د ستر بزرګ حضرت سيد حسن ( بهولا بابا ) په نمسو کښې دے. د خپل خانداني ترون په وجه ورته خلق اکثر اکرام الله جان ، يا ميا اکرام الله باچا وائي.

د وړوکي قد او مانده وجود دا نوموړۀ غزلګو شاعر نن سبا د اويا کالو په عمر کښې د پښتو ادب په چمن زار

1 يوسفزے نورالامين ، ,,په ما ګران ،، ځلنده پښتو ، اعراف پرنټرز ، څلورمه ګڼه ، جولائي اګست ۲۰۱۲ء ، شاه پاڼه

کښې د ځوانۍ پېدا کولو هاغه کردار لوبوي چې دغه کردار ښۀ ښۀ ځوانان ليکوال هم نۀ شي لوبولے.

د غزل شونډې ګرانه ؤچاؤدې په ډېرو خوږو
لړې پرې مالګې دوړوومه د پښتو په ژبه[1]

ګرانه زۀ هم د غزل ډول سنګار کړم
خپل ايرې زړۀ ورته سترګو کښې رانجۀ ږدم[2]

د ګران خړ غزل دا څوک وائي ځليږي
ستا د چم د خاؤرو څومره کرامت دے[3]

1 ګران ، اکرام الله ، زما غزل ، ملت ايجوکېشن پرنټرز لاهور ، دوېم ايډيشن ، ۲۰۰۲ء ، مخ ۷۰
2 همدغه ، مخ ۱۱۲
3 همدغه ، مخ ۶۵

# پروفېسر محمد اسلام ارماني

پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب د ملاکنډ د تاريخي کلي اله ډهنډ ډهيرۍ اوسېدونکے دے. اله ډهنډ ډهيرۍ د يوسفزي قام په تاريخ کښې د ډېر اهميت وړ کلے دے. د يوسفزو ستر ملي مشر، اتل او لارښود ملک احمد خان (مندڼ يوسفزے) هم د اله دهنډ ډهيرۍ په زرخيزه خاوره کښې په ابدي خوب اوده دے. دا کلے په مختلفو وختونو کښې ددې لوئې قبيلې د مشرانو مرکزي ځائې پاتې شوے دے. په دې چې دلته به د اکوزي يوسفزو جرګې او مرکې کېدې.

دغه شان ددې کلي خواؤ شا د ګندهارا تهذيب لرغوني آثار ددې خبرې په واز کومي ګواهي ورکوي چې په تېره زمانه کښې هم دې خاورې دغه عظيم تهذيب پخپله غېږ کښې روزلے او پاللے دے.

د اشوکا د زمانې پاتې شوي يادګارونه او د لوئے مسلمان سپه سالار محمود غزنوي د جرنيل پير خوشحال د

لښکر جوړه کړې شوې ډهیرۍ[1] ددې کلي د عظمت او لوړتیا ښکاره ثبوتونه دي.

د چیني سېل ګري هیون تسانګ ددې ځائے یادونه او د ستر خوشحال ئې په ,, سوات نامه ،، کښې د سترو مشرانو تذکره هم د ویاړ او فخر وړ ده.

ددې نه علاوه د خسنې ( وار) په ذریعه د زمکو (دوتر[2]) د بدلون هاغه دستور چې بنسټ ئې شیخ ملي بابا ایښے دے. تر دې دمه د اله ډهنډ ډهیرۍ په سیمه کښې موجود دے[3].

د اله ډهنډ ډهیرۍ خاوره چې څومره مردم خېزه ده نو هومره زرخېزه هم ده. دا کلے که یو خوا د تاریخ په حواله ځانګړے حېثیت لري نو بل خوا ددې سیمې ابتدائي شعري زرغونه په دې خاوره لېد ے شي.

پروفېسر شېرزمان سیماب د ایم فل په تحقیقي مقاله کښې لیکي :-

مونږ چې کله په ملاکنډ کښې د شاعرۍ کنهې ځېلې لټوؤ نو د

---

1 نن سبا دغه ډهیرۍ په ګوجرو ډهېرۍ مشهوره ده. چې د چرچل پېکټ نه جنوباً د اله ډهنډ ډهیرۍ په شولګره کښې واقع ده.

2 دشېخ ملي کتاب چې دفترنومیدهٔ د دوترېول حساب پکښې شوے وو درمان علي خېل ، د رڼا پلوشې. رڼا ښتو ادبي تولنه ، اله ډهنډ

3 درمان علي خېل ، د رڼا پلوشې. رڼا ښتو ادبي تولنه ، اله ډهنډ ډهیرۍ ، عامر پرنټنګ ایجنسي پېښور ، ۲۰۱۲ء ، مخ ۱۵

اله ډهنډ ډهيرۍ چشتي الله داد المعروف چشتي بابا رامخې ته کيږي چې شعرونه ئې سينه په سينه را روان دي. لکه

تالاشه په تا هره بلا راشه
چې ميا الله داد راشي

تا هيڅ کله ونه وې
چې هر کله ته راشه

چشتي الله داد د کريمداد خوريي او د اخون درويزه بابا نمسے وۀ. د پلار نوم ئې ادم خان افغان وۀ. خوشحال بابا په سوات نامه کښې د چشتي الله داد په حقله وائي.

د ميا نور[1] مفتيان د سوات په ملک کښې دوه دي
الله داد او دوست محمد دواړه ياوه دي

د چشتي الله داد که مونږ سره د کلام څۀ ډېره ذخيره نشته. خو بيا هم ددغه سينه په سينه د راروانو شعرونو په بنياد د ملاکنډ د ادبي زنځير دغه سر کړۍ د ښېړنې پامته داره ده.

---

1 ميا نور محمد د ميا کريمداد زوئے او د اخون درويزه بابا نمسے وو.

دوېمه نامه د فقیر قدرت الله نقشبندي رامخې ته کیږي ـ چې د محمد افتخار فاروقي مغل خېل په خوارۍ ددهٔ قلمي نسخه ,, کتاب الشفاء ،، موندې شوې ده ـ ددهٔ تعلق د اله ډهنډ ډهیرۍ سره وهٔ او د فاروقي صېب ددغه قلمي نسخې مطابق په ۱۷۲۱ء[1] کښې پېدا او د پنځه شپېتهٔ کالو په عمر کښې وفات شوے دے ـ د پلار نوم ئې حسېن علي عرف صاحبزاده بابا وهٔ چې د خوشحال بابا (۱۶۱۳ء نه ۱۶۷۹ء[2] پورې) نه خواؤ شاه دوه نوي کال کشر دے[3] ـ

د اولسي شاعرۍ په حواله هم ددې کلي د مزین ګل بابا ، کند محمد او ولي محمد نامې د ستاینې وړ دي ـ

کله چې په شلمه صدۍ کښې په ټوله پښتنه سیمه د جدید علم و ادب رڼا خوره شوه او پلوشې ئې د اله ډهنډ ډهیرۍ په زرخیزه خاوره اولګیدې نو د قام او اولس د خدمت په لړ کښې ئې د هرې شعبې دپاره درنې ستڼې پېدا کړې چې پکښې د پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب نوم په ټوله پښتونخوا کښې د نمر په څېر روښانه لېدے شي ـ

ډاکټر خالق زیار صېب لیکي :-

---

1 ۳۴ / ۱۱۳۳ هـ

2 ۱۰۲۲ هـ نه ۱۱۰۰ هـ

3 سیماب ، شېرزمان ، په ملاکنډ کښې د پښتو غزل ارتقاء ، د ایم فل تحقیقي مقاله ، ناچاپ ، مخ ۵

,, د پروفېسر محمد اسلام ارماني شخصيت
ګڼ اړخونه لري . معامله فهم ، مجلس جوړي او
د پښتني ټولنې په تول پوره سړے دے . د
دوستانو دپاره د باور وړ او خواخوږۍ نمونه ده .
د خپل ژوند يوه لويه او اهمه برخه ئې د علم د
رڼا په خورولو کښې تېره کړې ده . خو د شهرت
بنيادي وجه ئې ادبي ليکنې او شاعري ده .
ارماني صېب ډېرې په زړۀ پورې افسانې
ليکلي دي په ورځپاڼو او ادبي رسالو کښې ئې
يو زيات شمېر ادبي مضمونونه او مقالې چاپ
شوي دي . د ادبي تنظيمونو په جوړولو او
عملي هلو ځلو کولو کښې ئې د يادونې وړ
خدمات سرته رسولي دي[1] .

ارماني صېب بنيادي ډول يو رومان فکره غزلګو شاعر دے . خو هغوي يوائې په غزلګويۍ اکتفا نه ده کړې بلکې د پښتو ادب په مختلفو اصنافو ئې خپل ليکانې زغلولے دے . که يو خوا ارماني صېب د يو ښۀ غزلګو شاعر په حېث پېژندګلو لري نو بل اړخ ته ئې ښې افسانې ، ډرامې او

[1] خالق زيار ډاکټر ,, فن او شخصيت ،، مشموله ياران هېڅ نۀ وائي ، مصنف پروفېسر محمد اسلام ارماني ، دانش کتابتون ، مارچ ۲۰۰۰ء ، مخ ۲

مضامين هم د قلمه ايستي دي ـ ددې نه سربېره موصوف د اعلى پايې نظم نګار هم دے ـ په آزاد نظمونو کښې چې ارماني صېب کوم معيار قايم کړے دے ـ نو د هغې نه د موصوف د لوړ تخيل او ژور فکر و نظر اندازه ښۀ په اسانه لګېدے شي۔

د ارماني صېب د شاعرۍ د ټولو نه لوئے انفراديت دادے چې د موصوف شاعري عام فهم ، روانه او اسانه ده او په دغه عام فهمه لهجه کښې چې موصوف د عشق و رومان د رباب کوم تارونه چېړلي دي هغې د دوئي په شاعرۍ کښې ژوند پېدا کړے دے ـ د ټولو نه لويه خبره خو داده چې ادب پوهانو د غزل کومې معنې او مفهومونه وړاندې کړي دي ـ په هغې د موصوف غزل پوره او کره خېژي۔

د زړۀ مېږه کښې مې بلېږي د يادونو ډيوې
لکه څوک بلې کړي د چا په مزارونو ډيوې

شپه مې روښانه وي په خپلو رڼو اوښکو همېش
عن تر سحره پورې سوزي د زخمونو ډيوې

زړګيه نه دې راځي خبر دے تۀ خفه په څۀ ئې
پرېږده چې بلې وي په کور دې د غمونو ډيوې

دلته که څوک چا ته په نيمه خوله په خبر اووائي
بس بيا د خلقو زړۀ کښې سوزي د شکونو ډيوې

هغه چې يو ځل دې خندلي وو په ډک محفل کښې
ياد درته نۀ دي هر چا مړې کړې د نيتونو ډيوې

ذهن مې ړوند نۀ دے شعور لري مزل دې کوي
هيڅ حاجت نشته رانۀ وړې چې د تاخونو ډيوې

د تورې شپې په شان په مخ د زلفو سورے اوکه
لارو کوڅو کښې مونږ پسې دي د وختونو ډيوې[1]

+++

سترګې مې تا پسې ډيوې شوې تۀ به کله رائې
شپې د هجران مې مېلمنې شوې تۀ به کله رائې

په دې ناشنا کلي کښې ستا په اشنا سترګو پسې
ما نه خطا لارې کوڅې شوې تۀ به کله رائې

[1] ارماني ، محمد اسلام پروفېسر ، دا کاڼي او دا کوڅې ، وحدت پرنټرز پېښور ، اپريل ۱۹۹۵ء ، مخ ۷۷

ستا د ښائسته ښائسته يادونو ښاريه کښې اشنا
په ګرځېدو مې سترې پښې شوې تۀ به کله راځې

ملالو سترګو کښې دې اووې داد ے ځم ، راځمه
د انتظار لمحې اوږدې شوې تۀ به کله راځې

د مينې دغه شهرت بس وو چې رسوا شوه مينه
اوس خو مو ورکې شک شبهې شوې تۀ به کله راځې

ستا د راتلو په طمع ستورو له هم خوب نۀ ورځي
سترګې زما په ژړا سرې شوې تۀ به کله راځې

د ارماني د پښتنې مينې د زړۀ قراره
ښخې په قبر مې خازې شوې تۀ به کله راځې[1]

ښاغلے رحمت شاه سائل صېب ليکي :-
,, ارماني بنيادي طور سره د مينې او ښائست
د لټون شاعر د ے ۔او ددۀ د شاعرۍ سرچينه

---

[1] ارماني ، محمد اسلام پروفېسر ، دا کاڼي او دا کوڅې ، وحدت پرنټرز پېښور ، اپريل ۱۹۹۵ء ، مخ ۴۷

هم دغه ده ـ دے د داسې علاقې سره تعلق لري
چرته چې غرونه دي ، دشتونه دي ، شارې شُد
بارې دي ، کلي وال ژوند دے ـ د سیند نظارې
دي د ګودر مازیګري دي ـ د حجرو جماعتونو
رونقونه دي ـ د نخترو ، ګورګورو ممانو ،
سپین ازغو سور ازغو هواګانې دي چرته چې
مینه رنځوره او مجبوره ده ـ چرته چې د
ښائست شونډو پارونه نیولي دي ـ چرته چې
زلفې سپورې دي ـ تالاوالا دي ـ ارماني هم
ددغو پولو پټو ترجمان دے او هم ددې کانو او
کوڅو شاعر دے ـ[1]

دغه وجه ده چې د ارماني صیب په غزل کښې ددغې کلي وال چاپېرچل رانۀ عکسونه په نظر راځي ـ د موصوف غزل که یو اړخ ته د داخلي احساساتو ائینه دار دے نو بل اړخ ته پکښې د کلي وال ژوند ژواک سره سره د هغې قدغنونو اظهار شوے دے کوم چې د مینې په ترڅ کښې د پښتنې معاشرې له طرفه هر عاشق ته په میراث کښې ملاویږي ـ خو ارماني صیب نه خو

1 سائل رحمت شاه ,, د محمد اسلام ارماني ژوند او فن ،، مشموله دا کاڼي او دا کوڅې ، مصنف پروفېسر محمد اسلام ارماني ، وحدت پرنټرز پېښور ، اپریل ۱۹۹۵ء ، مخ ۲۲

خپل محبوب رسوایۍ له ورکوي او نهٔ د خپلې پښتنې معاشرې د قواعدو نه بغاوت کوي.

د ارماني صېب د قلبي وارداتو د اظهار د ټولو نه زوردار صنف د هغوي غزل دے. او هم د دغه قلبي وارداتو د اظهار وجه ده چې د موصوف په غزل کښې ئې زړهٔ راښکونکے غنائيت پېدا کړے دے.

د ارماني صېب په غزل کښې د مقصديت رنګونه هم په نظر راځي. هغوي يواځې په زلفو، رخسار، عشق و رومان خپله شاعري نهٔ ده رنګينه کړې بلکې د خپل وخت او حالاتو نمائندګي ئې هم کړې ده.

رحمت شاه سائل صېب ليکي:-

,,ارماني اديب هم دے او شاعر هم. دے افسانه هم ليکي او ډرامه هم. نظم هم ليکي او غزل هم. د دهٔ په نظمونو کښې منظرکشي، په غزل کښې نازک خيالي او تشبيهات په ځائے خو د دهٔ شاعرۍ کښې مقصديت دومره دے چې د سړي ذهن روښانه کړي او سترګې ئې پرانيزي[1].

1 سائل رحمت شاه ,,د محمد اسلام ارماني ژوند او فن،، مشموله دا کاڼي او دا کوڅې، مصنف پروفېسر محمد اسلام ارماني، وحدت پرنټرز پېښور، اپريل ۱۹۹۵ء، مخ ۲۳

+++

دا چې لوګي دي دندوکار دے خدایه دا څۀ چل دے ؟
لمبې دي اور دے سور انګار دے خدایه دا څۀ چل دے ؟

وینې بهېږي له هر چا د سترګو اوښکې څاڅي
هرځائے مقتل دے هرځائے دار دے خدایه دا څۀ چل دے ؟

ژوندون د غلو په شان له ګرځي لکه مړے بې ساه
مرګ ورته ناست په لویه لار دے خدایه دا څۀ چل دے ؟

هره کوڅه کښې مې غوغا ده هر یو کور کښې ژړا
غم د هر چا په اوږو بار دے خدایه دا څۀ چل دے ؟

چا وې چې رابه شي سپرلے شاړې میرې به ګل کړي
راج د خزان مې په ګلزار دے خدایه دا څۀ چل دے ؟

څوک وائي چې دلته رورولي وه مینه مینه هرځائے
دلته خو بل شان له روزګار دے خدایه دا څۀ چل دے ؟

مــونږه پــه نــورو بانــدې شــک کــوؤ خپــل ځــان نــه وینــو
غل مو د خپـل کـور څوکیـدار دے خدایـه دا څهٔ چـل دے ؟

مـــونږه د چـــا نـــه ګیلـــه اوکـــړو چاتـــه اوژاړو ځـــان
هــر یــو د بــل ځنــې ویــزار دے خدایــه دا څــهٔ چــل دے ؟

ارمـــاني چاتـــه زړې نخښـــې د خپـــل ښـــار اوښـــایم
تالــه ترغــه ئــې هــر بــازار دے خدایــه دا څــهٔ چــل دے[1] ؟

✦✦✦

نفسانفســـي شـــوله راځـــئ د کـــار خبـــرې اوکـــړو
خـــورو ملګـــرو ! نـــن د خپـــل اختیـــار خبـــرې اوکـــړو

وخــت دے روان پــه منــډه هــیڅ د چــا خــاطر نــهٔ کــوي
پـه شـف شـف کـار نـه کیـږي ښـهٔ پـه جـار خبـرې اوکـړو

اے پـه تیـرو کښـې چـې روان ئـې لـږ راسـتون شـئ واوړئ
اودریـــږئ راشـــئ لـــږ د ســـپینې لار خبـــرې اوکـــړو

1 ارماني ، محمد اسلام ، پروفېسر ، یاران هېڅ نهٔ وائي ، دانش کتابخانه ، مارچ ۲۰۰۰ء ، مخونه ۱۹ ، ۲۰

مـونږ پـه رڼـا پسـې ړانـدۀ مـونږ د تيـرو دښـمنان
اے مـار خوړلـو لـږ ددې خامـار خبـرې اوکـړئ

تول ښۀ خبر دي چې د اوښ په شا د سپو خوراک شو
د خـدائے دپـاره راشـئ وار پـه وار خبـرې اوکـړئ[1]

✦✦✦

ځـومره خاموشـه خاموشـي ده يـاران هـيڅ نـۀ وائـي
هـره مـرۍ کښـې تېزنـدي ده يـاران هـيڅ نـۀ وائـي

مونږ په خپلواکه کورکښې اُف له خولې ويستلے نۀ شو
څـۀ عجيبـه شـان ازادي ده يـاران هـيڅ نـۀ وائـي

دلتـه کښـې پـرې لـه مـرۍ ګـورې بـې رحمـه بـادار
ځـومره ښائسـته باچـا ګـړدي ده يـاران هـيڅ نـۀ وائـي

پـه ګـل ورينـه زمکـه اوربـل دے لمبـې تـرې خيـژي
پـه سـرو لمبـو کښـې زنـدګي ده يـاران هـيڅ نـۀ وائـي

---

1 ارماني ، محمد اسلام ، پروفېسر ، ياران هېڅ نۀ وائي ، دانش کتابخانه ، مارچ ۲۰۰۰ء ، مخ ۳۴

د خپلې مينې او اخلاص خوارۀ مو انۀ موندل
لوګي لوګي هره ځواني ده ياران هېڅ نۀ وائي

چرته د ښې لګېدو ځائے د آرام پاتې نۀ شو
فضاء همه ازغي ازغي ده ياران هېڅ نۀ وائي

خدايه موسیٰ ورله پيدا کړې چې غرور ئې مات شي
د فرعون ګرانه بندګي ده ياران هېڅ نۀ وائي

لکه اوبۀ توئېږي سرې وينې په پاکه زمکه
څومره د وينو ارزاني ده ياران هېڅ نۀ وائي

دا د ظلمونو قصه نۀ ختمېږي سر دې اوخوري
د ارماني هم مجبوري ده ياران هېڅ نۀ وائي[1]

څۀ رنګ چې ما وړاندې اووئيل چې پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب بنيادي ډول غزلګو شاعر دے ـ خو موصوف چې په ازاد نظم کښې کومه مصوري کړې ده د هغې په بنياد

[1] ارماني ، محمد اسلام ، پروفېسر ، ياران هېڅ نۀ وائي ، دانش کتابخانه ، مارچ ۲۰۰۰ء ، مخونه ۴۷ ، ۴۸

ارماني صېب د ازاد نظم نمائنده شاعر ګڼلے شي او په دغه حواله به د دوئي نامه تل عمري قدرولے شي.

اروابناد صاحب شاه صابر صېب ليکي :-

,, چې کله هم د نني پښتو شعر ذکر کيږي نو د محمد اسلام ارماني نوم به اخستے شي ، چې د آزاد نظم تاريخ ليکلے شي ، نودغه نوم به ډېر په درناوي يادېږي . ارماني پخپله شعري اثاثه کښې ځينې مشهور غزليه شعرونه لري او څو پابنده نظمونه ئې هم ليکلي دي . ګوچې هغه طبعاً باغي او سرکش سړے نۀ دے . خو د غښتلي سماجي شعور څښتن فنکار دے د خپل دور په شخصي او انساني مسئلو څۀ نه څۀ اظهار خپله ذمه واري ګڼي . ورسته ليکي ـــــ د تخيل او سماجي شعور په ګډون ئې د ازاد نظم په پېرايه کښې د خپل دور د مسئلو اوميلاناتو پحقله خپل جذبات ، احساسات او نظريات په داسې ډول بيان کړي دي چې د يو تجربه کار شاعر فني پختګي هم لري او د تخيل تازګي هم لري او د غښتلي سماجي شعور رڼا هم لري . د ارماني په نظمونو کښې ددغه شعري او شعوري

کېفيـاتو لـه کبلـه هغـه پـه پښـتو کښـې د آزاد نظـم ليکونکو په وړومبي صف کښې ولاړ دے[1].

ډاکټرخالق زيار صېب ليکي :-

,, پـه دې مـوده کښـې ډېـرو شـاعرانو آزاد نظمونـه ليکلـي دي ، خـو اکثريـت ئـې داسـې دے چـې د موضوع او تکنيک د نظره د آزاد نظم تقاضې نۀ پوره کوي ـ البته د ګوتو په شمېر يو څو شاعران داسې دي چې هغوي ددې صنف پوره پوره حق ادا کړے دے او په دې دغه شاعرانو کښې يو پروفېسر محمد اسلام ارماني هم دے[2] ،،

هم په دې لړ کښې ډاکټر فضل دين خټک صېب څۀ په دې ډول رقمطراز دے۔

,, ارماني صېب هم آزاد نظمونه ليکي ـ د هغـه د آزاد نظمونو يو خپل انداز دے په هغو کښې ربط هم شـته

---

1 صابر شاه صابر ,, محمد اسلام ارماني د خپل ازاد نظم په ائينه کښې ،، مشموله ، ياران هېڅ نۀ وائي ، مصنف ، پروفېسر محمد اسلام ارماني ، دانش کتابخانه ، مارچ ۲۰۰۰ء ، مخ ۷

2 خالق زيار ډاکټر ,, فن او شخصيت ،، مشموله ، ياران هېڅ نۀ وائي ، مصنف ، پروفېسر محمد اسلام ارماني ، دانش کتابخانه ، مارچ ۲۰۰۰ء ، مخ ۲

تسلسل هم لري او هر يو نظم ئې يو خاص مقصد لري
او يو پېغام ورکوي[1]،،
د نمونې په ډول دلته د پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب يو آزاد نظم وړاندې کوم۔

## رڼا

د ژوند لمحې که مې بې وسه شي بيا هم ملګرو
زۀ به په تورو شپو کښې شواخون کومه
په سينه يون کومه
په کاڼو بوټو په ازغو به ځمه
په لوړو دشتو او مېرو به ځمه
د خپل منزل په سفر
د خپل مقصد په لټون
که ډېر هم ستړے شمه
زۀ به دمه اونۀ کړم
زۀ به ګيله اونۀ کړم
د خپل قسمته چرې

[1] خټک فضل دين ډاکټر ، ،، ياران هېڅ نۀ وائي د محمد اسلام ارماني د شاعرۍ دويم دور ،، مشموله ، ياران هېڅ نۀ وائي ، مصنف ، پروفېسر محمد اسلام ارماني ، دانش کتابخانه ، مارچ ۲۰۰۰ء ، مخ ۱۴

نهٔ د خپل ځانه نه د خپل جانانه
ما به ناست اونهٔ وینئ
زهٔ به روان یم مدام
د خپل منزل په سفر
د خپل مقصد په لټون
زهٔ به د خپلو رڼو سترګو په رڼا روان یم
تېرې دې شپې تورې شي
سپوږمۍ دې نهٔ راخېژي
ستوري دي نهٔ ځلېږي
خو زهٔ روان به یمه
د خپل منزل په سفر
د خپل مقصد په لټون
زهٔ به دمه اونهٔ کړم
زهٔ به ګیله اونهٔ کړم
د خپل قسمت چرې
زهٔ دا یقین ورکوم
چې زهٔ به ځان رسوم
د خپل مرام حصول ته
چې پلوشې د نمر راکوزې کړم د غرونو په سر
سپینه رڼا د سباؤن زېرے شي
د خوشحالۍ زېرے

د ابادۍ زېرے
د سوکالۍ زېرے
زما د قام د اولس
بیا مې په دار کړئ خېر دے
بیا مې سنګسار کړئ خېر دے
بیا به هله دمه شم[1]

اوس راځو چې د ارماني صېب د ژوند او ادبي خدماتو لنډه شان جائزه واخلو۔

،، پروفېسر محمد اسلام ارماني د ملاکنډ ایجنسۍ په تاریخي کلي اله ډهنډ ډهیرۍ کښې د رحمت شاه په کور کښې په اتمه جنورۍ کال ۱۹۴۵ء کښې زېږېدلے دے ۔د میټرک کولو نه پس په اپریل ۱۹۶۳ء کښې محکمه تعلیم ته د ډرائنګ ماسټر په حېث لاړو ۔د ۱۹۷۵ء نه تر ۱۹۷۸ء پورې د انفارمېشن په محکمه کښې پاتې شو چې په ۱۹۷۵ء او ۱۹۷۶ء کښې بالترتیب د جمهوي اسلام

1 ارماني ، محمد اسلام ، پروفېسر ، یاران هېڅ نۀ وائي ، دانش کتابخانه ، مارچ ۲۰۰۰ء ، مخونه ۸۰ تا ۸۲

اسسټنټ ایډیټر ، ایډیټر او د کاروان باجوړ
ایډیټر پاتې شو ـ په دې مېنځ و مانه کښې په
کال ۱۹۸۲ء کښې ئې ایم اے پښتو اوکړه او
په جنوري ۱۹۷۹ء کښې د پښتو لیکچرار
وټاکلے شو او ددغې نوکرۍ نه په څلورم دسمبر
۱۹۹۷ء کښې سبکدوش شو[1] ، ،

ددې نه پس ارماني صېب په سرکاري او غېر سرکاري ادارو کښې په لوړو چوکو خپل خدمات ترسره کړي دي ـ چې پکښې د ګورنر سېکرټریټ د مېډیا ترسیل پبلیکېشن افسر او سکرپټ رائټر د عهدې نه علاوه په جمال کالج سوات او اکسفورډ کالج بټخیله کښې د پرنسپل په حېث د قام د بچو په علمي وده کښې خدمات ئې د ستائنې وړ دي ـ

کله چې د ملاکنډ یونیورسټۍ وائس چانسلر پروفېسر ډاکټر محمد رسول جان صېب په خپل ذاتي خواهش په ملاکنډ یونیورسټۍ کښې د پښتو څانګې پرانسته اوکړه نو د پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب خدمات ئې ددغې ادارې دپاره حاصل کړل ـ خو څۀ موده وړاندې د طبعي ناسازۍ په

1 سیماب ، شېرزمان ، په ملاکنډ کښې د پښتو غزل ارتقاء ، د ایم فل تحقیقي مقاله ، ناچاپ ، مخ ۱۳۷

وجه د ملاکنډ یونیورسټۍ نه مستعفي شو او نن سبا په خپل کلي اله ډهنډ ډهیرۍ کښې د ژوند ورځې شپې تیروي.

ارماني صېب ته که هر څو د وجود کمزوري ورپېغاره شوې ده خو بیا هم د خپلې ژبې او ادب په خدمت کښې د ښه ښهٔ زلمو نه زیات خپل کردار لوبوي او هم دا د دوئي د خپلې ژبې او ادب سره د بې غرضه مینې ژوندے ثبوت دے.

موصوف تر دې دمه د پښتو ادب ځولۍ ته یو شمېر ادبي فنپارې ډالۍ کړي دي - چې پکښې ,, دا کاڼي او کوڅې ،، ,, یاران هېڅ نهٔ وائي ،، ,, د رڼا سپورے ،، ,,خط مې راغلے د جانان دے ،، او اوس مازیګر پېغلې ګودر ته نهٔ ځي اول الذکر دوه شعري مجموعې دا کاڼي او کوڅې او یاران هېڅ نهٔ وائي - د دوئي د اولني دور په اشعارو مشتملې دي - چې د دوئي د رومان فکره او نازک خیاله احساس ترجماني کوي - ددې نه علاوه پکښې د مقصدي شاعرۍ خوندورې نمونې هم موجودې دي - په خصوصي ډول د دوئي ازاد نظمونه چې د ژوندي ادب او خپل وخت او حالاتو د نمائندګۍ پوره پوره حق ادا کوي.

د پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب کتاب ,, دا کاڼي او کوڅې ،،د پاکستان رائټرز ګلډ او مجلس فکر و ادب له خوا ,, اول انعام یافته ،، دے - ددې نه علاوه موصوف ته د

کلچر ایسوسي ایشن اسلام آباد او پښتانهٔ ادبي ملګري ,,پام،، له طرفه په دې کتاب ایوارډونه هم ورکړې شوي دي.

دغه رنګ د موصوف دوېمې شعري مجموعې ,, یاران هېڅ نهٔ وائي ،، ته هم د ملاکنډ ارټس کونسل ملاکنډ له خوا د اولني انعام یافته اعزاز حاصل دے.

,, د رڼا سپورے ،، د موصوف اولنۍ نعتیه مجموعه ده. په دې مجموعه کښې دوي د حضرت محمد ﷺ په شان کښې د عقیدت پېرزوئنې وړاندې کړي دي او ځان ئې د عاشقان رسول ص په صف کښې ودرولے دے.

,, خط مې راغلے د جانان دے ،، د پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب د ادبي قدقامت په حواله یو اهم دستاویز دے. په دې شاهکار تالیف کښې د دوئي په نوم راغلي خطونه او د مختلفو ادبي ، سیمینارونو او مشاعرو دعوت نامې شاملې دي.

ددې کتاب افادیت په دې سبوا دے چې دا کتاب د موصوف د خور وور شخصیت نمائندګي هم کوي او د پښتو ادب او ادب پوهانو سره د دوئي د وابستګۍ ، مینې او اخلاص غمازي هم. دا کتاب د پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب د لوړ ادبي قدځانګړې تصویر دے. ګورو چې په دې حواله ادب پوهان څهٔ رائې لري.

ښاغلے سليم راز صيب ليکي :-

,, تر اوسه په پښتو ادب کښې د مکتوب نګارۍ او خصوصاً ادبي خطونو د چاپ کولو سفر ډېر لنډ دے ۔ او بيا کوم خطونه چې تراوسه چاپ شوي دي هغه عموماً د يوشخصيت له خوا يو شاعريا ليکوال ته ليکلي شوي دي خود پښتو د نوميالي اديب او شاعر محمد اسلام ارماني په نوم دا يادګار خطونه د پښتو په ادبي سرمايه کښې په دې حواله يو نوے کوشش دے[1] ،،

په دې حواله طاهر افريدے ليکي :-

,, د مشاهيرو د خطونو چاپول څۀ نوے روايت خو نۀ دے ولې ارماني صيب په خپل نوم راغلي د مشاهيرو او يارانو دوستانو خطونه په يو داسې منفرد ښکلي او ښائسته انداز کښې چاپ کړل چې پښتو کښې ئې يو نوے روايت قائم کړو او د جرګو مرکو او د کتابونو د مخکتنو په حواله ئې هم يو داسې ريکارډ جوړ

[1] سليم راز ,, يادګار خطونه او بلنې ،، مشموله ، خط مې راغلے د جانان دے ، مرتب پروفېسر محمد اسلام ارماني ، يونيورستي پبلشرز پېښور ، اپريل ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۱

کړو چې پښتو مئینو ته به ددې خطونو او بلنو
نه ډېر معلومات او ښکارونه اوشي[1] ،،

پروفېسر حنیف خلیل لیکي :-

,, د ماضي هره لحظه ښکلې او یادګار وي ځکه چې واپس نۀ راځي خطونه د انسان او بیا د لیکونکي ماضي محفوظ ساتي ځکه هر خط د یادګار حېثیت لري ـ نن چې پروفېسر محمد اسلام ارماني د مختلفو لیکونکو هغه خطونه او ورسره د ادبي تقریبونو بلنې په یو کتابي شکل کښې چاپ کوي نو ګویا خپل او د ملګرو لیکونکو ماضي محفوظ کوي په دې لیکونکو کښې د ډېرو معتبرو لیکونکو په شخصیت ، نظریه، فکر ، ادبي کاوشونو ، مزاج او ژوند په نورو اړخونو ډېرې نادرې خبرې او بیخي نوي معلومات په نظر راځي ـ سره ددې چې ځنې معلومات به پکښې قطعي شخصي او ذاتي وي خو دا هم د دغو لیکونکو د شخصیت په حواله ډېر زیات اهمیت لري

1 طاهر افریدے ، ,,د مشاهیرو او یارانو دوستانو خطونه ،، مشموله خط مې راغلے د جانان دے،یونیورستي پبلشرز پېښور ، اپریل ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۲

ځکه چې د ليکونکو د شخصيت ذاتي خبرې
هم د تحقيق او تنقيد په لمن کښې ځائے مومي.
د ارماني صېب دې لور ته متوجه کېدل په هر
لحاظ د ستائنې حق لري [1]،،

,, اوس مازيګر پېغلې ګودر ته نۀ ځي ،، د پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب په غزلياتو او نظمونو مشتمله درېمه شعري مجموعه ده. چې پکښې موصوف خپل روايتي اسلوب برقرار ساتلے دے. خو د فکر و نظر احاطه ئې غزيدلې په نظر راځي. په دې مجموعه کښې ترقي پسندي او قام پرستي د مخکښې نه زيات په شدت سره محسوسېږي. ددې سره سره پکښې په بشپړه توګه د روانو حالاتو نمائندګي هم شوې ده.

ددې نه علاوه د پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب سره يو شمېر ناچاپه مسودې پرتې دي چې پکښې :-

- کاکاجي صنوبر حسېن مومند (ژوند او جدوجهد) تحقيقي او تنقيدي جائزه.
- خپل خاوره خپل اختيار (ملي نظمونه)
- يادګار ملاقاتونه (د همعصرشاعرانوادیبانو سره)

[1] حنيف خليل ,, دا خطونه او د ادبي تقريبونو بلنې ،، مشموله ، خط مې راغلے د جانان دے ،يونيورستي پبلشرز پېښور ، اپريل ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۳

- مخ په مخ (دنامتو شاعرانو اديبانو سره انټرويوګانې)
- ګېډۍ د ګلو (ادبي مضمونونه او مقالې)
- خلق به هر څۀ هر څۀ وائي (افسانې)
- په تا سلام حبيبه (نعتيه کلام)
- د باجوړ نه تر وزيرستانه (د خيبر پښتونخوا د قبائيلي سيمې د وسېدونکو تاريخي او کلتوري څېړنه)
- ښکلې دې وطن زما (د خيبر پښتونخوا د ټولو ضلعو د اوسېدونکو تاريخي او کلتوري څېړنه)
- تول پارسنګ (په ځينې چاپ شوؤ شعري مجموعو ليکلې شوې ادبي مقدمې[1])

پروفېسر محمد اسلام ارماني صېب ته د ادبي خدماتو په اعتراف کښې د مختلفو ټولنو او ادارو له خوا يو شمېر اعزازات او ايوارډونه ورکړې شوي دي چې دلته ئې ذکر کول ضروري ګڼم۔

- پاکستان رائټر ګلډ (پښتونخوا) ۱۹۸۳ء (دا کاڼي او کوڅې)
- مجلس فکر و ادب مردان ۱۹۸۳ء (داکاڼي اوکوڅې)

[1] ارماني ، محمداسلام ، پروفېسر ، اوس مازيګر پېغلې ګودر ته نۀ ځي ، يونيورسټي پبلشرز ، اپريل ۲۰۱۱ء ، مخ فلېپ

- ملاکنډ آرټس کونسل ملاکنډ ، ۲۰۰۰ء
  (یاران هېڅ نهٔ وائي)
- پښتون کلچر ایسوسي ایشن (رجسټرډ) اسلام آباد ، ۱۹۹۵ء ، (ادبي خدمات)
- پښتانهٔ ادبي ملګري (پام) بټخیله ، ۱۹۹۲ء
  (ادبي خدمات)
- مرستیال لیکوال (مل) ملاکنډ بټخیله ، ۲۰۰۸ء
  (ادبي خدمات)
- پاکستان ټیلیویژن پېښور مرکز علاقائي ایوارډ (پروګرام رودونه سرودونه) ۲۰۰۹ء (غوره شاعر)
- ملاکنډ پښتو ادبي ایوارډ ، ملاکنډ ډویژن ، ۲۰۱۱ء
  (ادبي خدمات)
- اولنے مخفي بابا ایوارډ ، دیر پښتو ادبي ټولنه کوز دیر ، ۲۰۱۱ء ، (ادبي خدمات)
- ,,پلوشه،، محمد اقبال اقبال ادبي ایوارډ (تنظیم تاجران مردان) ۲۰۱۱ء (ادبي خدمات)
- پت پښتو ادبي جرګه (رجسټرډ) مردان ، ادبي ایوارډ (ادبي خدمات [1])

[1] ارماني ، محمداسلام ، پروفېسر ، اوس مازیګر پېغلې ګودر ته نهٔ ځي ، یونیورسټي پبلشرز ، اپریل ۲۰۱۱ء ، مخ فلېپ

# رحمت شاه سائل

ترقي پسند او مزاحمتي ادب د جديد نړيوال ادب لويه برخه ده. بلکې د ترقي پسند مکتب فکر ښاغلو په باقاعده توګه ادب له يوه نوې لار ورکړه او ادب د ژوند دپاره نظريه ئې مخې ته راؤړه. ادب بغير د ژوند نه نهٔ شي تخليق کېدے په دې چې په ادب کښې د خپلې معاشرې او اولس د ژوند په حقله خبرې شاملې وي. هغه که د انساني ژوند د اقدارو وي که د مروجه نظام د خامو خرابو غندنه وي او که د استعماري قوتونو د ظلم او بربريت خلاف اواز وي. دا ټول د ترقي پسند ليکوالو د ليکونو مرکز او محور وي.

په پښتو ادب کښې هم ددې مکتب فکر د ليکوالو لويه برخه ده. چې پکښې ډېر درانهٔ نومونه زمونږ مخې ته دي په دغه درنو نومونو کښې يو پېژندلے نوم د ښاغلي رحمت شاه سائل هم دے. چې ددې مکتب فکر په حواله ددې دور د لوئے پېژندلي او مقبول شاعر په طور زمونږ د پښتو ادب د قدر وړ نوم دے.

پروفېسر شېر زمان سيماب ليکي:-

,, د خپل عصر نمائنده شاعر رحمت شاه سائل د درګۍ سره نزدې په ورتېر کلي کښې د امين ګل په کور کښې په کال ۱۹۴۳ء کښې سترګې غړولې دي ـ تعليم ترې په پرائمري کښې نيمګړے پاتې شو او د درزي توب پېشه ئې اختيار کړه ولې دې فطري شاعر نه کۀ هر څو تعليم نيمګړے پاتې شو خو د مطالعې شوق ئې ونۀ درېدو او د هغه خداداد صلاحيتونه لکه د نمر وځلېدل او د پښتو ادب د ډېرو لويو هستو په موجودګۍ کښې يو مقبول او معروف شاعر وګرځېدو [1] ،،

د سائل دننه شاعرانه صلاحيتونه داسې وو چې که هر څنګه حالات وو خو هغه رابرڅېره شول او خپل فکر ئې د شعر په ژبه اولس ته اورسوؤ ـ

موصوف د خپل دور او زمانې ديومنفرد شاعر په حېث خپل ځان څرګند کړو او د ترقي پسند او قوم پرست شاعر په حېث خلقو واورېدو هم او اوئې منو هم ـ

[1] سيماب ، شېر زمان ، په ملاکنډ کښې د پښتو غزل ارتقاء ، د ايم فل تحقيقي مقاله ، (ناچاپ)

د سائل صېب شعر د خپل اولس ترجماني اوکړه او د لويدلې طبقې د نمائندګۍ حق ئې ادا کړو ـ په خپل چاپېرچل کښې د تضاداتو په دې ډک نظام ئې د خپل فن په توره ګذارونه اوکړل او د جبر د نظام ئې ښهٔ په ښکاره غندنه اوکړه ـ هر څو که په دغه لار کښې ورته ډېر مشکلات او سختې هم پېښې شوې خو سائل صېب د ژوندي فکر ليکوال وو او هغه د ژوند قائل وو ـ هغهٔ خپل زېلي اولس له ژوند او د ژوند هغه ټولې رنګينۍ غوښتې کومې چې د اولس حق وي ـ په دغه لار هغهٔ د زندان تورې تيارې هم اوليدې او د استعماري نظام جبر جبر وختونه هم ولې هغهٔ ښهٔ په ډاګه وئيل چې :-

ظالم ته کهٔ ډېر ناز دے په دارونو په دامونو
په ظلم په وحشت په زولنو په زنځيرونو

زمونږ د ژوند پرستو لېونو فېصله داده
يا سر د تېغه تېر او يا معراج د ارمانونو[1]

1 سائل ، رحمت شاه ، د وير په چم کښې وار د نغمو دے ، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ، دانش خپرندويه ټولنه ، اتم ايډيشن ، جنوري ۲۰۱۲ء مخ ۴

سائل د اولس ترجمان وو او په اولس راغلې بده ورځ ئې نۀ شوه لېدے۔ ولې چې هغه ددغه ظلم نه باغي وو ۔ دغه نظام ئې نۀ منو د اولس سره جوخت ولاړ وو او د اولس د دردونو د ځېکو نه ئې نغمې جوړولې۔

د زړۀ درزا نه به نغمې د انقلاب جوړوم
ستا د ظلمونو د قيصو نه به کتاب جوړوم

حلالوي چې مې په پټه خولۀ په پڅو چړو
دغې نظام ته به د خپل ځان نه قصاب جوړوم[1]

سائل صېب د خپل انقلابي فکر په دغه غنې غنې لاره د تلو نه نۀ مايوسه کېدو او نۀ ستړے کېدو ۔ ځکه ئې وئيل چې :-

خپل منزل ته ځمه نۀ په تا يم نۀ په ځان يم
زۀ د انقلاب سندرې وايمه روان يم[2]

---

1 سائل ، رحمت شاه ، د وير په چم کښې وار د نغمو دے ، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ، دانش خپرندويه ټولنه ، اتم ايډيشن ، جنوري ۲۰۱۲ء مخ ۲۰

2 همدغه ، مخ ۲۱

ځکه چې هغۀ ليدل چې نن د وطن حالات څۀ دي ـ او دغه تصوير ئې داسې پېش کوؤ ـ

هرګل په وينو سور دے ګلستان په وينو سور دے
احساس لکه شهيد د هر انسان په وينو سور دے

قربان ددې سماج د سندريزې ارتقاء نه
زما پکښې لاهغسې ګرېوان په وينو سور دے[1]

سائل صيب د انقلاب علامت سپرلي ته راؤړو او د سپرلي د علامت نه ئې د انقلاب کار واخستو کوم چې د هغۀ د فنکارۍ يو بل تصوير وو ـ اولس ئې محبوب کړو او د حالاتو نه ئې د رقيب او غماز معنې اوويستې او په ادبي رنګ کښې ئې خپل ترقي پسند او قوم پرست فکر هم په هغه لار سم کړو په کومه چې مخکښې نېغ په نېغه روان وو ـ

مانه جانان غوښتې سپوروڅڼو له ګلونه پسرليه
چرته خو زمونږ کلي ته هم راپېښه اوکړه

---

1 سائل ، رحمت شاه ، د وير په چم کښې وار د نغمو دے ، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ، دانش خپرندويه ټولنه ، اتم ايډيشن ، جنوري ۲۰۱۲ء مخ ۲۲

دا يوه داسې علامتي سندره ده چې اولس واوؤريده او ددغه مکتب فکر خلقو ترې د خپل فکر خوند واخستو او موصوف په علامتي توګه د خپل انقلابي فکر خپرونه اوکړه۔

سائل صېب روماني خبرې هم کړي دي او د هغوي په شاعرۍ کښې دغه برخه هم ښۀ په زړۀ پورې ده ۔ولې په دغه برخه کښې ئې هم خپل انقلابي رنګ روڼ ښکاري۔

چا اوخندل خدايه چې مې خوږ زړۀ پرې تکور شو
وريت احساس مې ګل په خندا پاڼې پاڼې خور شو

ستاد ځوانوسترګو دخندا په سور سپرلي کښې هم
ژوند راته انګار شو زلميتوب راپورې اور شو

زړۀ مې د ے ستا لاسو کښې نظر پرې ساته پام کوه
اوبه مرم جانانه ! که دا جام درنه نسکور شو

ښۀ شوه رڼا ورځ چې په رقيب هم توره شپه شوله
ښۀ شوه چې راپورې ستا د پاکې مينې تور شو

چا شپېلۍ په څوکه د کوم غر په ژړېدو کړله
دا چې زلزله شوه دا د چا د زنځير شور شو

ستا د پښتنو سترګو دا لوئې ښکلې پښتون وطن
يه جانانه ! نۀ مې پکښې کور شو او نۀ ګور شو

جنګ شو تل مې جنګ شو د ظالمې زمانې سره
زۀ شومه تل زۀ شومه تل ظلم شو تل زور شو

دا زما پښتون عشق چې سبب د انقلاب نۀ شو
خپل احساس مې وژني خپل قلم راته پېغور شو[1]

+++

داسې الفت کومه داسې لېونتوب کوؤمه
د ګل په مينه د لمبې په څانګه خوب کوؤمه

---

[1] سائل ، رحمت شاه ، د وير په چم کښې وار د نغمو دے ، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ، دانش خپرندويه ټولنه ، اتم ايډيشن ، جنوري ۲۰۱۲ء مخ ۴۱

اخر زخمونه دې زرغون به شي ګلونه به شي
چې پکښې کر ستا د نظر د پېغلتوب کوؤمه

تاله به هم دا ستا ګرېوان کړمه تار تار وحشته
خو زۀ لا خپل کالۀ له غم د سرېتوب کوؤمه[1]

✦✦✦

خاورې شوم ایره شوم خو په لاس کښې مې ګل پاتې دے
دا دې په ما هسې جانانه بدل پاتې دے

لا مې پرې شیندلے د زړګي د وینو رنګ نۀ دے
لا د دلربا تصویر زما نه شل پاتې دے

ولې د حالاتو د اور سترګې شوې اوبۀ اوبۀ
لا خو په دې دشت کښې یو د سرو ګلو تل پات دے[2]

---

1 سائل ، رحمت شاه ، درد چې د څرېکو څانګې اوسپړدلې ، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ، دانش خپروندیه ټولنه ، اولنے ایډیشن ، جولائي ۱۹۹۹ء ، مخ ۱۲۷

2 سائل ، رحمت شاه ، د ښائستونو د سپرلي بادونه ، دانش خپرندویه ټولنه ، پنځم ایډیشن ، ۲۰۰۹ء ، مخ ۱۳۸

Pukhto.Net

د سائل صېب غزل هم د اعلی پایې غزل دے ـ د غزل بنیادي جوړښت او د الفاظو ترتیب ئې دومره موزون دے چې ثوک ئې د غزل په فن خبره کوي نو ځانله وخت غواړي ـ په دې چې سائل صېب د پښتو غزل په استاذانو کښې ځانله نوم لري او د هغوي غزل د پښتو د نمائنده غزل په توګه په نړیوال غزل کښې کېښودے کېدے شي ـ مجموعي طور ئې غزل د جدیدیت هغه ټول رنګونه رابرڅېره کړي کوم چې د روانو حالاتو نه اخستے شوي دي۔

سعدالله جان برق د دوئي د غزل په حواله لیکي :-

,,د سائل په غزل کښې چې کومه خبره ډېره واضحه ښکاري هغه دا چې ددهٔ غزل بالکل ځان له دے او خپل یو منفرد انداز لري۔ په دغه حواله زهٔ سائل یو مثالي شاعر ګڼم اکثر شاعران د چا تقلید کوي یا د چا اثر وي پرې او ډېر لوئے لوئے شاعران هم ددې نه نهٔ دي پاتې ـ زمونږ په دور کښې صرف دوه کسان زهٔ ګڼم چې خپل مثال په خپله دي۔ یو خاطر او بل سائل ـ د سائل انداز د سائل الفاظ ،د سائل تشبیهات ،

مطلب دا چې ددۀ د غـزل روح بالکل یو جدا طرز لري[1]،،

+++

مـونږه پـه خپلـه قتلولـو تـه جـذبې راوړو
چـې محفلونـو تـه د غېـرو ګلدسـتې راوړو

وطن خاموش ، جانان خفه ، مـازيګرے بې مینې
مـونږه سـندرو لـه د چرتـه نـه معنـې راوړو

ګرېوان پـه لاسو کښې سرې اوښکې پـه بربنډه سینه
نـورې د یـار سـترګو لـه څنګـه تماشـې راوړو

دلته خو هر سړے د ژوند دشمن د ګل قاتل دے
مـونږه دې دشـتو لـه د چـا پـه نـوم سـپرلے راوړو

پـه مـونږ ئې دا هـم پېـرزو نۀ شي راتـه سوزي خلق
مونږ چې پـه شونډو ګرد د خپل یار د کـوڅې راوړو

---

1 سائل ، رحمت شاه ، د لمبو پـه سوري ، دانش خپرندويه ټولنه ، مارچ ۲۰۰۲ء ، مخونه ۱۰ ، ۱۱

ســائله چیــږو بــه د زړهٔ د مــات ربــاب تارونــه
کــه د جانــان خاموشــو شــونډو لــه نغمــې راؤړو[1]

✦✦✦

چې ستا د مخ د خال خبرې خپل ارمان ته کوؤم
د زړهٔ پـه للمـه کـر د سـرو اوښـکو بـاران تـه کـوؤم

لکـه ګـلاب خپلـه قیصـه پـه وینـو وینـو شـونډو
په هر سپرلي کښې خامخا يو ځل جانان ته کوؤم

سـتا پـه جاګیر دننـه هـم پـه کلـي پـاتې نـهٔ شـوم
ځــان ورکوؤمــه لاړم کــډه بیابــان تــه کــوؤم

د سـربازۍ پـه جـذبو ډکـې شـوې د خیـال ادیـرې
زهٔ بـه تـر کـومې ګډیـدهٔ خوشـي مېـدان تـه کـوؤم

[1] سائل ، رحمت شاه ، تاله تصویر په ګلاب جوړ کړم که نه ؟ ، دانش کتابتون ، جون ۲۰۱۰ء ، مخ ۱۱۹

ستا بې ننګې وژلے نۀ يم رنځولے ئې يم
چې ستا دعا راته يادېږي ښيرې ځان ته کوؤم

څۀ د ستم د بې وسې په ورځ پېدا ئې مينې
زۀ په خطا ګناه د زړۀ د ګل ګريوان ته کوؤم

د زړۀ کتاب لولمه ټوله ټوله شپه روڼوؤم
زۀ تياري د جانان نوي امتحان ته کوؤم[1]

سائل صېب د نظم په حواله هم د پښتو د لويو شاعرانو په صف کښې ولاړ دے ـ د هغوي غزل چې څنګ د حالاتو ترجمان دے داسې ئې نظم هم د خپل دور د ترجمان فرائض پوره کوي او داسې نظمونه ئې تخليق کړي دي چې هغه د نړيوال ادب درنه برخه ده او پښتو ادب به پرې تل عمري وياړ کولے شي ـ د نمونې په ډول ئې دلته ,, سپوږمۍ ،، نومې نظم وړاندې کوم ـ

## سپوږمۍ

لکه چې څوک د چا قيدي جانان ديدن ته راشي
او په سيخونو کښې زير زير ګوري يو بل ته خاندي

---

1 سائل ، رحمت شاه ، دړد چې د څريکو څانګې اوسپړدلې ، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ، دانش خپرندويه ټولنه ، اولنے ايډيشن ، جولائي ۱۹۹۹ء ، مخونه ۲۸ ، ۲۹

یـا د ځـوانۍ پـه وخـت د ژونـد سـپېړو دوه زېلـې
د مشترک دړد ویښو څړیکو کښې منزل ته خاندي

یـا لکـه دوه خـوارۀ مئـین د غېـر غمـاز د یـرې
خبـرې زر زر لنـډې لنـډې نیمـې نیمـې کـوي
په درنګ ساعت کښې د بېلتون د ستغ اواز له غمه
سـترګې حملـې کـوي چکونـه پـه یـو بـل لګـوي

یـا لکـه خوشـي بیابـان کښـې آدم پـروت پـه ربـاب
چې په نغمو کښې داسې ورک وي چې دنیا نۀ ویني
او ناسـاپې شـوک د ربـاب تارونـه ټـول اونیسـي
چـې سـترګې اوغـړوي ځـان سـره دُرخـو اووینـي

هـم داسـې زۀ چـې د ژونـدون د محبوبـا د غمـه
پـه فکـر ډوب وومـه د خـوږ وطـن تراخـۀ مـې ژړل
د خپـل زړګـي پـه ورانـو ورانـو کنډرونو کښـې مـې
پـه مینـه مینـه څـۀ غمونـه د ژونـدون چڼـوؤل

داسې سپوږمۍ نن د زندان په تکه توره شپه کښې
رڼـا رڼـا شـوه پـه سـیخونو کښـې راننوتـه

د يــو دردمنـــې وفــاداري محبوبــا پــه رنګـــې
ددغـــې خـــوږ زړګـــي زخمونـــو کښـــې راننوتـــه

د شــپې ګوګـل کښـې دا ښائسـت او دا رڼـا او مينـه
د زنـدان لـومې کښـې دا نـور او دا خنـدا او مينـه
دا ډوبـول پــه پلوشــو کښــې دا وفــا او مينــه
دا مســيحا مســيحا ســترګو کښــې ادا او مينــه

لکـه چې څـوک د چـا قيـدي جانـان ديـدن تـه راشـي
او په سيخونو کښې زير زير ګوري يو بل ته خاندي
يــا د ځــوانۍ پــه وخـت د ژونـد سـپېرو دوه زړلـې
د مشترک درد ويښو ځړيکو کښې منزل ته خاندي[1]

د سائل صېب د اعلى نظم ګويۍ شواهد د موصوف په يو شمېر کتـابونو کښې ځائے په ځائے لکـه د شوخو ملغلرو پرقنده په نظر راځي- چې پکښې يو نظم ,, د مور په نوم ،، چې د دوئي د داخلي او خارجي احساساتو د امتزاج سره سره يو

[1] سائل ، رحمت شاه ، د ښائستونو د سپرلي بادونه ، دانش خپرندويه ټولنه ، جنوري ۲۰۰۹ء ، مخونه ۴۰ تا ۴۲

علامتـي نظم دے ـ ددې نـه وړانـدې چـې دغـه نظـم د خپلـو لوستونکو دپاره وړاندې کړم په دې حواله ښـاغلے قمر راهي صيب ليکي :-

,, سـائل د ضـبط او برداشـت د مرحلـې نـه ډېـر پـه سـرخرويۍ راتېـر شـوے دے ـ د جېـل سـختو او د ژوند ناکړدو هغـهٔ کښـې بې مثاله پختګي راوستې ده ـ ددې ثبـوت د هغـهٔ هاغـه آفـاقي نظـم دے چې هغـهٔ د هريپـور پـه بنـدي خانـه کښـې د مـور پـه نـوم ليکلے دے ـ دا نظم دومره مؤثر او مکمل دے چې سـائل پـرې پـه ځـائے نيـازيـد ے شـي ـ دې کښـې د اولس سره د کلک تړون اظهار په داسې فنکارانـه طريقه شوے دے چې نهٔ پکښې نعره بازي شـته او نهٔ څهٔ تلخـي او ابهـام ـ دې نظـم کښـې د مـور مينـه داولس د مينې سره داسې اخلې شوې ده چې مـور اولس ښکاري او اولس مور[1] ،،

د مـور پـه نـوم

مـــورې خـــوږې مـــورې زهٔ مـــنم ســـتانازولے يـــم
تــا لکــه ککــۍ پخپلــو ســترګو کښـــې ســاتلے يـــم
تــل دې لکــه ګــل پــه خپلــه غېــږ کښـــې غــوړولے يـم

1 سائل ، رحمت شاه ، د ښائستونو د سپرلي بادونه ، دانش خپرندويه ټولنه ، جنوري ۲۰۰۹ء ، مخ ۱۰

ځـــان دې ژړولـــې دې خـــو زۀ دې خنـــدولے يـــم

تاتـــه کـــۀ دا تهولـــه دنيـــا بـــې زمانـــه درکـــړي ځـــوک
تـۀ بـه ئـې قسـم دے چـې لـوګے کـړې زمـا سـترګو تـه
مـــورې ســـتا د مينـــې انتهـــا ماتـــه معلومـــه ده
مـا رڼـا چـې نـۀ وينـې تيـارۀ وي د تـا سـترګو تـه

تـل دې لکـه ګـل پخپلـه غېـږ کښـې غـوړولے يـم
کلـه دې پـه زړۀ کلـه پـه سـترګو کښـې سـاتلے يـم
مـــورې خـــوږې مـــورې زۀ دې داســـې نـــازولے يـــم
تـــل دې پـــه ښـــو کښـــې لوبـــولے ځنګـــولے يـــم

مـنم تـۀ بـه مـا پـه زولنـو کښـې ليـدے نـۀ شـې خـو
زړۀ چـې دې تـق نـۀ چـوي لکـه ماتـه انتظـار کـوې
مورې خوږې مـورې سـتا عظمـت تـه مـې سـلام مـورې
تـۀ مـا سـره مينـه کـۀ د مينـې يـو ناتـار کـوې

مـورې د تمـام جهـان خـوارۀ کـۀ مالـه راکـړي څـوک
سـتا د يـو خـوارۀ مـئـين نظـر نـه بـه ئـې ځـار کـړمـه

دا دنیا کۀ تیوله څوک زما پـه لاس کښې واچـوي
مـورې خـورم قسـم چې ستا د سره بـه ئې ځار کړمـه

ستا د نـوم خـواږۀ زمـا د ذهـن نـه د تلـو نـۀ دي
مـا خـو مـورې ستا نـه د خپـل ځان سبق وئیلے دے
واړه کتابونـه د جهـان بـه درنـه ځـار کړمـه
مـا خـو مـورې ستا نـه د جهـان سبق وئـیلے دے

مـورې کلـه ستا زړۀ د نظـره غـورزولے شـم
تـۀ زمـا کعبـه ئـې اخـر څنـګ دې هیـرولے شـم

مـورې زۀ زلمـے یمـه ژونـدے یمـه ژوندون کـوم
لږ مې د ژوندون په دغه دشت کښې زغـل تـه پرېږدوه
ځمـه جـوړوم لارې د میـنـې بهـارونو تـه
مـورې اجـازت راکـه مـا لـږ مـزل تـه پرېږدوه

ستا د زړۀ ټوټـه یـم د جانـان د ښـې ګـل یمـه
صرف ستا بچے نـۀ یـم د ټـول اولـس سـائل یمـه[1]

1 سائل ، رحمت شاه ، د ښائستونو د سپرلي بادونه ، دانش خپرندویه ټولنه ، جنوري ۲۰۰۹ء ، مخونه ۲۱ تا ۲۳

د سائل سندره هم پښتنه سندره ده ـ د حجرې د رباب منګي سندره ، د پېغلو د ګودر او زلمو د دامان او شولګر سندره ـ ولې هغه روايتي سندره ئې د نوي فکر د خپرونې ذريعه اوګرځوله ـ نوے خوند نوے رنګ نوے ترنګ او نوے اهنګ د سائل د سندرې پېژندګلو ده ـ او کمال دا دے چې په دغه نوي رنګ دا نوې سندره هم د اولس زړۀ ته کوزه شوه ـ په دې چې لکه د نورو شعري اصنافو ئې سندره هم د خپل اولس او خپل چاپېرچل ترجمانه کړه ـ

سندره

وختـه د خدائے دپاره ،زما د سر د تيتولو فيصله مۀ کوه
اخر پښتون يمه زۀ
درته منت کومه، د يو غلام غوندې سلوک ما سره مه کوه
اخر پښتون يمه زۀ

وخت به زما د بې وسۍ وي ، پوهيږمه زۀ
ښار به مې لوټ د زندګۍ وي، پوهيږمه زۀ
قحط به په ما د خوشحالۍ وي ، پوهيږمه زه
پوهيږم زۀ، په ماګمان ګورې د مړ ذره بره مۀ کوه
اخر پښتون يمه زۀ

زما د قام ګرېوان تار تار دے، دا هم منمه
تالاوالامې خپل ګلزار دے ، دا هم منمه
خپل مسیحا راته بیمار دے، دا هم منمه
دا هم منم، خو دومره سترګې سیزل هم ښۀ نۀ دي نه مه کوه
اخر پښتون یمه زۀ

ما د هر وخت مغل لیدلي ، نانجانه نۀ یم
ما د هر دور زور زغملے ، نانجانه نۀ یم
ما خپل مبهم تاریخ ژړلے ، نانجانه نۀ یم
ناجانه نۀ یم ، ماته زما د زړۀ د هر زخم قیصه مۀ کوه
اخر پښتون یمه زۀ

زۀ که توکیږم که رژیږم ، ژوندے به یمه
که تالاکیږم که لوټ کیږم ، ژوندے به یمه
زۀ که زیریږم که ورکیږم ، ژوندے به یمه
ژوندے به یمه ، تۀ مې د مړ په سیر د ځلي تماشه مۀ کوه
اخر پښتون یمه زۀ

زۀ به مې مړ ژوند ته اواز شم ، بیدار به ئې کړم
زۀ به سندره زۀ به پرواز شم ، بیدار به ئې کړم

زۀ به ئې کړم ، زۀ به کړم ويښه خپل منزل ته قافله مه کوه
اخر پښتون يمه زۀ

زۀ پريوتے زۀ پاڅيدے شم ، ژوندون پېژنم
په مات وزر هم الوتے شم ، ژوندون پېژنم
زۀ په ژړا کښې خنديدے شم ، ژوندون پېژنم
ژوندون پېژنم،زۀ به دې ماته کړمه غرونه شپه مۀ کوه
اخر پښتون يمه زۀ[1]

ډاکټر خالق زيار صېب ليکي :-

,, لفظونه د خيال جامه ده او سائل هاغه ټېلر دے چې هم ددې وخت د فېشن نه خبر دے او هم ددې جامې د مزاج سره پوره پوره اشنائي لري ۔ هغه هر لفظ داسې په صحيح ځائے ږدي چې سړے ورته حېران پاتې کيږي او هم دا وجه ده چې د رحمان بابا د وينا برعکس د هغۀ هرشعر انتخاب دے[2]، ،

ډاکټر اسرار صېب ئې د فکر و فن په حواله په دې ډول رقمطراز دے۔

---

1 سائل ، رحمت شاه ، تاله تصوير په ګلاب جوړ کړم که نا ؟ ، دانش کتابتون ، جون ۲۰۱۰ء ، مخونه ۳۰ تا ۳۲

2 همدغه ، مخ ۹

,, د سائل د شاعرۍ هر کتاب د رنګا رنګ ګلونو باغ وي - چې بنده يو ځل په دې باغ ورګډ شي نو د ګلونو په رنګونو ، ښائستونو او خوشبويو کښې داسې ورک شي چې بيا نۀ پوهيږي چې کوم ګل ته اوګورم د کوم ګل د ښائست نه د نظر جولۍ راډکه کړم - او د کوم ګل په خوشبويۍ خپل دماغ معطر کړم - - - - - وروسته ليکي - - - - سائل پرون هم انقلابي وو - سائل نن هم انقلابي دے - سائل پرون هم بدلون غوښتو ، سائل نن هم بدلون غواړي - سائل پرون هم ترقي پسند ؤ سائل نن هم ترقي پسند دے - سائل پرون هم قام پرست ؤ ، سائل نن هم قام پرست دے - سائل پرون هم په لوړ انساني قدرونو مئين وو - سائل نن هم په دغه قدرونو مئين دے - سائل پرون هم په ښکلا مئين ؤ ، سائل نن هم په ښکلا مئين دے - سائل پرون هم د پښتون د آزادۍ ، خوشحالۍ او سوکالۍ خوبونه ليدل ، او نن ئې همويني ، سائل پرون هم د هر جابر ، فرعون ، هر قارون هر شداد خلاف اواز پورته کړے ؤ او نن ئې هم پورته کوي - سائل پرون هم د خپلو ژوبلو احساساتو

اظهار په غوڅه ژبه کوؤ نن ئې هم کوي ـ سائل پرون هم د درد مصور ؤ او سائل نن هم د درد مصور دے[1]،،

سائل صېب دا وخت د يوؤلس کتابونو مصنف دے ـ چې پکښې دا کتابونه شامل دي ـ

1. د وير په چم کښې وار د نغمو دے ـ
2. د لمبو په سېورې
3. د ښائستونو د سپرلي بادونه
4. د وينو رنګ په لمبو څنګه ښکاري
5. تاله تصوير په ګلاب جوړ کړم که نا ؟
6. درد چې د سرېکو څانګې اوسپړدلې
7. حالات چې اور وروي
8. د چينارونو نه لمبې اووتې
9. تا به په خپل تصوير کښې څوک ځايوي
10. زهٔ د خزان د پاڼې پاڼې سره اورژېدم
11. ستا خبرې د سندرو سرنامې دي
12. اخري سندره (افسانې)

---

[1] سائل ، رحمت شاه ، تابه په خپل تصوير کښې څوک ځايوي ؟ ، دانش خپرندويه ټولنه ، جولائي ۲۰۰۵ء ، مخونو ۲ ، ۱۳ ، ۱۴

ددې نه علاوه سائل صيب په يو شمېر کتابونو سريزې او ديباچې ليکلي دي چې د دوئي د نثر نګارۍ او تنقيدي شعور درنې ذخيرې دي .په مختلفو مجلو او ورځپاڼو کښې ئې تنقيدي مقالې د پښتو ادب په زړۀ پورې برخه ده.

دا وخت د پښتون رسالې د مدير په حېثيت د ژبې او قام خدمت کوي.

د خپلو درنو ادبي خدماتو په لړ کښې ورته د نورو ډېرو اعزازونو نه علاوه د حکومت پاکستان له خوا ,,تمغه برائے حسن کارکردګي ،، ورکړے شوې ده.

Pukhto.Net پښتو

# اباسين يوسفز

د ملاکنډ د نوم اورېدو سره د اورېدونکو ذهن ته د ښائستونو يوه سلسله رامخې ته شي .واؤرې واؤرې غرونه چينارونه ، ګودرونه او د ژوند د ښکلاګانو ټول رنګونه چې انساني ذهن ته سکون او آرام بخښي .ولې دې سره ددې نوم په شا د غېرت او مېړانې يو اوږد تاريخ هم رامخې ته کيږي .په دې چې ددې خاورې اولس د خپل ننګ او مېړانې بابونه هم رقم کړي چې د تاريخ يوه سپېڅلې برخه ده.

دير د ملاکنډ ډويژن يوه ګلورينه سيمه ده .چې ددې ځائې ساده باده اولس په ټول وطن کښې د خپل سپېڅلي کردار په حواله خپله پېژند ګلو لري.

ددغې ګلورينې سيمې کوز دير يو داسې ادبي شخصيت چې لر او بر پښتانه ئې پېژني .د اسلاميه کالج پوهنتون د پښتو څانګې چئرمېن د غورځنګونو شاعر پروفېسر اباسين يوسفزے چې د خپل سپېڅلي کردار په وجه په ټول پښتون وطن کښې د عام و خاص په زړونو کښې يو شان مقبول ترين شاعر او اديب دے.

موصوف د کوز دير د خان پور کلي د ملک برادر خان کره په کال ۱۹۶۲ ء کښې زېږېدلے دے . د دوئي خپل نوم مسلم شاه دے خو په خپل قلمي نوم ,,اباسين ،، چې څومره شهرت لري نو په ,,مسلم شاه ،، ئې پېژندګلو د نشت برابر ده .

اباسين صېب ابتدائي تعليم د خپل کلي د پرائمري سکول نه حاصل کړے دے . د دوئي د وينا تر مخه ,, چې په دغه وخت کښې زمونږ سکول غېر آباد وو . زمونږ د ناستې دپاره ټاټونه هم نۀ وو . مونږ به په شلېدلي بوجو ناسته کوله* .

په کال ۱۹۷۷ ء کښې محترم اباسين يوسفزے صېب د شاعرۍ په مېدان کښې قدم اېښے دے چې په هغه وخت کښې به د دوئي والد صېب له د پښتو اکېډيمۍ مياشتنۍ رساله ,, پښتو ،، په باقاعدګۍ سره راتله . موصوف به دغه رساله ډېره په شوق سره لوستله . هم دغې رسالې د دوئي په وينه کښې ادبي غورځنګ له توان او فکر له د الوت وزرې ورکړې او شعرونه وئيل او ليکل ئې شروع کړل .

دوئي په کال ۱۹۸۰ ء کښې د خپل کلي د هائي سکول خان پور نه د لسم جماعت امتحان په ښو نمبرو پاس کړو . په کال ۱۹۸۲ ء کښې ئې د اسلاميه کالج پېښور نه د دولسم جماعت سند ترلاسه کړو او په کال ۱۹۸۴ ء کښې ئې د

---

* د يو ملاقات په موقع

ځوارلسم په امتحان کښې د ټولې صوبې په سطح درېم پوزیشن واخستو. په کال ۱۹۸۲ء کښې ئې د خېبر لا کالج پېښور نه د وکالت ډګري حاصله کړه. په ۱۹۸۸ء کښې ئې د پېښور پوهنتون د پښتو څانګې نه د ایم اے پښتو امتحان په ښۀ نمبرو پاس کړو. څۀ موده ئې په سټېټ لائف انشورنس کښې روزګار وکړو. هلته د سېلز منیجرۍ نه پس ئې په ورځپاڼه ,, هېواد ،، کښې د نائب مدیر په حېث څۀ موده وظیفه ترسره کړه او هم دغه شان ورته په کال ۱۹۹۳ء کښې په اسلامیه کالج پېښور کښې د درس و تدریس کار ورپه غاړې شو چې تر نن ورځې پورې د قام د زلمو په علمي وده کښې خپل خدمات ترسره کوي.

د ملاکنډ د ګلورینې سیمې دا خوش مزاجه او خوش شکله شخصیت د خپلې اعلٰی شاعرۍ او اعلٰی کردار په وجه د لر او بر پښتون وطن د اولس په زړونو راج کوي.

بخت روان عمر خېل لیکي :-

,, اباسین یوسفزے هغه زلمے شاعر دے چې د کلام سره سره ورله خدائے داسې شخصیت ورکړے دے چې په ورمبي نظر د سړي زړۀ ته پرېوزي. کۀ د اباسین شاعري مونږ یو اړخ ته کړو او د هغۀ په عام ژوند نظر واچوؤ نو لکه څۀ رنګه چې د اباسین د نامې اوربدو سره د سړي په زړۀ

کښې يو لطيف احساس راپېدا کيږي هم دغسې
اباسين بذات خود د لطافت يوه روغه مجسمه ده.
دے د مينې او خلوص يو هغه بې پاياوه سمندر
دے چې حدونه ئې نۀ معلومېږي [1]،،

د ملاکنډ سيمه چې د فنکارانه ذوق د بېدارولو بلها فطرتي عناصر لري . ځکه خو وئيلے شي چې Winston Churchill په ۱۸۹۷ء کښې ددې ښکلاګانو په ترس کښې دا خبره کړې وه چې ددې سيمې هر انسان به شاعر وي.

او کله چې خبره د پښتو شاعرۍ د قدامت شي نو هم د ملاکنډ د ګلورينې سيمې د غرونو ذکر راځي . لکه جېنزانولډسن په خپل کتاب ,, سپوږمېه کړنګ وهه راخېژه ،، کښې ليکي.

سپوږمېه کړنګ وهه راخېژه
يار مې د ګلو لو کوي ګوتې ريبېنه

دا ټپه د شپې په وخت د غرونو په سر د جينکو د ګلونو د لو طرفته اشاره کوي. پښتنو کښې دغسې رسم نن سبا نشته . البته د ويد سره تړلي غټو مذهبي رسمونو کښې يو رسم د سوما د بوټي پحقله وۀ. دا هغه بوټے وۀ چې نشه لرونکے رس به

---

[1] عمر خېل بخت روان ,, زرغونه ،، مشموله ، غورځنګونه ، مصنف ، اباسين يوسفزے ، پښتو ادبي جرګه مردان ، شپږم چاپ ، مئی ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۷

تري نه وېستلے شئ او پېغلې به په خاص موقعو د مقدسو ګلونو د رېبلو او ګډا کولو دپاره د شپې په وخت هغه غرونو ته تلې چرته به چې دا بوټي راختئ ( پېدا کېدئ ) په بر سوات کښې يو غر دے چې مقامي خلق ئې ,, د جونو سر ،، په نوم يادوي - ماته وئيلې شوي دي چې ددغه غر په سر شايد اوس هم دا بوټي پېدا کيږي [1]-

په دې حواله پروفېسر محمد نواز طائر صېب ليکي :-

,, د خپل وخت يو لوئے مستشرق د ډنمارک ريورنډ جېنزانولډسن پادري وو - محقق ، عالم او مؤرخ - مونږ به کله کله د نصرانيت د ابدائي پېشرفتو او غورزو پرزو په تاريخ هم ورسره ايرې وهلې -

وروسته ليکي :- هغه په دغې ورځو کښې د منتخبو متلونو او ټپو په کار هم لاس پورې کړے وو - هر کله چې دا دواړه کارونه ما په خپله په لويه پيمانه کول په دې سبب به ئې د خپلې خوښې د ټپو او متلونو انتخاب هم زما په مېز د موجودې ذخيرې سره کولو او يوه ورځ چې ورته ما دا ټپه تېره کړه چې :

سپوږمۍ سر وهه راخېژه
يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبي نه

---

[1] په حواله د ,, روښانيان او پښتو ادب ،، ډاکټر يار محمد مغموم ، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي ، جدون پريس پېښور ، نومبر ۲۰۱۱ء ، مخونه ۲۵ ، ۲۲

او بيا مې ورته د ويدي اشلوکونو په پس منظر کښې ددې تشريح اوکړه او په بر سوات کښې د چنګاوسر هاغه د پېغلو جونو د اتڼونو د هاغې لرغونې دستورې ذکر مې ورته هم اوکړو نو ډېر پرې خوشحاله شو. بيا کله چې په خپله ئې هم دا خبره تحقيق کړه او تصديق ته ئې اورسوله نو په خپل هغې مجوزه کتاب باندې ئې هم ,, سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه ،، نوم کېښودو[1].

د ښاغلي جېنز انولډسن د پورته ذکر شوې خبرې سره ځنې پښتانهٔ محققين هم اتفاق لري او د پښتو ټپې قدامت د هندوانو د مذهبي کتابونو دور ته رسوي او رشته ئې د سلوکا سره تړي.

ددې پورتنې اقتباساتو نه زما مراد د ملاکنډ په سيمه کښې د فطرت د بېش بها رنګا رنګۍ نه دے چې په انساني فطرت کښې د تخليق ذوق او شوق رالږزوي او که نن هم مونږ په دغه سيمه د ګندهارا تهذيب نخښې نښانې وينو چې ددغې تهذيب هنر مندانو به د خپل ناليدلي محبوب تصوراتي شبيهونه د ګټو نه تراشل نو ددغې صنم ګرانو د تخليق بنيادي عنصر هم ددغې سيمې دغه فطرتي ښکلا ده.

1 طائر، پروفېسر محمد نواز ، د ادب تراش دوېمه برخه ادب ساز ، د خېبر پښتونخوا د ثقافت محکمه ، نورالله کتوزي پرنټرز ، ۲۰۱۰ء ، مخونه ۴۳۸ تا ۴۴۰

پروفېسر اباسين يوسفزے صېب هم د دغې سيمې د فطرت د ښکلاګانو په غېږ کښې سترګې غړولي دي .په دې رنګا رنګۍ کښې ئې خړپوسې وهلي دي. ځکه خو د موصوف په شاعرۍ کښې ځائے په ځائے د فطرت نګارۍ رنګونه په نظر راځي .او د موصوف د شاعرۍ اصل روح هم دغه د فطرت رنګا رنګي ده.

✦✦✦

شړشمو ورته نوستې ککرۍ خورې ورې
غانټول ورته نيولې دي چاچۍ خورې ورې

سايه چرته کښې نشته د دېوال درشمه ځنګ
په چم کښې رڼاګانې د سپوږمۍ خورې ورې

چينو ته لارې بندي ګودرونه شو تول شاړ
توکړي تلميرې د خوږ په ژۍ خورې ورې

زړګے مې ستا د شونډو په تکور باندې راتول
په ژوند مې ستا د زلفو پرېوتۍ خورې ورې[1]

1 اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء ، مخونه ۱۲۹ ، ۱۷۰

+++

خوړونــه ، ونــې ، بــوټي د يخنــۍ ځلــو زېلــي
پــه هــر ځــۀ کښــې ســاه راشــي پــه يــو دم د پسرلي

په لاره کښې منګي پـه سر ، غـانټول راشـوکوي
خــوارۀ ئــې وي پــه مــخ رنګونــه ســم د پســرلي

زمــا د کلــي جونــه ځــي ، پــه ســېل د ورشــوګانو
پــه دشــتو کښــې ګــل شــوي دي شرشــم د پســرلي

جانــان لــه بــه غنچــک د ســرو ګلونــو ورلېــږم
خبـــر بـــه اباســـينه ! زۀ راؤړم د پســـرلي[1]

+++

د غرۀ لمـن کښـې پـه کاړزنـه لار د خوړ پـه غـاړه
چې زمـا زړۀ پـرې اوبـۀ ځښـلې هغـه کـور نشـته

[1] اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۹۵

د بـڼ رنګونـه ماديـت پـه بـې دردۍ اوتـروړل
هغـه ميلـې چرتـه کښـې لاړې هغـه شـور نشـته[1]

+++

بـلا خـوږ ژبـي بلـبلان بـه چغېـدل دلتـه کښـې
پـه ملاکنـډ او تـاتره کښـې خاموشـي ولـې ده

د غـرۀ لمنـې نـه اواز د شـپېلۍ نـۀ راخېـژي
زمونږ د کلـي پـه حجره کښـې خاموشـي ولـې ده

د بـڼ د ډاګـې نـه اواز قـدر لـه نـۀ راؤځـي
اوس پـه اختر او ادينه کښـې خاموشـي ولـې ده

د پېغلـو شـور او د جېسـو کړنګـارے نـه اورمـه
د هر يو کلـي پـه چينـه کښـې خاموشـي ولـې ده[2]

---

1 اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۹۱

2 همدغه ، مخ ۱۷۲

✦✦✦

دوران چې غوځ کړم په ځيګر نو يو په لس خور شوم
د خپــل ارمــان پــه اديــره لکــه نــرګس خــور شــوم

ســتا دنګــې غــاړې ژبــه راکــړه نــو ټپــه ټپــه شــوم
ګـودر تـه لاړم پـه حجـره کښـې پـه مئـيلس خـور شـوم

ځـان مـې د نمـر شـغلو تـه ونيـوۀ خـو تـۀ مـې ګـل کـړې
لکـه د پرخـې دې پـه غېـږه کښـې تـس نـس خـور شـوم[1]

شمس القمر اند ېش صيب ليکي :-

,, اباسين هغه ټول مضـامين د خپـل قلـم لانـدې راوسـتي دي کـوم چـې هغـۀ تـه د هغـه وخـت ، عصر حلاتو او چاپېريـال د لـورې راپېښ دي او کوم چې د يو ښۀ ساهو او ژونـدي ادب د ابـادۍ خته لوټه او ګټه چونه ده ، هغه د خپلې خاورې ورمې د خپل فکر په رنګونو کښـې اخښـلې دي

[1] اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء ، مخ ۸۰

او فني تصويرونه ئې ترې جوړ کړي دي ـ په شعر کښې ئې د مئين او زلمي زړۀ ساز او د اولسي ژوند د احساس دړدېدلے آواز دواړه په خپل خپل ځائے داسې رنګونه دي چې زمونږ ادبي ثقافت په کښې هم خاندي هم ځلېږي او پړقېږي[1]،،

بخت روان عمر خېل صېب ليکي :-

,, ددۀ د شاعرۍ بله سپېځلې او درنه برخه د حسن و جمال او فطرت پسندۍ عکاسي کوي او داسې ښکاري چې دے فطرتاً يو حسن پرست شاعر دے او ولې به نۀ وي ـ دۀ چې په کومه ورشو کښې سترګې پرانستې دي هغه د فطرتي حُسن يوه بې پاياوه خزانه ده ـ د ملاکنډ روماني دره چې د ښائست ثاني ئې د حميد بابا په قول نۀ په هند او نۀ په بنګاله کښې موندے شي ـ ظاهره ده چې دغه رنګونه به ددۀ ذهن او زړۀ خامخا خوارۀ وي ـ

1 انديش شمس القمر ,, د اباسين غورځنګ ،، مشموله ، غورځنګونه مخ ١١

يو ځل چې څوک د ملاکنډ د سينې پې اوروي
مريض د حُسن شي بيابې له سواته نۀ جوړېږي[1]،،

د شعر عظمت مسلم دے ـ او ښاغلي اباسين صېب د شعر د عظمت په علمبردارانو کښې منلے شوے او ستائيلے شوے مقام لري ـ موصوف خپلې قامي تولنې ته د خپلې ژبې په وساطت خپله پوهه ورمنتقل کول غواړي او خپل اولس د قومي وحدت سره سره د امن او سوکالۍ په لور د کردار لوبولو دپاره د چمتو کولو هڅې هم کوي او هم دغه د دوئي د شاعرانه عظمت ښکارندوئي دهـ

+++

د رب دپاره پښتنو ځانونه اوپېژني
ستاسو دپاره خو به ځانله پيغمبر نۀ راځي[2]

+++

زما اولس په مرګي حال دے اخر څۀ به کېږي ؟
نن بيا آغاز د نوي کال دے اخر څۀ به کېږي ؟

1 عمرخېل بخت روان ، ,,زرغونه،، مشموله ،غورځنګونه ، مخ ۲۱
2 اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء ، مخ ۳۳

په تول وطن د غل باچا داسې بازي ګرمه ده
غل د باچا نه هم خوشحال دے اخر څۀ به کيږي ؟

لږ د نشو له خوبه پاڅئ ستر ګې وغړوئ
ځوانانو ! تاسو ته مې سوال دے اخر څۀ به کيږي ؟[1]

✦✦✦

اے بدبخته پښتون قامه
اے په زړۀ ذهن غلامه
دا صدئ هم درنه لاړه
د خپل کور خېرونه غواړه
ستا زړګے وچوه پښتونه
زړۀ مې چاؤدے دے له تانه
خوئي خصلت دې د غلام دے
نشه زياته د باچا نه

---

چې څۀ وشو ښه خبر ئې
اوس هم وخت درنه تېر نه دے

---

1 اباسين يوسفزے ، الوت ، حاجي حنيف اينډ سنز پرنټرز لاهور ، ۲۰۰۷ء ، مخونه ۱۲۸ ، ۱۲۹

ټوپـــک پرېـــږدئ قلـــم واخلـــئ
ننـــګ ټوپـــک ، غېـــرت قلـــم کـــړئ
د کتـــاب نـــه ځـــان خبـــر کـــړئ
د نصـــاب نـــه ځـــان خبـــر کـــړئ
مهذبـــــــه دنيـــــــا ګـــــــورئ
ده پـــــه کـــــوم ډګـــــر روانـــــه[1]

د اباسين صيب د کلام نه د قام پرستۍ خوږې ورمې هم راخېژي. د موصوف په شاعرۍ کښې لور په لور د قام د مينې رنګونه په نظر راځي. په خپله پښتنه خاوره دا ورک لېونے د خپل قام سره د مينې اظهار په خپل يو نظم ,, خپله خاوره،، کښې څۀ په دې ډول کوي.

## خپله خاوره

ځلور کونجه دنيا کښې په ما ګرانه ده دا زمکه
دا ځکه چې سلطانو کښې سلطانه ده دا زمکه

1 اباسين يوسفزے ، الوت ، حاجي حنيف اينډ سنز پرنټرز لاهور ، ۲۰۰۷ء ، مخ ۱۲۲

زمــــونږه د تـــړون مــــزي اومـــهٔ نـــهٔ دي پاخـــهٔ دي
زهٔ يمـــه ددې زمکـــې نـــه ، لــه مــا نــه ده دا زمکــه
دا هــم ده چــې بــې شــمېره ملغلـرې لـري تـل کښـې
دا نـــهٔ ده چـــې پــه تلــه کښـــې ارزانــه ده دا زمکــه

تيــارې کــه لــه هــر لــوري راخــورې شــي تــروږمے شــي
د ميانــدو پـــه دعـــا بانـــدې روښـــانه ده دا زمکـــه

دا خـــاوره زېـــږول بـــه هســـې ځـــان زهيـــرول وي
پــــه ټولـــو روحـــا نـــي خويونـــو خانـــه ده دا زمکـــه

رســـاله ســـکندره ، لـــه اورنګـــه تـــر فرنګـــه
پيـــاوړي پـــه تـــاريخ کښـــې را روانـــه ده دا زمکـــه

زهٔ هســـې پـــه شـــمله کښـــې د غـــاټول ګلونـــه نـــهٔ ږدم
راغلـــي مـــې بابـــا تـــه د بابـــا نـــه ده دا زمکـــه

سپوږمۍ او ستوري څۀ کړې چې دا نمر به ورله راؤړم
زړګي ته رانـزدې مـې لـه جانانـه ده دا زمکـه[1]

یا لکه دا :-

زر بـه پـه دې سـیمه د سـپرلو سـندرې واورې
اے د وطـن خـاورې ـــــ اے د وطـن خـاورې
ستـا د عظمتونـو ترانـې پـه لـر او بـر کښـې دي
نخښـې پـه خیبـر کښـې دي
ستا په اننګو کښې د سپرلي رنګونه تېل کوي
حسـن پکښـې سـېل کـوي
ځکـه مـې بـې تانـه پـه بـل چـا زړۀ راتـولېږي نـه
سـترګې مـې مړیـږي نـه
سـتا هـره ذره مـې پـه سـینه پـورې نیـولې ده
غېـږه مـې پـرې ښـکلې ده
ستا په تورو تورو غرونو سپینې سپینې واؤرې
اے د وطـن خـاورې ـــــ اے د وطـن خـاورې[2]

1 اباسین یوسفزے ، الوت ، حاجي حنیف اینډ سنز پرنټرز لاهور ، ۲۰۰۷ء ، مخونه ۷۲ ، ۷۷

2 اباسین یوسفزے ، الوت ، حاجي حنیف اینډ سنز پرنټرز لاهور ، ۲۰۰۷ء ، مخ ۲۴۲

اباسين يو داسې خوش مزاجه شخصيت دے ـ چې د هغوي د ژوند هره لمحه د مينې ، اخلاص او رورولۍ ننداره وړاندې کوي ـ او په هر حالت کښې د مينې اظهار د هغوي د شعر مرکز او محور دے ـ موصوف مينه د تمام انسانيت دپاره د امن ، سوکالۍ او خوشحالۍ بنيادي عنصر ګڼي ـ

+++

محبـــت د کائنـــات د وجـــود ســـاه ده
محبـــت خـــو د فطـــرت د زړۀ ټکـــور دے[1]

+++

د نفـــرت د کلـــي واړه فســـادونه
محبـــت د زړۀ نـــه هـــره بـــلا وژنـــي[2]

+++

---

1 اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء ، مخ ۱۷۷

2 همدغه ، مخ ۱۱۰

چې محبت د زړۀ قفس ته راشي
لکه په مړي کښې چې ساه پرېوځي[1]

+++

لېوني تل په محبت سمېږي
قاضي ته وايه چې په دار نۀ کيږي[2]

+++

لکه د خوبه چې بېدار شي سړے
مينه چې وکړي نو هوښيار شي سړے

د ژوند خوندونه ټول په مينه کښې دي
چې محبت نۀ کوي خوار شي سړے [3]

+++

1 همدغه ، مخ ۱۰۳
2 اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء، مخ ۹۲
3 همدغه ، مخ ۹۱

د اوښـکې ليکـه چې د چا پـه اننګـي لاړه شـي
لکـه تېـره تـوره مـې نېغـه پـه زړګـي لاړه شـي

بې مينې ژوند راتـه څۀ داسې بې نمکه ښکاري
لکـه د کلـي د ملـک نـه چې خـاني لاړه شـي

نفـرت زمـا د کلـي خلـق پـه سينو کښې سـاتي
د محبــت خبــره څنګــه تــر زړګــي لاړه شــي[1]

✦✦✦

لويـه خدايـه دا زړګـے مـې دومـره ډېـر شـوے
چې د هـر انسـان د درد نـه راچـاپېر شـوے

د نفـرت تخـم متـره شـوے پـه دنيـا کښې
محبــت د هــر زړګــي نــه رابرســېر شــوے

[1] اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئى ۲۰۰۸ء، مخونه ۷۰ ، ۷۱

د زړګــــو ټکـــورول مـــې وظيفـــه شـــوے
پرواه نشته دے که ځان هم رانه هېر شوے

محبـت مـې هـر مسـام خـولې خـولې کـړې
په رګ رګ کښې مې د وينو غوندې تېر شوے

پـه هـر ذهـن کښـې د امـن زرغونـه شـوے
فسـادونه د نـړۍ لـه مخـه زېـر شـوے
د زړپلـــو انســانانو وچـــې شــــونډې
د خلـوص د اباسـين پـه اوبـو سـېر شـوے[1]

اباسين صيب يو رومان فکره غزلګو شاعر دے. د موصوف غزل که يو اړخ ته د عشق و محبت په کالو سينګار ښکاري نو هم دغه د عشق و محبت فلسفه ئې د ژوند دپاره د نظريې پـه ډول پـکار راوستې ده. او هغـه ټـول مضامين ئې پـه خپل غزل کښې راځائے کړي کوم چې د جديد غزل خاصه ده.

موصوف روزمره او محاوره پـه خپلـو اشعارو کښـې داسې په خوندناک ډول استعمال کړي چې په کلام کښې ئې د

[1] اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء، مخ ۲۲۱

اولسي رنګ سره سره معنوي خوارهٔ هم را ډاګې ته شوي او داسې ډېرې فني ځانګړنې د دوئي په غزل کښې موجود دي . چې د دوئي د اعلیٰ تخيل او ژور فکر و نظر غمازي کوي.
ښاغلے اکرام الله ګران صېب ليکي :-

,, اباسين ساهو نظريه لري او ددهٔ د خلوص سره به څوک هم اختلاف ونهٔ لري . د ے خپله نظريه په داسې ښکلي انداز کښې وړاندې کوي چې په چا بده نهٔ لګي . بلکې خوږه لګي . ددهٔ د غزل د انفراديت اندازه ددې نه لګي چې ددهٔ په شعر کښې نوي نوي خيالونه ،تشبيهات ، علامتونه او نور فني نزاکتونه په ډاګه ښکاري[1] .

په دې حواله اندېش شمس القمر صېب ليکي :-

,, اباسين د شعر ګڼ اصناف ازمائيلي دي . ولې هغه چې څهٔ وئيل غواړي او په کومه جذبه ئې غواړي د غزل په ژبه ئې ښهٔ وئيلے شي . د خپل خيال د اظهار دپاره د نوؤ نوؤ تشبيهاتو ، استعارو ، کنايو ،ترکيبونو او علامتونو په تلاش کښې دے . د ښو غاښور ، د زلفو پريوتې ، د شړشمو ککرې ، د غانټول چاچې

[1] ګران اکرام الله ، ,, اباسين بيلې بيلې ،، مشموله غورځنګونه ، مخ ۱۵

او داسې ګڼ شمېر شعري ترکيبونه او تشبيهات د اباسين غزل ته ځانګړتيا بخښلې او د اباسين مخصوص ستائل ئې جوړ کړے دے[1]،،

عاقل خان افريدے د اباسين صېب د غزل په حقله څۀ په دې ډول رقمطراز دے۔

،، يوه ورځ مونږ يو څو زلمو ملګرو حمزه بابا ته خپلې بې مقطې غزلې ليکلې ورکړې او تپوس مو ترې وکړو چې بابا؛ دا کلامونه د معيار په لحاظ څنګه دي ؟ او ستاسو څۀ خيال دے؟ هغوي ټولې غزلې ولوستې او د اباسين صېب کلام ئې ترې رابېل کړو ـ د حمزه بابا دا وينا زما ښۀ ياده چې هغوئي ووئيل ،، چې دا د يو استاذ شاعر غزل دے ،، د اباسين صېب د غزل دپاره د حمزه بابا دا خبره د ټولو نه لوئے حېثيت او سند دے چې اباسين صېب د غزل استاذ شاعر دے[2]،،

---

1 انديش شمس القمر ، ،، د اباسين غورځنګونه ،، مشموله ، غورځنګونه مخ ١٢

2 افريدے عاقل خان ،، د اباسين الوت ته يو الوتے نظر ،، مشموله ، الوت ، مصنف اباسين يوسفزے ، مخ ٧

په دغه مينه مې د زړۀ چرې باور نۀ راځي
هر ځلې کلکه وعده وکړي خو اکثر نۀ راځي

راته ئې ووئيل څۀ ډېر په ژړغوني اواز
نکريزې مۀ راؤړه دې کلي ته اختر نۀ راځي

زړګې مې خوږ دے په قلار شه سر مې مۀ خوږوه
نوي مئين لره واعظه عقل زر نۀ راځي

لکه غوړ اسکے مې د زړۀ په تيګه اوڅوکېدو
د محبت نه د خلاصوني رو ګودر نۀ راځي

پخوا چې وېشتے وم جانان د کشمالو په غنچه
څومره خوشبو به مې يارانو د پرهر نۀ راځي

ټول ارمانونه ترې نه ډېر په بې وسي توئېږي
د زړۀ کچکول پترې کومه خو مسګر نۀ راځي

د رب د پـــاره پښـــتنو ځانونـــه اوپېژنـــئ
ستاسـو د پـاره خـو بـه ځانلـه پیغمبـر نـۀ راځـي

د ذات جوهر مې منجمد شو په يو داسې کور کښې
چرتـه چې ټول عمر لـه سېورے وي او نمر نۀ راځي

د اباســين ارتــه ســينه ئــې ډېــر پــه مينــه زغمــي
ګنــي نــو کــومې مرحلــې زمــا پــه ســر نــۀ راځــي[1]

✦✦✦

څـوک د بغـاوت پـه سـزا قتـل کـړئ
څـوک د محبـت پـه ګنـاه قتـل کـړئ

چـــرې د يزيـــد ســـندرې نـــۀ وايـــم
څـو کـۀ د حسـېن غونـدې مـا قتـل کـړئ

1 اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء ، مخونه ۳۲ ، ۳۳

مونږ به پکښې هم د ګل ګزار وکړو
یو رقیب په مخکښې زما قتل کړئ

ځوک چې د ژوندون سندرې نۀ وائي
هر هغه شاعر او ملا قتل کړئ

جام ذرې ذرې کړئ چې نور نۀ ځکمه
یا مې د یار هره ادا قتل کړئ
راشئ چې د ځان په خوند مو پوهه کړو
ځئ کنه منصور خو ځوک بیا قتل کړئ

شابسې مغرب به مو ځۀ یاد لري
په پښتنو پېغلو حیا قتل کړئ

اورم چې د اور سوے په اور رغي
واړه مئینان په ښکلا قتل کړئ

ګـــوره د تيـــرو تقـــدس نـــهٔ منـــي
دغـــه اباســـين پـــه رڼـــا قتـــل کـــړئ[1]

که پروفېسر اباسين صېب يو پلو د جديد غزل د اعلٰی پايې شاعر دے نو بل پلو موصوف په نظم اوسندره کښې هم د خپل شعري فن اعلٰی نمونې رقم کړي دي۔
عاقل خان اپريدے ليکي :-

,, د ښاغلي ليکوال دا خبره دکمال ده چې په هر صـنف کښـې ئې د خيـال او فکـر پـه لحـاظ مختلف رنګوه دي۔ په غزل کښې ئې دخيالاتو، تفکراتـو او جـذباتو ډېـره برخـه رومـانوي ، جمالياتي او د انسانيت سره مينه محبت دے۔ په نظم کښې ئې په خيالاتو مثبت قام پرستي غالبـه دهٔ او پـه سـندره کښـې ئـې د پښـتون د معاشرتي ژوند ثقافتي رنګ غالب دے۔ هر يو نظم ئې په خپل ځائے يو شاهکار او پر مغز په هر يو نظم کښې ئې د خپل عنوان مطابق د خيالاتو جذباتو مطلب او معنٰی سره د الفاظو

[1] اباسين يوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء، مخونه ۱۱۳ ، ۱۱۴

برجستګي ډېره په ښکلې او فني طريقه برقرار ساتلې ده[1]،،

عاقل افريدے د اباسين صېب د سندرو او لوبو په حواله څۀ په دې ډول ليکي :-

,, د ښاغلي اباسين صېب په سندرو او لوبو کښې زمونږ د ثقافت هغه خواږۀ کېفيتونه موجود دي کوم چې په انساني ژوند کښې زړۀ ته خوشحالي ، روح ته تسکين او جذباتو ته قرار ورکوي ـ د خپل وطن بادونه ، سيندونه ، ورمې او ګلونه د باسين صېب د سندرو او لوبو زينت دے[2]،،

اباسين يوسفزے صېب چې څۀ رنګ يو ښۀ شاعر او اديب دے۔ دغه رنګ هغوي يو ښۀ انسان ښۀ دوست او ښۀ استاذ هم دے۔ چې څۀ هم وائي څۀ هم ليکي هغه د دوئي په ژوند کښې په عملي ډول ليدے شي۔ د موصوف د ژوند او فن په مينځ کښې ذره برابر هم تضاد په نظر نۀ راځي۔

---

1 افريدے عاقل خان ,, د اباسين الوت ته يو الوتے نظر ،، مشموله ، الوت ، مخ ۷

2 افريدے عاقل خان ,, د اباسين الوت ته يو الوتے نظر ،، مشموله ، الوت ، مخ ۱۴

که زما د شخصیت حدونه ګورې
زما فن زما د فکر ترجمان دے[1]

ددې شعر په شالید کښې چې ما څومره هم د پروفېسر اباسین صېب د ژوند او فن پلټنه کړې ده نو په دې دعوٰی کښې موصوف سل په سل ځان رښتینے ثابت کړے دے ۔ دغه وجه ده چې موصوف په ټول پښتون وطن کښې د مقبولیت او شهرت په لوړو بامونو د الوت ځانګونه ټېولي دي ۔ په نن دور کښې د هرې شعبې سره وابسته وګړي د دوئي د اعلٰی شخصیت او فني ځانګړتیا سندرې وائي۔

پښتونخوا دې د عظمت سندرې وائي
اباسینه سخنوره چې ته څوک ئې ؟[2]

---

1 اباسین یوسفزے ، غورځنګونه ، پښتو ادبي جرګه مردان ، مئی ۲۰۰۸ء ، مخ ، فلیپ
2 اباسین یوسفزے ، الوت ، حاجي حنیف اینډ سنز پرنټرز لاهور ، ۲۰۰۷ء ، مخ ۴۸

# کتابیات

## پښتو


1. اباسین یوسفزے ,,غورځنګونه،، پښتو ادبي جرګه مردان ، ۲۰۰۸ء
2. اباسین یوسفزے ، ,,الوت،، حاجي حنیف اینډ سنز پرنټرز لاهور ، ۲۰۰۷ء
3. اجمل ختټک ، ,, د غیرت چغه ،، یونیورسټي بک ایجنسي ، ۲۰۰۷ء
4. ارماني ، محمد اسلام ، ,, اوس ما زیګر پېغلې ګودر ته نۀ ځي ،، یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۱۱ء
5. ارماني ، محمد اسلام ، ,, خط مې راغلے د جانان دے ،، یونیورسټي بک ایجنسي ، اول اشاعت ، ۲۰۰۸ء
6. ارماني ، محمد اسلام ، ,, دا کاڼي او دا کوڅې ،، وحدت پرنټرز پېښور ، ۱۹۹۵ء
7. ارماني ، محمد اسلام ، ,, یاران هېڅ نۀ وائي ،، دانش کتابتون ، ۲۰۰۰ء
8. اعظم ، محمد اعظم، ډاکټر ، ,, جنون او ژوندون،،

اباسني پرنټنګ پرېس پېښور ، ۲۰۰۸ء
9. اقبال ، محمد اقبال ، ,, تلي پېرونه ،، اولسي ادبي ټولنه مردان ، تاج پرېس پېښور ، ۱۹۹۸ء
10. اقبال ، محمد اقبال ، ,, د لېواله محبت د رباب ترنګ،، اولسي ادبي ټولنه مردان ، ۱۹۹۹ء
11. اقبال ، محمد اقبال ، ,, قلمي نسخه ،، شاعري
12. اندېش شمس القمر ، ,, فخر افغان،، اولسي ادبي ټولنه مردان ، زرپانه پرنټرز مردان ، ۲۰۰۵ء
13. اندېش شمس القمر ، ,, قلمي نسخه ،، شاعري
14. بي بي مريم ، ,, د پښتو د نثر تاريخي او تنقيدي جائزه،، د ايم فل تحقيقي مقاله ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، ۱۹۸۲ء
15. خټک خوشحال خان ، کليات خوشحال ، مرتب دوست محمد خان کامل مومند ، ادارۀ اشاعت سرحد پېښور ، ۱۹۵۲ء
16. درمان علي خېل ، ,, د رڼا پلوشې ،، رڼا پښتو ادبي ټولنه ډهېرى اله ډهنډ ، عامر پرنټنګ ايجنسي پېښور، ۲۰۱۲ء
17. سائل ، رحمت شاه ، ,, تابه په خپل تصوير کښې څوک ځايوي ،، دانش خپرندويه ټولنه ، ۲۰۰۵ء
18. سائل ، رحمت شاه ، ,, تاله تصوير په ګلاب جوړ کړم که

نه ؟ ،، دانش کتابتون ، ۲۰۱۰ء
19. سائل ، رحمت شاه ، ,,د لمبو په سوري ،، دانش خپرندویه ټولنه ، څلورم چاپ ، ۲۰۰۲ء
20. سائل ، رحمت شاه ، ,,د ویر په چم کښې وار د نغمو دے ،، پښتو ادبي جرګه مردان ، دانش خپرندویه ټولنه اتم چاپ ، ۲۰۱۲ء
21. سائل ، رحمت شاه ، ,,د ښائستونو د سپرلي بادونه، ، داش خپرندویه ټولنه ، پنځم چاپ ، ۲۰۰۹ء
22. سائل ، رحمت شاه ، ,,درد چې د څریکو څانګې اوسپړدلې ،، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ، دانش خپرندویه ټولنه ، اولنے چاپ ، ۱۹۹۹ء
23. سیماب ، شېرزمان ، ,,په ملاکنډ کښې د پښتو غزل ارتقاء ،، د ایم فل تحقیقي مقاله ، ناچاپ
24. طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ,,ادب تراش ،، پښتو اکېډیمي ، جدون پرېس پېښور ، ۲۰۰۲ء
25. طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ,,خوبونه خپل کلي کښې ،، ۲۰۰۱ء
26. طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ,,د ادب تراش دویمه برخه ادب ساز ،، د ثقافت محکمه خیبر پښتونخوا ، نورالله کتوزي پرنټرز و ۲۰۱۰ء
27. طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ,,د بوډۍ ټال ،، جدون

پرېس پېښور ، ۲۰۱۲ء
28. طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ,,د ژوند سندره ،، جدون پرېس ، ۲۰۰۵ء
29. طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ,,روهي ادب ،، پښتو اکېډيمي ، جدون پرېس پېښور ، دويم چاپ ۱۹۸۲ء
30. طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ,,لنډي ګامونه ،، جدون پرېس پېښور ، ۲۰۰۹ء
31. طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ,,ورستے ديدن ،، جدون پرېس پېښور ، ۲۰۰۹ء
32. طائر ، محمد نواز ، پروفېسر ، ,,تپه او ژوند ،، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي ، غني سنز پرنټرز محله جنګي ، ۱۹۸۰ء
33. غمګين معيارے ، ,,قمر راهي فن او شخصيت ،، کوثر پرېس مردان ، ۱۹۹۲ء
34. قمر راهي ، ,,خېره ،، کوثر پرنټنګ پرېس مردان ، ۱۹۹۸ء
35. ګران ، اکرام الله ، ,,زما غزل ،، ملت ايجوکېشن پرنټرز لاهور ، دويم ايډيشن ، ۲۰۰۲ء
36. مسافر ، اخونزاده فرمان ، ,,ځلنده ستوري ،، حميديه پرېس پېښور ، اول اشاعت ، ۱۹۸۴ء
37. مغموم ، يار محمد ، ډاکټر ، ,,روښانيان او پښتو

ادب، ، پښتو اکېډيمي ، جدون پرېس پېښور، ۲۰۱۱ء

اردو

1. ایوب صابر ، " جدید پشتو ادب " شاہین برقی پریس پشاور ، بار اول ، ۱۹۷٤ء
2. طائر، محمد نواز، پروفیسر، "روہی ادب" اردو ترجمہ، سید صفدر علیشاہ، پشتو اکیڈیمی، ۱۹۸۷
3. غالب، "دیوان غالب" خزینہ علم وادب لاہور، باراول، ۲۰۰۱ء

رسالې

1. ,, پاخون ،، مردان معلوماتي او مشاورتي مرکز ، مئی جون ۲۰۰۷ء
2. ,, جرس نظم نمبر ،، جرس ادبي جرګه کراچی ، احمد پرنټنګ پرېس ناظم آباد کراچی ، جنوري ــ مارچ ۲۰۰۲ء
3. ,, جرس غزل نمبر ،، جرس ادبي جرګه کراچی ، احمد پرنټنګ پرېس ناظم آباد کراچی ، جولائي ـــ ستمبر ۱۹۹۲ء
4. ,, جرس ،، جرس ادبي جرګه کراچی ،، اپریل ــ جون

Pukhto.Net

۱۹۹۱ء

5. ,,ځلنده پښتو ،، ځلورمه ګڼه ، اعراف پرنټرز ، جولائي ـ اګست ، ۲۰۱۲ء
6. ,,دستار ،، پېښور ، جنوري ـــ فروري ۲۰۰۷ء
7. ,,ليکوال ،، مارچ ۲۰۱۱ء

# په دې کتاب کښې شامل شخصيات



قمر راهي



اجمل خټک



ډاکټر محمد اعظم اعظم



پروفيسر محمد نواز طائر



محمد اقبال اقبال



انديش شمس القمر



اکرام الله ګران



پروفيسر محمد اسلام ارماني



رحمت شاه سائل



پروفيسر اباسين يوسفزی

# د ليکوال نور آثار

**چاپ آثار:**

١. د رڼا پلوشې (تذکره)
٢. ورېښمنه ستوري (هم دا اثر)

**ناچاپه آثار:**

١. مياں الله داد "چشتي" (تحقيق)
٢. او رباب يانه په ويښو او لمبيده (تحقيق)
٣. په ملاکنډ کښې د پښتو افسانې ارتقاء (تحقيق او تنقيد)
٤. د احساس په آئينه کښې (شاعري)



## د اُردو ژبې ستر شاعر مرزا غالب وائي

ہیں کواکب کچھ نظر آتے ہیں کچھ
دیتے ہیں دھوکہ یہ بازیگر کھلا

ستوري چې په نظر څنګه راځي په اصل کښې داسې نه وي. ستوري د تيارې شپې داسې استاذې دي چې د مسافرو لپاره او د ورک منزلو لپاره د لارې او د منزل د تعين سوب ګرځي. د تورتمونو خلاف په خپله خاموشه ژبه کښې احتجاج کوي او د ورک منزلو لپاره د منزل د تعين او لار ښودلو نه وروسته د ورځې د رڼا په خوريدو په خاموشۍ سره خپل مخونه ونغاړي.

ډېر کم لاروي او د منزل لټونکي د دغه ستورو د ارزښت او زيار منته او يادونه کوي، چې په هغوی کښې يو ښاغلی درمان علي خېل هم دے چې په خپله ژبه کښې ئې د پښتو اديباتو د دغه ستورو منته او يادونه کړې ده. باور لرم چې د ښاغلي دا زيار به د لاروو او ورک منزلو لپاره "د رڼا پلوشې" او د منزل درک او ګرځي.

نقيب احمد جان
۱۸ ستمبر ۲۰۱۳ء